# شاه زمان او ټیپو سلطان

صفیه حلیم

د چاپ کال
۲۰۱۳ م

په ننګرهار کې د مومند خپرندویه ټولنه

د چاپ زیار
جعفر هاند

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندنه


۱. د بنګال نه تر اصفهان

۲. افغانستان او هند

۳. د میسور ریاست

۴. شاهي او شاه

۵. لیکونه او مسودې

۶. د ټیپو سلطان میراث

۷. د شاه زمان واک

۸. کډوال باچا

۹. د شاه زمان میراث

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندنه

اتلسمه پېړۍ پای ته رسېدونکې وه او په ۱۷۹۷ م کې د افغانستان شاه زمان دربار ته د سویل هند د یو وړوکې سلطنت میسوراستازي حاضر شول.
دوی د خپل واکمن ټیپوسلطان له خوا یو لیک او سوغاتونه راوړي و. هغه وخت بنګال د انګرېز په لاس کې او دکن په برخو وېشل شوی و. د لکهنو د شجاع الدوله او د انګرېز ګډو ځواکونو د اتر پردېش روهیله مات کړي او د شلو زرو شاو خوا پښتانه جنګیالي په ټول هند کې سرګردانه و. وړو ریاستونو د خپلواکۍ لپاره لاس او پښې وهلې چې انګرېزانو د تجارت په بهانه د خپلو وزرو لاندې اخیستل او دوی ته یې امتیازات او د ژغورنې ډاډ ورکو.
د برتانیا په شان فرانسې هم په هند کې خپله اغېزه زیاتوله او د پوځي مرستو په بهانه د دوی استازي به د حیدراباد نظام سره ناست و. مرهټو د مغلو سره روغه کړې او شاه عالم د دوی مشر ته د اګرې کلا پرېښې وه.
هغوی خپل ځانونه بیا راټول کړل او د ډیلي پر تخت یې سترګې ښخې کړې وې. سیکانو د ختیځ پنجاب لوی ښارونه نیولي او له افغانانو نه یې د لاهور د بیا نیولو هڅې کولې.
ټیپو سلطان په لمړي ځل د انګرېز سره په جنګ کې توغندي وکارول او په هغې سیمې کې د یو ځواک په توګه راڅرګند شو. ده د هند د لویې وچې نه د انګرېزانو د ویستلو لپاره نورو مسلمانو ملکونو ته د ملاتړ غږ وکړو. د افغانستان شاه زمان ته یې هم ولیکل چې هند د انګرېز د ښکېلاک نه وژغوري او ډیلي ته دې ځان ورشوي. شاه زمان ورسره ژمنه وکړه خو د لاهور نه وړاندې د تلو جوګه نه شو او د ده ټول پوځي ځواک چې انګرېزان هم ترېنه په ویره و، په افغانستان کې په خپل منځي جنګونو کې ختم شو.
د ټیپو سلطان مشر وزیر ورسره خیانت وکړو او د انګرېزانو نه یې پیسې واخیستې. ټیپو توره په لاس د جنګ په میدان کې شهید شو. اخوا شاه زمان هم کال وروسته له خپل مېره ورور نه ماتې وخوړه او پېښور ته په تېښته یوې کلا کې ایسار شو. ده سره هم یو ملا خیانت وکړو، مخالفو ته یې وسپارلو او د هغوی د لاسه په سترګو نابینا کړل شو. څه موده یوې او بلې خوا په تیښته و او بلاخره په لودیانه کې یې پناه واخیسته او د انګرېز د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پينشن خور- د تقاعد پيسي- په توګه يي د ژوند وروستۍ شېبې تېرې کړې.
دا دوه باچاهان د خپل وخت په سياست پوه نشول، خپلو خلکو ورسره دوکه
وکړه او هغه ټول توان يي عبث ولاړو چې په سيمه کې د افغانستان نه يې
لوی قدرت جوړ کړې و.

## له بنګاله تر اصفهانه

۱۶۰۰م کال د لندن د تجارانو يوې ډلې د خپلې کمپنۍ لپاره د هغه وخت
ملکې لمړۍ اليزابت نه د ختيځ د ملکونو سره تجارت لپاره شاهي فرمان
ترلاسه کړو چې دوه سوه شپاړس (۲۱۶) غړي يې لرل او زيات په کې د
لوړې طبقې شتمن خلک و. په راتلونکو نهو کلونو کې دوی د ختيځ هند
کمپنۍ (ختيځ هند شرکت) د هالينډ او د پرتګال د تجارانو سره په سيالۍ کې
شوه. دې کمپنۍ خپل حکومت ته غوښتنه وکړه چې د هند مغل واکمن ته
خپل سفارتي ډله ورواستوي.
د هند پر شاهي تخت هغه وخت مغل باچا جهانګير ناست و، د انګلستان د
باچا جيمز له خوا د سر تهامس رو په مشرۍ يوه سفارتي ډله د هغه دربار
ته ورواستول شوه. د جهانګير په دربار کې دوی باچا ته د اروپا داسې
سوغاتونه وړاندې کړل چې پخوا چا ليدلي نه و. په دې کې چيني لوښي، د
سپينو(نقره) چاقو، قاشوغ پنجې او هېنداري شاملې وې. رواييت دا دي چې
د جهانګير يوه لور هغه وخت ناروغه وه او د هغې سفارت سره مل انګرېز
ډاکټر په علاج ښه شوه نو باچا په دې ډېر خوشاله شو او دوی نه يې پوښتنه
وکړه چې په انعام کې څه غواړي.
سفير ترېنه د ګجرات په ساحل د سورت بندر نه علاوه په نورو سيمو کې د
کارخانو د جوړولو او هلته د اوسېدو اجازه وغوښته. مغل د وچې سيمې او
د غرونو نه ورغلي و او د هند خاوره ډېره پراخه وه. د جهانګير لپاره
سمندري ساحل د تجارت وسيله وه او دې ته يې فکر نه و چې د هغې لارې
وربانديې حمله کېدی شي. هغه د دې اجازه ورکړه او يو ليک يې هم جيمز
باچا ته واستو. په دی ليک کې هغه انګرېز تجارانو ته په هند کې هر
چيرې چې دوی غوښتل د اوسېدو اجازه ورکړې وه او دا چې پرتګال او د
هالينډ کسان به حق نه لري چې په هند کې تجارت وکړي. ترټولو په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې خبره يې دا ليکلې وه چې انګرېز تجاران هر څه چې غواړي په خپلو بېړيو کې هند ته راوړی شي.
کمپنۍ د دې شاهي فرمان نه په پوره ګټه اخيستو خپل کاروبار دومره پراخه کړو چې د پرتګال کاروباري مرکزونه ورته هېڅ نه و. پرتګاليانو د هند د ګوا، چټاګانګ او بمبۍ په ساحلونو خپلې مستعمرې جوړې کړې وې. يوه پرتګالي شهزادګۍ چې وروسته يې د انګلستان له باچا سره واده وشو نو انګرېزانو بمبۍ هم د هغې د پسول په توګه د پرتګال نه واخيستو. دا لمړی ځل نه و چې بهرنيان د خپلو ګټو لپاره د هند لويي وچې ته ورغلل. دا خاوره په اوبو مړه او شنه ده، په غرونو کې يې هر ډول منرالونو او طبيعي زيرمو نه علاوه، سره زر، نقره، الماس او نورې قيمتي ډبرې موندل کيږي. د سمندر په اوبو کې هر ډول ژوی او ساحلونه يې د بېړيو تمځايونه او لرغوني بندرونه لري.
کمپنۍ د کارخانو سره سره په مدراس، بمبۍ او کلکته کې خپلې تجارتي اډې جوړې کړې. تر ۱۶۴۷ م د انګرېزانو درويشتو ( ۲۳) کارخانو د يو مشر يا ګورنر تر څارنې لاندې کار کوو. دوی هغه وخت په هند کې نوي کارکونکې په کار وګمارل. تر ټولو لويې کارخانې يې د کلا ګانو په شکل په بنګال کې " فورټ وليم" په مدراس کې "فورټ سينټ جارج" او په بمبۍ کې د" بمبۍ مانۍ" په نوم جوړې کړې.
په ۱۶۳۴ م کې د جهانګير زوی شاه جهان انګرېزانو ته خپله لمنه دومره پراخه کړه چې د بنګال په ټوله سيمه کې يې ورته د تجارت اجازه ورکړه. مغلو فکر کوو چې پوځي جنګونه يوازې په ځمکه کيږي او د اوبو لاره يې بې دفاع پرېښوده. د کمپنۍ لوی تجارت هغه وخت کتان، ورېښم، نيل، ډبرينه مالګه او چای و.
په راتلونکو کلونو کې د انګلستان هر يو واکمن دې کمپنۍ ته د تجارت قانون تصويب کړو، ان چې په ۱۶۷۰ م کې دويم چارلس باچا ورته د پنځو نورو امتيازاتو په ورکولو د دې تجارتي بنه واړوله. هغه داسې چې که دوی وغواړي نو د انګلستان نه بهر ځمکه هم تر لاسه کولی شي، خپله سکه ضربولی شي، د سيمې د وړو واکمنو سره ايتلاف جوړولی شي، د جنګ او د روغې لپاره د پوځ او د کلا ګانو مشري کولی شي او کومې سيمې چې د دوی په لاس کې وي، هلته خپل قانون نافذولی شي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصويب د انګلستان حکومت د تجارت په پرده کې د هند خاوره د نيولو لپاره خپله تګلاره جوړه کړه.
په ۱۷۰۷ م کې د مغل باچا اورنګزېب د مړينې نه وروستو د ډيلي پر تخت اوولسو (۱۷) شهزادګانو دعوه وکړه چې په کې د اورنګزېب ورېرونه او لمسي هم شامل و. خو د هند پوځ په دو برخو وېشل شوی او د ده دوو زامنو اعظم شاه او معظم شاه څنګ ته ودريدو. دوی د اګرې سره نژدې جنګ وکړو چې کشر اعظم شاه په کې ووژل شو او شپېته (۶۰) کلن معظم شاه د شاه عالم او د بهادر شاه د القابو سره د ډيلي پر تخت کېناستو.
ده پنځه کاله باچاهي وکړه او په ۱۷۱۲ م کې په لاهور کې مړ شو.
د ده د مړينې سره په هند کې کورنۍ جنګ ونښتو او د شاه عالم په څلورو زامنو کې سيالي پيل شوه. معزالدين د جهان دار په نوم يولس مياشتې باچاهي وکړه او په مرموزو حالاتو کې مړشو. د مغلو واک د پوځ د يو تکړه قومندان سيد حسن علي خان ( ېرا يا مشر) په لاس کې و. د ده کشر ورور سيد حسن علي خان په دربار کې اغېز لرلو. داسې ګنګوسې وې چې باچا دوی وژلی و ځکه دوی د شاه عالم د لمسي (عظيم الشان زوی) فرخ سېر په طرف وو او د روهيله پښتنو په مرسته يې هغه په ۱۷۱۳ م کې د ډيلي پر تخت کېنولو.
په ۱۷۱۷ م کې فرخ سېر د انګرېزانو په تجارت د ماليې او د ګمرک بنديز ليرې کړو. ده د خپل واک په شپږو کلونو کې انګرېزانو ته دومره امتيازات ورکړل چې دا شرکت نورهم وغوړېدو او د دې افسران کله چې د هند نه بېرته خپل وطن ته تلل نو دومره ګټه به يې کړې وه چې هلته يې ځانونو ته ښاييسته کورونه (مانۍ) جوړکړل. دوی لکه د نوابانو ژوند کوو او د انګلستان په سياست کې ورداخل شول. د شرکت سرمايه دومره زياته وه چې حکومت به ترېنه پور اخيستو.
د ډيلي په دربار کې سيد ورونه نورهم ځواکمن شول او فرخ سېر تش په نوم باچا پاتې و. په دربار کې نظام الملک د دوی د لاس نه واک اخيستو لپاره هڅې وکړې نو هغه يې دکن ته ورواستوو. بيا دوی د فرخ سېر پر ضد سازش وکړو، د هغه سترګې يې ړندې، په زندان کې يې واچوو او هماغلته يې ووژلو. په ۱۷۱۹ م کې د فرخ سېر تربور رفيع الدرجات پر تخت کېنولو خو څلور مياشتې وروستو هغه په خپل کټ کې مړ وموندل شو. ورپسې د هغه مشر ورور رفيع الدوله ( دويم شاه جهان) باچا اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او درې مياشتې وروسته هغه هم په مرموز حالات کې مړ شو. د هغه
کال په پای سیدانو وروڼو اوولس کلن محمد شاه ته تاج په سر کړو. هغه د
نظام الملک په ملاتړ د سیدانو وروڼو نه د ځان خلاصولو هوډ وکړو.
حسېن علي خان په ۱۷۲۰ م کې په اګره کې ووژل شو او حسن علي خان
ته یې په ۱۷۲۲ م کې زهر ورکړل.
په ۱۷۲۰ م کې برتانیا ته د هند نه ۱۵ فیصده توکي تول د شرکت له لارې
راتلل. همدا وه چې شرکت په حکومت خپل زور برقراره وساتلو.
په دی وخت کې برتانیا او فرانسې تر منځ رقابت پیل شو. د خپلو
مستعمرو په شتمني د دوی تر منځ واړه واړه جنګونه وشول. انګلستان په
خپلو مستعمرو کې د فرانسې سره د اوو کلونو جنګ د دې شرکت پر مټ
وګټلو.
هغه وخت د پنجاب واکمن عبد الصمد خان، شاه نواز او معین الملک د
سیکانو سره لاس او ګریوان و. په ملتان او سنده کې سدوزي ځان له
واکمن شول او د مرکز سره یې څه تړاو پاتې نشو. په روهېلکهنډ کې
پښتانه وېشلي و خو مغلو ترې د خطر احساس کوو. د اودهه صوبه د
ایران تر اغېز لاندې وه او د روهیله پښتنو سره یې ورانه وه.
جنوب لوري ته په دکن کې مرهټو د حېدر اباد د نظام الملک سره په جنګ
و او د دوی جنګي ډلو به د مسلمانانو په کلیو او ښارونو حملې کولې.
خلک د یو ځای نه بل ته په کډه اړ شول. د مغلو په شاهي ټبر کې د
شهزادګانو تورې اوس یوازې د ډول او ښایيست لپاره پاتې وې. محمد شاه
ته په تاریخ کې د "رنګیلا" لقب ورکړل شوی و، ځکه هغه په خپله شاعر،
سندرغاړی او د موسیقۍ شوقي و. هغه دا فکر نه کوو چې انګرېز په هند
کې څه سیاسي هدف لري او په ظاهره د هغوی استازو ورښودلې وه چې
دوی یوازې د تجارت لپاره هند ته ځي راځي.
د هند د مغلو په څېر په پارس کې د صفویانو شاهي کورنۍ هم په زوال وه
چې د شپاړسمې میلادي پېړۍ د پیل راهېسې هلته واکمن و. د دوی باچا
سلطان حسېن کمزوری و او کله چې په ۱۷۰۹ م د اپرېل په میاشت کې
غلزیو د میرویس هوتک تر مشرۍ لاندې په کندهار کې پاڅون وکړو نو ده
یې مخه نشوه نیولې. د ده له خوا وراستول شوی والي ګورګین په کندهار
کې ووژل شو او افغانانو د پارس له جغ ځان ازاد کړو. د پارس له خوا
دوه وارې د دوی د ماتولو لپاره لښکر ورواستول شو خو د غلزیو نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتې وخوړه. میروېس هوتک په ۱۷۱۵ م کې مړ شو او د ده ورور عبد العزیز د قوم مشر شو. هغه یوه جرګه راوبلله او د پارس سره یې د روغې خبره وکړه. خو جرګې دا خبره ونه منله او د ده وربرونو هم ورسره مخالفت وکړو. عبد العزیز پارس سره پټې خبرې پیل کړې او درې شرایط یې ورته کېښودل. یو دا چې باچاهي به د ده د زامنو او لمسو ته د تل لپاره پاتې وي، دویم دا چې پارس به خپل پوځ کندهار ته نه رالېږي او درېیم د ګورګین د وخت باج به ترې نه اخیستل کېږي. خو هغه خپل یو وراره یار محمد خان په وژنه هم تورن شو نو د قوم څلویښتو کسانو د شپې د ده په کور چپاو وکړو او دی یې ووژلو. په ۱۷۱۷ م کې د میروېس هوتک زوی شاه محمود مشر شو.

په هرات کې هغه وخت د ابدالي پښتنو مشر عبد الله خان هم خپلواکه شو او غوریان، مرغاب او بادغیس یې ونیول. هغه د خپل زوی اسد الله خان په مشرۍ د فراه د نیولو لپاره یو لښکر واستوو چې هغه وخت د هوتکیانو قلمرو و. شاه محمود د دفاع لپاره ورغلو او د دل ارام سره نژدې د دوی جنګ وشو چې اسد الله په کې ووژل شو. له هغې وروستو ابدالیانو د دوی سره جنګ ونکړو. په ۱۷۲۱ م کې شاه محمود د پارس پر ضد د جنګونو یوه لړۍ پیل کړه. په بل کال د ګلناباد په جنګ کې د پارس یو لوی لښکر ته په ماتې ورکولو، د اصفهان تاریخي ښار یې محاصره کړو. په څو میاشتو کې د ښار خلک د لوږې د لاسه په مړه کېدو شول او سلطان حسېن د پارس تخت شاه محمود هوتک ته پرېښود. د سلطان حسېن زوی د دویم شاه طهماسپ په نوم ځان د پارس واکمن اعلان کړو خو هېچا یې ملاتړ ونکړو او ده د قاجار قبیلې د مشر فتح علي خان نه مرسته وغوښته. دی قزوین ته ولاړو او د نورو افغانانو په مرسته یې دا ښار ونیولو. هلته ډېر خلک ووژل شول نو افغانان د شاه محمود پر ضد راپورته شول. دی په خپل تربور اشرف غلزي شکمن شو او هغه یې بندي کړو. بیا ژور خفګان یا ډیپرېشن ناروغي پرې دومره زور وکړو چې په اصفهان کې یې د شاهي کورنۍ خلک ووژل. په ۱۷۲۵ م کې د ده مخالفانو شاه اشرف د زندان نه رابهر او پر شاهي تخت یې کېنولو. درې ورځې وروستو اعلان وشو چې د درې کاله باچهۍ نه وروستو شاه محمود د ناروغۍ د لاسه مړ شوی و خو داسې شک و چې ۲۷ کلن باچا ته ممکن د شپې چا مرۍ خپه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه اشرف د میروېس هوتک د ورور عبد العزیز زوی او د شاه محمود د پوځ یو تکړه قومندان و. دی د ګلناباد د جنګ اتل او ښه باستعداد حاکم و خو له دې ګډ وډیو نه عثماني ترکیې او روسیې ګټه واخیسته او د پارس ځینې برخې یې ونیولې. هغه د کرمانشاه سره نژدې د ترکانو لښکر ته ماتې ورکړه. ترکانو ورسره د روغې خبرې اترې پیل کړې او ممکن افغانانو نوره هم ګټه کړې وی. خو د شاه اشرف استازي ورته دا شرط کېښودو چې د ترکانو سلطان دې په لویدیځ کې خلیفه وي او په ختیځ کې به د مسلمانانو خلیفه شاه اشرف وي. ترکان په دې خوښ نه و خو په ۱۷۲۷ م کې یې د روغې تړون لاس لیک کړو.

هغه د خراسان په یو جنګي مشر نادر خان غږ وکړو او دریو ځواکونو د غلزیو سره د جنګ تیاری پیل کړه. نادر خان یو سازش کې شاه طهماسپ ته د فتح علي خان له خوا یو پټ لیک ښکاره کړو چې د مشهد ګورنر ملک محمود ته یې لیکلی و. طهماسپ هماغه وخت فتح علي خان ووژلو او پوځ یې د نادر خان په لاس کې ورکړو. نادر د " طهماسپ قلي" ( د طهماسپ نوکر) لقب غوره کړو او په ۱۷۲۶ م کې یې مشهد د غلزیو نه ونیولو.

نادر خان د خراسان د یو شپون امام قلي زوی و او وایي چې کله پلار یې مړ شو نو نادر خان چې هغه وخت تنکی ځوان و، د خپلې مور سره د ترکمن قبایلو له خوا د مرئیتوب لپاره وتښتول شول. دی وتښتېدو، د ډاکوانو سره مل او اخر د دې ډلې مشر شو. بیا د افشار په نوم یو سردار د ده سرپرست شو او نادر په مشهد کې یو پیاوړی پوځي سردار په توګه وپیژندل شو. ده د یو بل سردار بابا علي بیګ د دو لوڼو سره واده کړی و. کله چې غلزیو مشهد ونیولو نو نادر خان ګورنر ملک محمود ته سر ټیټ کړو خو بیا دی فتح علي خان ته ولاړو.

په ۱۷۲۹ م کې نادر خان په هرات کې ابدالیانو ته ماتې ورکړه او وروستو د دې قوم ځینې کسان د نادر خان په پوځ کې شامل شول. د غلزیو باچا شاه اشرف په ۱۷۲۹ م کې د نادر خان سره لومړی د " دمغان " او بیا د "مورچه خورد" جنګونه وبایلل. کله چې شاه اشرف هوتک د خپل پاتې لښکر سره بېرته کندهار ته روان و چې په لاره د بلوڅ ډاکوانو له خوا ووژل شو. هغه وخت په کندهار کې د میروېس هوتک زوی شاه حسېن واکمن و او ښایي هغه د خپل ورور شاه محمود د مړینې بدل ترې واخیستو. غلزي د پارس نه وتښتیدل او نادر خان بریالی په اصفهان کې وردننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښار خلکو ورته هرکلی وکړو خو نادر خان ترېنه د خپل پوځ د لګښت په بهانه ټول مال چور کړو.
شاه طهماسپ د پارس باچا شو، نادر خان یې د ختیځو صوبو والي وټاکلو او خپله خور یې ورته واده کړه. په ۱۷۳۸ م کې هغه په کندهار حمله وکړه او د دې زوړ ښار یې ویجاړ کړو. بیا د هغې څنګ ته د " نادر اباد" په نوم نوی ښار جوړ کړو. په مشهد کې غلزیو بیا پاڅون وکړو او نادر خان تر یو کال نه زیاته موده د هغوی سره په جنګ تېره کړه. طهماسپ د نادر په بریالیتوب خوشحاله نه و او غوښتل یې چې خلکو ته وښایي چې دی هم توررزن دی نو د ترکانو نه د "یریوان" نیولو لپاره پوځ واستولو. خو هغه تبریز هم د لاسه ورکړو او اخر دا د بېرته اخیستلو لپاره یې ګورجستان او ارمینیا په ورکولو د روغې تړون وکړو.
نادرخان د طهماسپ نه د ځان خلاصولو لپاره یوه ورځ هغه ته ښه ډېر شراب ورکړل او بیا په هغه حالت کې یې دربار ته  وروستلو چې ټولو ته ثبوت ورکړي چې داسې کس د حکومت جوګه نه و. په ۱۷۳۲ م کې هغه طهماسپ مجبور کړو چې باچاهي خپل ماشوم زوی درېیم عباس لپاره پرېږدي او نادرخان یې سرپرست شي. نادر څلور کاله د ترکانو او روسانو سره وجنګېدو، د پارس خاوره یې راټوله کړه او په اذربایجان کې د قومونو یوه لویه غونډه (قرولتایي) راوبلله. په دې کې غونډه کې هغه د عباس پر ځای خپل ځان د پارس د باچا په توګه اعلان کړو. د ټولو نه یې پوښتنه وکړه چې دوی ورباندې باور لري؟ هغوی چې باور یې هم نه لرلو نو په وېره یې ورته سر ټیټ کړو.
نادر خان د مارچ په اتمه ۱۷۳۶ م کې د نادر شاه په نوم د پارس په باچاهۍ تخت کېناستو. د شیعه صفویانو په پرتله نادرشاه بې دینه او پوهېدو چې د ده ځواک افغان، ترک، قزلباش او ازبک جنګیالو پر متو ولاړ و. ده نه غوښتل چې په پوځ کې د دیني عقایدو له کبله بغاوت وشي نو په پارس کې یې د شیعه مسلک شپږم امام جعفر عقیده رواج کړه. ده څلورکونجه تاج په سروه چې " کلاه نادري" نومېدو. دا د اسلام د څلورو خلفاو د منلو سمبول و. تر هغه وخته د پارس شیعه ګانو ته حج ته د تللو اجازه نه وه ځکه مکه د ترکانو د عثماني خلیفه په لاس کې وه. د نادر شاه په دې پالیسۍ ترکانو د پارس جعفري شیعه ګانو ته د حج اجازه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندهار د نيولو سره نادر شاه خپل سلطنت ته د نورې پراختيا ورکولو فېصله وکړه. د خراسان په جنګونو کې بې شمېره افغانان چې د ده مخالفان و، هند ته تښتېدلي و نو هغه مغل باچا محمد شاه ته پېغام ورواستوو چې دا باغيان دې ورته وسپاري. محمد شاه ورته انکار وکړو او نادر شاه د ۱۸۳۸ م کال په سپرلي کې هند ته روان شو. په لاره يې غزني، کابل، پېښور، سنده او لاهور ونيول او د بل کال په پيل کې د ډيلي نه بهر د کرنال په سيمه کې د هند د پوځ سره مخ شو. محمد شاه ماتې وخوړه او د ايران باچا ترينه ۲۵ کروړه روپۍ د جنګ تاوان واخيستو.
بيا د اختر په خطبه کې د نادر شاه نوم واخيستل شو او په دويمه ورځ ايراني پوځ ځېنو کسانو چې په بازار کې ګرځېدل، يو ځای د خرڅ لپاره اېښې کوترې ونيولې. په دې شخړه پيل شوه او د ښار په خلکو کې اوازه ګډه شوه چې نادر شاه وژل شوی او د ډيلي واکمن محمد شاه د ايرانيانو د وژنې امر کړی دی. همدا وه چې په يوه ورځ کې درې زره ايرانيان ووژل شول.
نادر شاه په دې دومره په قهر و چې توره يې راوويستله او ښار د ويجاړولو امر يې وکړو. د مارچ په ۲۲ نېټه په زرګونو بې ګناه انسانان له تورې وويستل شول، کورونه، سرايونه اودوکانونه يې وسوځول او باغونه يې ويجاړ کړل. تر دريو ورځو دا قتل عام کېدو او په دی وخت کې نادر شاه د ډيلي د روشن الدوله په جومات کې ناست و. محمد شاه د خپلو اميرانو سره د نادر شاه په خدمت کې حاضر شو او ورته يې وژړل. باچا د جنګ د بندولو امر وکړو خو د هغې نه وروسته هم لوټ او تالان کېدو او د ښار دروازې يې تړلې وې چې خلک خپل مال سره ترې ونه تښتي.
د انګرېزانو په اندازه نادر شاه د هند نه د ۳۰۰ ميليونو پونډو خزانه يوړه چې پر زرګونو اوښانو بار وه. د دې نه علاوه، ۱۰۰ پيلان، ۷۰۰۰ اسونه او ۱۰۰۰۰ اوښان و. د محمد شاه ۱۰۰ خواجه سرايونه ۱۳۰ ليکوالان، ۲۰۰ پخ ( اهنګران) ۳۰۰ معماران، ۱۰۰ تيږې توږونکي (سنګ تراش) او ۲۰۰ ترکاڼان (نجاران) يې هم يوړل. نادر شاه چې بېرته پارس ته ورسېدو نو د دريو کلونو لپاره يې خپل ولس ته ماليه معاف کړه. د ختيځ هند شرکت د دې ټولو پېښو حال خپل حکومت ته ورکړو او انګرېز د خپلو تجارتي منډويو د ساتنې لپاره ښه غښتلي پوځ هند ته ورواستوو. دوی په نويو وسلو سمبال و، ټوپکې او توپې ورسره وې اوترټولو مهمه خبره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه چې دوی د ځايي خلکو په روزلو نوې پوځي دستې جوړې کړې وې چې ښه معاش به يې ورله ورکوو.
د هند په جنوب کې مدراس، بنګلور او د ميسور ساحلونو او د جوادي نومې غونډۍ په منځ کې د ارکاټ (ارکوټ) سيمه ده چې د لرغونو وختونو راهيسې د واکمنو د پښو ټينګولو ځای و. د دې د موقعيت له کبله ټولو سيالو ډلو په خپل وار په کې کلا ګانې جوړې کړې چې تراوسه يې د ځينو نښې شته. د اورنګزيب په ژوند کې دلته د ننګرهار يو مياخيل اسد خان حاکم و او وروستو د ده زوی چې نواب ذوالفقارعلي خان په نوم مشهور و په ۱۷۱۲ م کې د ارکاټ والي شو.
په ۱۷۴۲ م کې د ارکاټ نواب سعادت الله خان و او د ده د مړينې نه وروسته يې خپلوانو د دې نوابۍ بيلا بيلې ضلعې ونيولې او کلاګانې يې په کې جوړې کړې. په دې وخت کې انګريز او فرانسويانو د سعادت الله د خپلو خپلوانو سره ملګرتيا پيل کړه. دوی د خپل ملک جوړ شوي سوغاتونه به ورله وړل او د دوی د ژوند ژواک، د کلاګانو او د سيمو انتظام او د زور ځواک نه خبريدل. لکه چې د پښتنو په ټبر کې کيږي، په نوابې کورنۍ کې دننه تربګنۍ يې هم ځارلې. په دوی کې يو تن چې نوم يې صفدرعلي خان و، د مرهټو سره لاسونه يوکړل، له هغوی يې پوځي مرسته وغوښته او د رګهو فتح سنګ په مشرۍ د پونا ښار نه د ۵۰۰۰۰ سپاره لښکرو سره په ارکاټ حمله وکړه.
د صفدرعلي خان پلار علي دوست خان د ارکاټ په دفاع د جنګ په ميدان کې ووژل شو. مرهټو د ارکاټ خلک په لوی لاس ووژل، چور تالان يې ګډ کړو او په زرګونو کسان يې د بنديانو په توګه يوړل. دوی د صفدر علي خان اخښي (د خورميړه) حسين دوست خان چې د چندا خان په نوم يې شهرت لاره، ونيولو او پونې ته يې يوړو. په دې وخت کې د صفدرعلي خان د بل خور ميړه، مرتضی خان چې د "ويلور" والي و، صفدر د ميلمستيا په بهانه خپل کور ته راوبللو او ويې ووژلو.
له دی جنګ وروسته نظام الملک چې په دکن کې د مغل باچا له خوا حاکم و، ارکاټ ته ورسيدو او هلته يې انورالدين خان د صوبه دار په توګه وټاکلو. ده د صفدر علي خان دوه ماشومان د ښوونې او روزنې لپاره په خپلو وزرو کې واخيستل او بيرته دکن ته ولاړو. انورالدين خان د صفدر بل ماشوم زوی ووژلو نو افغانان پرې خواشينې شول. څه موده وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چندا خان چې په پونا کې بندي و، پېسې ورکړې، ځان يې راخلاص کړو او ارکاټ ته را ورسېدو. د دې ځای حال په ليدو، "پانډېچري" سيمې ته ولاړو، هلته د فرانسويانو په مرسته يې يوه پوځي ډله جوړه کړه او بېرته ارکاټ ته روان شو چې د انورالدين پر ضد جنګ وکړي. انورالدين د انګرېزانو نه مرسته وغوښته چې هغه وخت په "چينه پټن" ( اوس چينۍ نومېږي) کې يې يوه کارخانه لرله. هغوی يې مله شول او يوه پوځي ډله يې هم ورله واستوله. خو د انورالدين د انګرېزانو چلند خوښ نشو او بېرته د خپل پخواني حريف حسين دوست خان (چندا) سره يې روغه وکړه. د ده زوی محمد علي خان د انګرېزانو سره پاتې شو او د خپل پلار سره يې مخالفت پيل کړو.
لارډ کلايو د انګرېز حکومت له خوا د ګورنر جنرال په توګه د بنګال حاکم شو. په حيدر اباد کې د نظام الملک د مړينې نه وروسته د ده زوی ناصر جنګ په ګدۍ کېناستو نو محمد علي هغه ته هم بلنه ورکړه چې د انګرېزانو سره دې ودرېږي. د ناصر جنګ وراره هدايت محي الدين د تره په مخالفت کې د لږ شمېر پوځ سره پانډېچري کې فرانسويانو ته ولاړو، هغوی ورله ۱۰۰۰ نورعسکر هم ورکړل چې د خپل تره سره جنګ وکړي.
عجيبه خبره دا ده چې محمد علي هم هغه وخت د انګرېز نه بيل او د هدايت محي الدين سره مل شو.
دوی دواړو د ناصر جنګ سره د پرله پسې جګړو نه وروسته د "جينجي کلا" ونيوله چې د يوې غونډۍ د پاسه وه. فرانسويانو د ناصر جنګ د پوځ د ځينو سردارانو سره پټې اړيکې لرلې او د شپې يې ورباندې حمله وکړه. کله چې د جنګ نغاره وغږېده نو ناصر جنګ په هاتي (پيل) سپور شو. هغه وخت بهادرخان نومي يو افغان چې د ده په پوځ کې عسکر و، د خپل پيل نه ورته ټيټ شو او د ټوپک په يوې ګولۍ يې هغه ووژلو، بيا يې خپل پيل ورنژدې کړو، د ناصر جنګ سر يې پرېکړو او دا يې په نيزه وټومبلو.
فرانسويانو هدايت محي الدين د ناصرجنګ پر ځای د دکن مشر وټاکلو او د خپل پوځ په بدرګه چې قومندان يې " مارکي بسي" و، د حيدر اباد په لوري روان کړو. په لاره کې دوی د "راياچهوتي" په کلا کې ايسار شول. دلته هغه قومندان بهادر خان چې د ناصر جنګ نه يې سر پرېکړې و، د فرانسوي عسکرو مشر "بسي" سره د غنيمت مال او د خزانې په ويش

(c) ketabton.com: The Digital Library

وران شو او جنګ ونښتو. بهادرخان، د ده سره مله نور افغانان او هدايت محي الدين هم هلته ووژل شو.
فرانسويانو د نظام الملک دويم زوی صلابت جنګ د دکن واکمن اعلان کړو او په بدرګه ورسره حيدراباد ته روان شول. هلته په رسېدو ۱۲۰۰۰ عسکرو چې مشري يې د فرانسويانو سره وه، ښار په خپل کنټرول کې ونيولو او ځېنې په کې د خلکو کورونو ته ورننوتل او دوکانونه يې چورکړل. د ښار خلک د فرانسويانو نه تر پوزې راغلل نو د صلابت جنګ کشر ورور نظام علي خان په شاهي ماڼۍ کې بغاوت وکړو، ورور يې بندي کړو او په خپله د ده په کوټه کې يې ځان باچا اعلان کړو. خو فرانسويان بيا هم په حيدر اباد کې پاتې و او اخر نظام علي د دوی مشر مارکې بسي قانع کړو نو هغه د خپلوعسکرو سره د ښار نه ووتلو او پانډېچري ته ولاړو.
د دې پيښو پر وخت محمد علي خان د انګرېزانو په ملاتړ د چندا خان سره چې د فرانسويانو پلوي يې کوله، جنګ روان وساتلو. د دواړو پوځ، د ارکاټ د نيولو لپاره مقابله کوله او اخر د څو جنګونو نه وروسته، ارکاټ د انګرېزانو په لاس کې شو. د دې صوبې د کال حاصل څلور کروړه روپۍ و.
د ارکاټ نيول د انګرېزانو لوی بری و او له دې وروسته هغوی ورو ورو د نورو ځمکو په نيولو لاس پورې کړ. د بنګال والي نه يې لږه ځمکه په اجاره واخيسته، تجارتي خونه يې جوړه او په کې خپل خلک مېشت کړل.
د بنګال نواب سراج الدوله د دوی مخه ونيوله خو انګرېزانو د ده خپلو وزيرانو ته ډېرې پيسې ورکړې چې ورسره غداري وکړي. د بنګال، بهار او د اړيسه د نواب سراج الدوله پر ضد لارډ کلايو پوځې حمله وکړه. په ۱۷۵۷ م کې د پلاسي په جنګ کې د بنګال دا وروستی نواب يې ووژلو او ټول بنګال د کمپنۍ لاس ته ورغلو چې په کې څلور صوبې وې او د کال شل کروړه روپۍ حاصل (عايد) يې لرلو. نوی نواب د مغلو باج ګزار شو او د دی جنګ نه وروسته مغلو ټکان وخوړو چې انګرېزانو د خپلو ګټو لپاره د هېڅ اخلاق يا د اصولو پروا نه ساتله. هماغه وخت د دوی تر منځ درز پيدا شو.
د بنګال جوړ شوی ململ هغه وخت د هند په وچه کې نوم لرلو او د دې جوړونکو به د پنبې له نري تار نه په ګوتو اوبدلو. دا ګران بيه ټوکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې باچاهانو او نوابانو اغوستی شو ځکه ډېر ګران و. په انګلستان کې د صنعتي انقلاب سره ټوکر په مشین جوړېدو چې ارزانه و. انګرېز د هند بازار ته خپل مال راوویستلو نو د بنګال کارخانې بندې شوې او په زرګونو خلک بې روزګاره شول.
په ۱۷۵۱ م کال د انګرېزانو لارډ کلایو د ارکاټ په کلا کې ایسار و او یوازې ۵۰۰ پوځیان یې لرل. مرهټه د فرانسوي ځواک په مرسته ترې چاپېره و خو دې تر ۵۶ ورځو د دې کلا په دفاع کې ټینګ ولاړ و.
مرهټو ډېر زور ولګو خو پاتې راغلل او په اخره کې د دوی مشر چندا صاحب ووژل شو. انګرېزانو دلته محمد علي خان د نواب په توګه کېنولو چې د دوی په اشارو یې حکومت کو.
په پنځوسو کلونو کې کمپنۍ د ارکاټ نوابانو ته په پور پیسې ورکولې ان تر دې چې د نواب محمد علي خان اولادونه پوروړي شول. ارکاټ په ۱۸۰۱ م کې د انګرېزانو د ختیځ هند کمپنۍ لاس کې ورکړو او په خپله د دوی د تنخوا دارو په توګه تش په نوم نوابان شول.

## افغانستان او هند

په هند د حملې پر وخت د نادر شاه په پوځ کې د کندهار د ابدالي ټبر یو ځوان احمد خان هم شامل و. وایي چې هغه د نادر شاه په باوري کسانو کې و او کله چې نادر شاه په ۱۷۴۷ م کې د خراسان د قوچان په سیمه کې د خپلو ساتندویانو له خوا په خېمه کې ووژل شو، نو احمد خان د هغه حرم خوندي اصفهان ته بدرګه کړو. د نادر شاه مشرې مېرمنې هغه ته د خزانې یوه برخه ډالۍ کړه او دی د خپلو ۴۰۰۰ ملو سره بېرته کندهار ته ولاړو.
هلته د مشرۍ لپاره یوه جرګه وشوه او یو مجذوب پیر صابر شاه د احمد خان په پګړۍ کې د غنمو وږي کېښودل چې دی به د افغانانو باچا وي.
د احمد شاه د لقب سره هغه د افغانستان په نوم یو نوی ملک هم د نړۍ په نقشه کې ورو پیژندلو. اخوا په هند کې د مغلو نوي واکمن هم احمد شاه بهادر اعلان شو چې په ۱۷۴۸ م کې د خپل پلار محمد شاه د مړینې نه وروستو د ډیلي پر تخت کېناستو.
دی د ۲۲ کلونو و او خپل حکومتي کارونه یې د څو سلاکارانو په لاس کې ورکړي و. د ایراني نژاده حاکم صفدر جنګ د مشر وزیر په توګه دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکمن شو چې باچا نه په پټه د هند د نورو قوتونو سره يې معاملې کولې.
ده د روهيله پښتنو سره په جنګ کې ځو واري مرهټو سره لاسونه يو کړل او اخر احمد شاه بهادر د خپل کار نه ليرې کړو. د ده ځای ۱۸ کلن شهاب الدين محمد صديق ونيولو چې په تاريخ کې د عماد الملک په نوم شهرت لري. هغه احمد شاه بهادر د مرهټو سره په جنګ اړ کړو چې د ډيلي تخت ته يې ګواښونه کول. په ۱۷۵۴ م کې کله چې د ماتې خوړلو نه وروستو احمد شاه بهادر بېرته ماڼۍ ته ورسېدو نو د عماد الملک په امر د هغه سترګې يې ړندې کړې او د سليم ګړ په کلا کې يې بند کړو.
د ډيلي پر تخت عزيز الدين د دويم عالمګير د لقب سره حکومت پيل کړو.
دا هغه وختونه و چې په ټول هند کې مرهټه کاواکه ګرځېدل او د هغوی د مخنيوي لپاره د صوبو نوابانو باچا ته ليکونه وراستول. خو باچا هېڅ توان نه لرلو ځکه مغل پوځ د کاره لويدلی و او عمادالملک په خپله د مرهټو سره لاسونه يو کړي و.
پر هندوستان د ځلورمې حملې په وخت ۱۷۵۶ م کې احمد شاه ابدالي د پنجاب يو مهم ښار سر هند ونيولو او خپل زوی تيمور شاه يې د پنجاب حاکم وټاکلو. په ۱۷۵۸ م کې سيکانو له مرهټو سره لاس يو کړو او تيمور شاه يې نه يوازې د سرهند بلکه د لاهور نه هم تيښتې ته اړکړو. د پنجاب سيکانو اوس د خپلواکۍ لپاره زور لګولی و خو دوی يو تکړه مشر نه لرلو او په ځو ډلو وېشلي وو.
د هند خلک د خپل باچا نه مايوسه شول نو هغوی د افغانانو باچا احمد شاه ابدالي ته ليکونه وراستول چې دوی له مرهټو او سيکانو وژغوري. کوم ليکونه چې کندهار ته ورتلل، په هغوی کې د مسلمان عالمانو او سردارانو، لکه شاه ولي الله او نجيب الدوله نه علاوه، د جېپور هندو راجه مادهو سنګ او د مارواړ راجه بيجې سنګ هم دراني واکمن ته ليکونه ورليږلي و چې د دکن له خوا د حملو نه يې وژغوري. ان تر دې چې عالمګيرباچا ورته پټ ليک وراستوو چې د عمادالملک نه يې خلاص کړي. افغان باچا د ۱۷۴۸ م نه واخلې تر ۱۷۵۷ م ځلور واري خپل لښکر هند ته يوړو او د حکومت معاملې يې سمې کړې. کله چې د ده د راتګ اوازه به په هند کې ګډه شوه نو مرهټه او سيکان به له سترګو پناه شول. څه موده وروستو به بيا هماغه حال و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنوري په ۱۴ نېټه ۱۷۶۱ م، نیمه شپه د پاني پت په میدان کې کله چې مرهټو د جنګ نغاره وډنګوله نو احمد شاه په خپلې خیمې کې په جنګي لباس کې ویده و. دی د خپل محافظ له خوا راویښ کړی شو نو په هماغسې په اس سپور شو. لږه شېبه وروسته د ده ټول پوځ د جنګ په میدان کې په خپل ځای تیار ولاړ و.

دا پوځ په ۷ میلو کې خپور او په پرو کې دننه تاو شوي و داسې چې د مرهټو د پوځ وروستیو ډلو ته رسیدلی و. د احمد شاه د پوځ شمېر ۶۰۰۰۰ و چې په کې د روهیلو لوی لښکر او د شجا ع الدوله لښکر هم شامل و. د مرهټو پوځ ۴۵۰۰۰ زره و. دا د هند په تاریخ کې یو بې ساری جنګ و چې په یوه ورځ کې د جنګ له میدانه د مرهټو ۲۸۰۰۰ مړي ټول کړل شول.

د افغانستان نوم هغه وخت نه یوازې په هند بلکه په نړۍ کې د یو ستر قوت یا " سوپر پاور" په توګه وپېژندل شو. د ختیځ هند شرکت له خوا احمد شاه ابدالي ته لیکل شوي لیکونه د دې ښکارندوی دي چې هغوی ترې څومره اغېزمن و.

په بنګال کې د انګرېز او د فرانسوي تجارانو سیالي په سیاسي او پوځي رقابت اوښتې وې. فرانسوي جنرال "جوزف فرانسوه دوپلې" د انګرېز ګورنر جنرل "لارډ کلایو" نه ماتې وخوړه او"فورټ سینټ جارج" د فرانسویانو نه انګرېزانو تر لاسه کړ. په ۱۷۶۳ م کې د دوی تر منځ روغه وشوه او د یو تړون تر مخې فرانسویانو ته د جنوبي هند په څو ساحلي سیمو کې د خپلو کلاګانو د ساتلو اجازه ورکړې شوه. په دې کې پانډېچري، ماهي، کاریکال، یانام، او چندرنګر شامل و خو فرانس په دې ځایونو کې د پوځیانو د ساتلو اجازه نه لرله. که څه هم په راتلونکو ۲۰۰ کلونو کې دا سیمې د فرانسې سره پاتې وې، خو د دوی لاسونه وتړل شول او د شرکت لپاره د یولوی سیال خطر پاتې نشو.

په پاني پت کې د مرهټو زور اوبه شوی وې او د هند په لر او بر یې ډندورې غږېدې. هندي وګړو اوس د انګرېزانو زور ماتول غوښتل چې بنګال یې نیولی و. په ۱۷۶۳ م د ډسمبر په میاشت کې د بنګال والي میر قاسم علي د خپل واک د ساتلو لپاره د انګرېز پوځ سره وجنګېدو، ماتې یې وخوړه او په اودهه کې نواب شجاع الدوله ته یې پناه یوړه. ده د مرستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړ وکړو چې څو روهیله پښتانه هم ورسره ودرېدل او د حافظ رحمت خان د زوی عنایت خان په مشرۍ شپږ زره لښکر اله اباد ته روان شو.
د بنارس راجه هم د خپل پوځ سره د دوی مل شو او کله چې دا لښکر پټنې ته رسېدو نو شمېره يې اتیاو زرو ته رسېدلې وه. هلته د رسیدو سره انګرېزانو د خپلو توپونو خولې پرانستې او سخته بمباري پرې وکړه. دوی د مغل پوځ ځېنو سردارانو ته لیکونه ورواستول او په اخره کې د یو څو کسانو په غدارۍ دومره لوی پوځ د انګرېز د وړوکې پوځ نه ماتې وخوړه.
نورې جنګې ډلې بېرته ولاړې او د مغلو پاتې پوځ په بکسر کې مورچې ونیولې چې په ۲۳ اکتوبر ۱۷۶۴ م کې د انګرېز سره ښکیل شو. دا د ډیلي د واکمن شاه عالم له خوا د خپل واک د ساتلو وروستۍ هڅه وه. مغل سرداران د جنګ په مېدان کې د باچا نه بېل شول او انګرېز پوځ د شاه عالم نه راتاو شو. دوی غوښتنه وکړه چې میر قاسم علي دې ورته وسپاري خو هغه د مېدان نه په یو پیل سپور وتښتېدو. دده عیال په اودهه کې مېشت و چې هلته ټول مال ترې د شجاع الدوله کسانو لوټ کړی او دوی بندي ساتل شوي و. میر قاسم چټک هغوی ته ځان ورسوو، راخوشې يې کړل او په روهیلکهنډ کې يې پناه واخیسته. شاه عالم په ۱۷۶۵ م کې په اله اباد کې د انګرېزانو سره تړون وکړو چې د بنګال او د بهار سیمو باج به دوی اخلي. دا تړون په شمالي هند کې د مغلو واک ته د پای ټکی شو.
میر قاسم احمد شاه ابدالي ته لیک ورواستوو چې د بنګال په نیولو کې دې ورسره مرسته وکړي. خو هغه اوس په پنجاب کې د سیکانو زور په ماتولو بوخت و. د پاني پت نه وروستو هغه په بل کال پنجاب ته ورغلو، په لاهور يې حمله وکړه او په امرتسر کې يې د دوی تر ټولو سپېڅلی " طلايي معبد " ویجاړ کړو. پنجاب تر هغې د افغانستان خاوره ګڼل کېده او په ۱۸۶۶ م کې احمد شاه اتم وار د اباسین نه پورې خپل لښکر یوړو نو سیکانو لاهور خوشې کړو.
مغل باچا شاه عالم د انګرېز د تقاعد خور( پېنشن خور) په حېث فیض اباد کې اوسېدو او انګرېزانو لپاره ډیلي ته د ورتګ مخه روهیله پښتنو نیولې وه. هغه وخت حافظ رحمت خان او احمد خان بنګښ دواړو دومره پوځي توان لرلو چې که دوی غوښتلی نو انګرېزان يې له هنده ویستلی شوای.
شجاع الدوله هم دغه غوښتل خو حافظ رحمت ورته مشوره ورکړه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو وکیلانو د لارې انګرېزانو ته پېغام ورواستوي او روغه دې ورسره وکړي. دا هغه سیاسي غلطي وه چې پایلې یې د پښتنو او د هند د مسلمانانو په تباهۍ تمامې شوې. شجاع الدوله دا خبره ونه منله اود مرهټو په ملاتړ د مۍ د میاشتې په درېیمه نېټه ۱۷۶۵ م کې د "کوړا جهان اباد" سره نژدې د پېرنګي پر پوځ یې حمله وکړه. هغوی نوې پرمختللې توپې لرلې او مرهټه مشر ملهار راو د جنګ نه وړاندې د مېدان نه خپل لښکر وویستلو.
شجاع الدوله فرخ اباد ته راغلو او د دواړو پښتنو مشرانو نه یې مشوره وغوښته. حافظ رحمت ورته بیا د روغې وویل او دا ځلې یې خپل وکیل منشي تیک چند د پنځو زروسپارو سره د شجاع الدوله په بدرګه انګرېزانو ته وروا ستوو. دوی د انګرېز قومندان میجرکارنیک خېمې ته ولاړل او هلته یې تود هر کلی وشو. د اګست په دویمه نېټه د بنګال انګرېز ګورنر "کلایو" راورسېدو او دوی سره یې خبرې پیل کړې. یوه هوکړه لیک (لوظنامه) وشوه چې د هغې تر مخه شجاع الدوله به انګرېز ته ۵۰۰ سوه زره روپۍ د جنګ تاوان او د اودهه ټوله صوبه ورکړي. اله اباد او کوړا جهان اباد یې ورته د ساتلو اجازه ورکړه. خو د هوکړه لیک یو شرط دا و چې له دې وروسته، شجاع الدوله او انګرېز ملګري دي، د جنګ پر وخت به د یو بل سره مرسته کوي او د دوی یو سفیر به د شجاع الدوله سره پاتې وي. د دې شرط په منلوهغه په عمل کې د پښتنو له اغېز ووتلو. د ده د پوځ روزنه هم انګرېز په خپله غاړه واخیسته او روهیلکهنډ اوس نېغ په نېغه د انګرېز د پوځ تر برید لاندې شو.
په پاني پت کې د ماتې خوړلو نه وروسته مرهټو په څو کلونو کې ځان بیا راټول کړي و او پلان یې دا و چې د روهیلو د ځپلو نه وروسته به په اودهه حمله کوي. شجاع الدوله د دوی له ارادو خبر شو نو په ۱۷۷۲ م کې کلکتې ته یې خبر ورکړو چې د ده سره د مرستې لپاره د انګرېزي پوځ مشر رابرټ بارکر دې فیض اباد ته ولېږي. انګرېز پوځ په بله میاشت کې شاه اباد ته ورسېدو نو شجاع الدوله هم هلته ولاړو او حافظ رحمت خان د انګرېزانو سره د لیدو نه ډډه وکړه.
په بنګال کې د ختیځ هند شرکت سره د مرستې لپاره د برتانیا حکومت خپل سیاسي استازي هم وراستول چې د ځایي واکمنو نه یې ورو ورو ټول اختیارات تر لاسه کول. په دوی کې یو کس وارن هېسټنګز هم و چې په ۱۷۵۸ م کې د بنګال په مرشد اباد کې د برتانیا د استازي په توګه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

استول شوی و. ده د کلکتې نه د لارډ کلایو او د کمپنۍ د چارواکو له خوا روان شوي حکمونه به ځایي نوابانو ته رسول. دی د خپلې دندې نه خوشاله نه و او شپږ کاله وروستو يې کار پرېښودو او بېرته انګلستان ته ولاړو. په دويم ځلې هېسټنګز په ۱۷۶۹ م کې هند ته ولاړو او په مدراس کې مېشت شو. تر هغې مدراس، بمبۍ او کلکته د انګرېز د دريو واليانو له خوا اداره کېدل او هېسټنګز په ۱۷۷۱ م کې د کلکتې والي شو. خو د بنګال په شان ښيرازه ځمکه د ده په نااهلۍ د سوکړې سره مخ شوه او لس ميليونه بنګاليان د لوږې د لاسه مړه شول. دی يو مسلکي پوځي و او په هند کې د هغو ځواکونو ماتول د ده دنده وه چې د برتانيا ګټو ته يې خطر جوړولی شو.

هېسټنګز د هند په مرکز کې د پښتنو د ټاټوبي په اړه ليکي " د روهيلو هېواد په سويل کې پراخ پروت دی. په لويديځ کې يې ګنګا سيند او په شمال کې د "ترتاري" ( تراي) غرونه دي دا د اودهه د صوبې لپاره کټ مټ هماغه حېثيت لري لکه چې د انګلستان لپاره د لومړۍ ملکې ايليزبت د حکومت نه وړاندې د سکاټلېنډ سيمه وه. که دا سيمه واخيستل شوه نو د وزير (شجا ع الدوله) د سلطنت دفاعي ليکه به ورباندې پوره شي او ښکاره ده چې زمونږ لپاره به د دې ساتنه بيا اسانه وي ځکه اوس ده د سيمې د ساتنې لپاره په مکمل ډول په مونږ تکيه کړې ده. په دې کار به د هغه عايد زيات شي چې په کې زمونږه برخه هم وي."

په ۲۳ اپريل د ۱۷۷۴ م د شاه جهان پور په يو کلي ميران پورکټړه کې د شجاع الدوله او د روهيلو په جنګ کې د روهېلکّهنډ پراخه ځمکه تالان شوه. د نيم ميليون نه زيات خلک بې کوره شول چې زيات په کې پښتانه و. د دوی د له ۱۰۰۰ نه زيات کلي مغل پوځ وسېزل او پښتانه په ډله اييزه توګه ووژل شول. د پښتنو ماتېدل د انګرېز لپاره لوی زېری و ځکه دوی په عمل کې اوس د هندوستان د سلطنت مرکز ډيلي ته ورسېدل.

په پنجاب کې د سيکانو د چور او تالان خبرونه احمد شاه تر لاسه کړل او د دوی په بلنه د سيمې مسلمانانو ته يې د مرستې لاس وغځاوه. په ۱۷۶۲ م کې ده په شپږم وار د کندهار نه د پنجاب په ميدانونو کې لښکرکشي وکړه. هلته ۸۰۰۰۰ جنګيالي د سيکان سره جنګ لپاره راټول و. د فبرورۍ په ۵ نېټه افغان او هندي ګډو لښکرو په سيکانو يو ناڅاپه بريد وکړاو دوی يې د ګاډيو له کاروان نه بيل کړل چې وسلې او نور پوځي توکي په کې بار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیکان په شا شول او د هغه کلي چاپېره یې دفاعي جنګ پیل کړو چې په کې د دوی ښځې او ماشومان راټول و.
کله چې سیکانو ولیدل چې نور دوی خپله دفاع نه شي کولی نو په خپله یې خپل سلګونه ښځې او ماشومان ووژل. دوی په پوره مذهبي جوش جنګ کاوه او د اندازې تر مخه په دغې جګړې کې ۲۰ زره سیکان ووژل شول.
د" شمشېرخالصه " کتاب لیکوال وایي په دغه جګړه کې د ۳۰ زرو کسانو نه یوازې ۲ سوه تنه ژوندي پاتې شول او د سیکانو سپېڅلي کتاب د "ادې ګرنت" تاریخي نسخه هم پکې وسوځېده. په سیک تاریخ کې دا جنګ د لوی ناورین "وډه غلوغره" په نوم یادېږي.
له دې جګړې وروسته احمد شاه ابدالي برنالي ته ولاړ اود سیک جنګیالو مشر الاسنګ یې ژوندی ونیولو، هغه احمد شاه ابدالي ته پنځه لکه روپۍ د نذراني او ۱۲۵ زره نورې روپۍ یې د خپلې ږیرې او سر د ویښتو د ساتلو لپاره ورکړې (په سیک مذهب کې د وجود ویښتو خریيل ګناه ګڼل کیږي). هغه د الاسنګ د خطاب سره په رسمي توګه د افغان مشر له خوا د پټیالې راجا اعلان شو. وروسته احمد شاه ابدالي په امرتسر کې افغان پوځ د سیکانو (طلایي) معبد ویجاړکړ او د دې په تالاب کې یې کانې او ګټې لوټې واچولې. د افغان ځواک دا کړنه د سیکانو په تاریخ کې یوه داسې فاجعه وه چې ۵۰ کاله وروستو یې په پېښور کې بدل واخیستو.

## د میسورریاست

د جنوبي هند ریاست میسور د څوارلسمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې د "وډیار"هندو ټبر په لاس کې و. دوی په دکن کې د ویجایانګر سلطنت باجګزارو. په شپاړسمې پېړۍ کې د مغلو او د دکن د مسلمانو باچاهانو پر وخت د ویجایانګر سلطنت له منځه ولاړو اومیسورترې خپلواکه شو. تر اوولسمې پېړۍ د وډیار راجګانو د کرناټیکا جنوبي سیمې او د تامیل ناډو ځېنې برخې لاندې کړې اوځانونه یې پیاوړي کړو.
د میسور په شاهي پوځ کې یومسلمان حېدرعلي نومېدو. د ده د نسب په اړه په تاریخونو کې درې ډوله معلومات لیکلي دي. یوه سرچینه وایي چې دی ایرانی و، دویم وایي چې دی افغان او د ترین قوم نه و او درېیم د حېدرعلي له خولې یو فرانسوي مورخ لیکې چې دی د عربو د قرېشو نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده پلار فتح محمد په "کولار" کې زېږېدلی او د کرناټیکا د نواب په پوځ کې د پنځوسو عسکرو د ډلگی مشر و. له هغه ځای نه یې فتح محمد د وډیار په پوځ کې شامل شو او په خپلې مېړانې د قومندانۍ رتبې ته ورسېدو.
د وډیار راجا ورته د "بډیکوټ" کلی په جاگیر کې ورکړو او حېدرهم هلته وزېږېدو چې د خپل پلار پنځم اولاد و. کله چې فتح محمد په یو جنگ کې ووژل شو نو حېدرد خپل وروړشهباز سره یوځای د ارکاټ په پوځ کې شامل شو. څه موده وروسته سرنگاپټم چې د میسور نه ۱۹ کیلومېټر لېرې و، ولاړو چې هلته د ده یو تره په پوځ کې و. دواړه ورونه د سرنگاپټم په پوځ کې د نایک رتبې ته ورسېدل.
حیدرنایک د لوړ استعداد خاوند و او یو وخت یې د دویم کرشناراجا د پوځ قومندان شو چې "دلوایي" به یې ورته ویل. تر ۱۷۵۵ م حېدرعلي درې زره پلي او ۱۵۰۰ سپاره عسکرلرل. په دې کال کې حېدر نایک د "دینډیگل" نومې کلا پوځدارهم وټاکل شو. هغه وخت ده په لومړي ځل د فرانسې پوځي مشاورین د خپل پوځ د تنظیم او روزنې لپاره وگومارل. د فرانسې " بسي" نومې جنرال د حېدراباد د نظام پوځ هم روزلې و، ویل کېږي چې حېدر نایک په خپله د بسي له خوا روزل شوی و او ورسره یې کار هم کړی و.
په هغو ورځو کې حېدرعلي د کرناټیکا نواب محمد علي خان له نژدې ولیدو چې د انگرېزانو سره یې معاملې کولې. نواب د انگرېز نه امر واخیستو او حېدرعلي یې په داسې دنده وگمارلو چې د ځمکو نیول او د نورو سیمو رالاندې کول و. محمدعلي هڅه کوله چې حېدرعلي په خپله د انگرېز سره اړیکې ټینگې نکړي او یا په خپله ورسره نېغ په نېغه خبرې ونکړي. د هغه چال چلند د حېدر خوښ نه و او وربانديې بې باوره شو. په وروستیو کلونو کې هغه محمد علي په دې تورن کړو چې د ده او د انگرېزانو تر منځ یې یو دېوال درولی و او نه یې غوښتل چې حېدرهغوی ته خپل دریځ په خپله بیان کړي او د روغې جوړې تړون ورسره وکړي.
حیدرعلي په خپله نالوستی و خو ماغزه یې دومره تېز و چې هر څه به یې په حافظه کې پاتې کېدل. ده د خپل مسلکي ژوند د پیل راهېسې یو برهمن " کهانډي راو" خپل مرستیال ټاکلی و. هغه ورته د ریاضي یو داسې سیستم جوړکړی و چې خپل د پیسو حساب به یې پرې ساتلی شو. دا دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختللی سیستم و چې د مال له غنیمته تر معاشونو پورې به په کې چا درغلي نشوه کولی. ښايي د همدغه سیستم له لارې حېدرعلي خپل لښکر ډېر په ښه توګه اداره کولی شو او د میسور واک ته د رسېدو لپاره یې یوه وسیله شوه.
په ۱۷۵۷ م کې په سرنګاپټم کې د وډیار راجا د حېدراباد او د مرهټو د حملو د ګواښ سره مخ شو نو حېدرعلي نه یې مرسته وغوښته. هغه چې را ورسېدو نود میسور پوځ یې د بغاوت په حال ولیدو ځکه دوی ته معاش ورکړل شوی نه و. حېدرعلي پوځیانو ته قناعت ورکړو او راجا نه یې د پیسو غوښتنه وکړه. راجا د پیسو په ورکولو له هغه ځایه پښې وویستې او حېدرعلي نه یوازې پوځ ته د معاش ورکولو کار پیل کړو بلکه باغي او یاغي مشران یې هم ونیول. د میسور په دفاع کې حېدرعلي د هر یو خطر مخه ونیوله او په بدل کې یې له راجا د بنګلور جاګیر ترلاسه کړو.
کال وروسته کله چې مرهټو دا ځای محاصره کړو نو هغوی یې په بریالیتوب وشړل. تر ۱۷۵۹ م حېدرعلي د میسور د ټول پوځ قومانده په خپل لاس کې لرله او ده ته د راجا له خوا د فتح حېدربهادر او د نواب حېدرعلي خان خطاب ورکړل شو.
مرهټو سره د پرله پسې جګړو له کبله د میسور په خزانه کې څه نه و پاتې او د راجا مور مهارانۍ مجبوره شوه چې د پوځ مشر "ننجراج" له کاره ګوښه کړي نو دی له میسوره ووتلو ته اړشو. حېدرعلي ته په دې کار ګټه ورسېده او په دربار کې یې اغېزه نوره هم زیاته شوه. هغه وخت کانډې راو د حېدرعلي نه بېل او د راجا په ملازمت کې و. د هغه په ملاتړ مهارانۍ د حېدرعلي د لرې کولو هڅه هم وکړه. حېدرعلي د خپل لښکر سره سرنګاپټم نه په ووتلو مجبوره شو، ان تر دې چې د ده ټبر او ماشوم زوی ټیپو سلطان په خپل کور کې بندیان شول.
حېدرعلي دومره ناڅاپي سرنګاپټم نه وتلی و چې هېڅ وسایل یې نه لرل او د پوځ د معاش لپاره یې پور واخیستو. خو هغه وخت د پاني پت په مېدان کې مرهټه د احمد شاهي ځواک د لاسه دومره وځپل شول چې د میسور نه یې هم پښې سپکې کړې او حېدرعلي ته موقع په لاس ورغله چې خپل پوځ بیا ترتیب کړي. د ده اوښي مخدوم علي ۶۰۰ جنګیالي لرل او د بنګلور د چاونۍ درې زره پوځیان هم ورسره مله و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حېدرعلي له پوځ سره بيا د سرنگا پټم د نيولو هڅه وکړه خو کله چې ښار ته ور نژدې شو نو کانډي راو د خپلو ۱۱۰۰۰ عسکرو سره د ده مقابلې ته راووتلو. حېدرعلي ماتې وخوړه نو د ميسور پخواني سپاه سالار ننجراج ته يې د مرستې لاس وغځوو. هغه ورله د خپل پوځ قومانده او د " دلوايي" لقب ورکړل. د دې ځواک سره حېدرعلي يو وارې بيا سرنگاپټم ته ولاړو او د کانډي راو پوځ سره يې د جنگ لپاره مورچې ونيولې. هلته ده د کانډي راو سره يوه بله لوبه وکړه.
څو ليکونه د ننجراج له خوا د کانډي راو ځينو قومندانانو په نوم يې وليکل چې وړونکي يې په لاره په اسانه ونيول شي. په دې کې ليکلي و چې د پلان سره سم هغوی به کانډي راو نيسي او وروسته حېدرعلي ته به يې سپاري. کانډي راو داسې وگڼله چې د ده قومندانانو ورته سازش کړی دی او په پټه د حېدرعلي سره يو ځای شوي دي. دی په وېره شو، بې له جنگ کولو مېدان نه ووتلو او بېرته سرنگاپټم ته ولاړو. حېدرعلي په اسانه د دې ښار چاپېره سيمې ونيولې. وروسته کانډي راو ورته تسليم شو او حيدر علي دی يې په بنگلور کې بندي وساتلو. وډيار په دې وخت کې تش په نوم د ميسور پر تخت ناست و خو اصل قدرت د حېدرعلي په لاس کې و.
د حېدرعلي ميرمنې فاطمه بي بي د فخر النساء لقب لرلو او له واده څو کاله وروسته يې هم اولاد نه لرلو. د خلکو له خولې خبره شوه چې په ارکاټ کې د ټيپو مستان اوليا زيارت ته ډېر خلک ورځي او خپل مرادونه ترې غواړي. د اتلسمې پېړۍ دا صوفي پير د هند په جنوب کې د اسلام د خپرولو لپاره تللی و او ځايي خلک ورته اوس هم ډېر درناوی کوي. فخر النسا حېدرعلي ته يادونه وکړه نو يوه ورځ دوی دواړه زيارت ته ورغلل او دعا يې وکړه. څه موده وروسته په ۱۷۵۱ م کې د حيدرعلي زوی وزېږېدو او هغسې چې منښته کې يې ژمنه کړې وه، ماشوم ته يې ابوالفتح ټيپونوم ورکړو. په تاريخ کې دی د ټيپو سلطان په نوم وپېژندل شو.
حېدرعلي د خپل زوی د زدکړو او پوځي روزنې لپاره د هغه سيمې نامتو استادان په کار وگمارل. د وخت پياوړي عالمانو چې هندو او مسلمان دواړه په کې شامل و، د ټيپو روزنه کوله. د ديني زدکړو سره سره د هغه پوځي لارښود غازي خان نومېدو. حېدرعلي د خپل زوی لپاره د ساينسي علومو، نوې ټکنالوژۍ او د تجارت پوهه ضرور گڼله. همدا وه چې ټيپو د ماشومتوب نه په هرې موضوع ښه په اعتماد خبرې کولی شوای. ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطاطي هم کوله او د ستور پېژندنې، طب، موسيقي او انجينرۍ کتابونه به يې لوستل.
حېدرعلي د ميسور د سلطنت بنسټ په ۱۷۶۱ م کې کېښودو او مغل باچا دويم شاه عالم ته په يو ليک کې خپل ځان يې سلطان حېدرعلي خان په نوم معرفي کړو. ده د حېدر اباد د نظام سره په خپل سياست کې ډېر د احتياط نه کار واخيستو چې د مغل فرمان له مخې په جنوبي هند کې د ټولو مسلمانو رياستونو مشر و. خو داسې باورکېږي چې حېدرعلي د مغل باچا نه فرمان تر لاسه کړی و چې د ده خپلواکي په کې منل شوې وه.
د دکن د مالابار په بندر د مغلو د سمندري ځواک مشرعلي رجا (رضا) ثاني و. په دې ځواک کې ۱۰ وړې کښتۍ او ۳۰ لويې بېړۍ وې. د حېدرعلي د واکمن کېدو نه ورسته علي رجا به په دې بېړيو د ميسور بيرغونه رپول او د ټاپوګانو د تابع ساتلو لپاره يې د زورنه کاراخيستو. د مالديپ سلطان حسن عزالدين يو څه مقاومت وکړو نو هغه يې ونيولو او سترګې يې ورته ړندې کړې. بيا ډېر په وياړ يې حېدرعلي ته بوتلو.
حېدرعلي په دې کار دومره خواشينی شو چې سمدلاسه يې علي رجا د خپلې دندې نه ليرې کړو او د حسن عزالدين نه يې بخښنه وغوښته. په دې پېښه د هغه زړه له نړۍ تور او په خپلو قومندانانو يې باور ختم شو. څو ورځې په يو خانقاه کې د صوفيانو په څېر ځان ګوښه کړو او توبې يې ويستلې.
په ۱۷۶۷ م کې کله چې ټيپو د ۱۶ کلونو و نو انګرېزانو د دکن په لويديځ ساحل د کوړيال (منګلور) د بندر نيولو لپاره حمله وکړه. حېدرعلي هغه وخت په ختيځ کې د کرناټک سنګر کې د دوی د ځواک سره جنګېدو. هغه په خپل زلمي زوی دومره باورلرلو چې کوړيال د دفاع لپاره يې ورته پيغام ور واستوو او په خپله يې هم د يو لښکر سره بندر ته مخه کړه. حېدرعلي د انګرېزانو نه منګلور بلېرته واخيستو او هم په دې جنګ کې کله چې د ده ځواک په مدراس حمله وکړه نو قومانده يې د ټيپو په لاس کې وه. دا جنګ په ۱۷۶۹ م کې په يو هوکړه ليک پای ته ورسېدو.
د ۱۷۷۰ نه تر ۱۷۷۲ م پورې د مرهټو سره په ټولو جنګونو کې ټيپو شامل و. د انګرېزانو خلاف د ميسور په دويم جنګ کې کله د پلار سره يو ځای او کله په يو او بل سنګر کې جنګېدو. په ۱۷۸۰ م کې دوی د فرانسويانو، مرهټه او د حېدراباد نظام سره روغه وکړه خو مرهټو او نظام حېدرعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته دوکه ورکړه چې هغه وخت یې د انګرېزانو سره هم تړونونه کړي و.
تر ۱۷۷۹ م حېدرعلي د هند په جنوب کې د اوسني تامیل ناډو او د کېراله ځېنې برخې ونیولې. دا سلطنت دوه لکه پنځه زره کیلو مېټر ته وغځېدو.
د حېدرعلي دوره په هند کې یو سیاسي بدلون و چې هغه وخت اروپایانو خپل تجارتي شرکتونه په سیاست کې راښکېل کړي و او په لوی لاس یې پوځي اډې جوړولې. د حېدراباد نظام د مغلو د صوبه دار په حیث په دکن کې خپل ځان ته سیاسي رول غوښتو او د دې لپاره یې د انګرېزانو نه مرسته غوښتله. مرهټو د پاني پت په مېدان کې د افغانانو نه ماتې وخوړه نو څه موده په جنوب کې یې خپل ځانونه راټولول. هلته دوی د یو خوندي ریاست جوړولو په لټون و. په هغه وخت کې د کرناټیکا د کنټرول لپاره فرانسویانو او د انګرېزانو ترمنځ سیالي روانه وه چې اخر انګرېزانو ترېنه دا ملک ونیولو.
پونه د مرهټو مرکز و چې په کې د سردارانو ترمنځ جګړې کېدې. د دې ریاست راجا ناراین راو نومېدو چې تره "رګهو نات" ورته دښمن شو او په یو سازش یې خپل وراره ووژلو. دی په ګدۍ کېناستو خو نورو سردارانو د هغه مشري ونه منله او دی یې تېښتې ته اړ کړو. رګهونات د انګرېزانو سره پناه واخیسته نو هغوی ورته یو جنګي لښکر ورکړو. په بدل کې یې ترې پیسې او هغه جواهرات واخیستل چې ده له پونې ویستلي و. په پونه کې پاتې امیرانو د دو دریو ورځو یو ماشوم په دې دلیل د مشر په توګه وټاکلو چې هغه د ناراین راو قانوني زوی او د مسند حقداره و. بیا دوی د انګرېزانو او د رګهونات پر ضد جنګ ته راووتل. خو ویې لیدل چې دوی د انګرېزانو د ماتولو جوګه نه و، نو پرله پسې یې حېدرعلي ته لیکونه واستول چې مرسته ورسره وکړي.
حېدرعلي د حالاتو جاج واخیستو او د انکار پر ځای د دوی مرسته یې غوره وګڼله، ځکه د انګرېزانو قدرت ته رسېدل ورته د منلو وړ نه و.
هغه د پونې د مرستې لپاره د یو لوی لښکر سره مدراس ته ولاړو او انګرېزان یې وټکول. په ۱۷۷۹ م کې حېدر علي د ۸۰۰۰۰ لښکر سره چې زیات یې سپاره و پر کرناټیکا حمله وکړه. د تنګو درو نه په تېرېدو هغه په ارکاټ کې د انګرېزانو کلا ګانې محاصره کړې. په دې د دویم انګلیس- میسور جنګ پیل شو. حېدرعلي بریالی شو او انګرېزانو ته یې تاوانونه واړول. د یو شمېر جنګونو نه وروسته د مدراس څو ځایونه د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ته ورغلل. خو په ۱۷۸۱ م کې انګرېزانو حېدرعلي ته سخت ګوزار ورکړو، څو میاشتې وروسته په یو بل جنګ کې یې بیا ورله ماتې ورکړه او مدراس د حېدرعلي له لاسه ووتلو. هماغه وخت دی ناروغه شو او په اووم ډسمبر ۱۷۸۲ م کې د ارکاټ سره نژدې د جنګ په مېدان کې په خپل مرګ مړشو. ټیپو هغه وخت د ۳۰ کلونو و او د پلار د ځای ناستي په توګه یې دا جګړه روانه وساتله.

انګرېز د هند په لویدیځو برخو کې هم خپل اغېز زیات کړو او هرځای چې یو نواب یا راجا د بل سره په جنګ و، دوی به په کې غښتلي ته د مرستو ژمنه وکړه او سیمې به یې رالاندې کړې. دا چې ولې ځایي واکمنو یو بل سره لاسونه یو نه کړل چې له پیرنګي یې ځان خلاص کړی وی. نو په دې کې به د ختیځ هند د شرکت استازو خپل رول لوبوو. کله د سوغاتونو په ورکولو، کله د نالیدلي خطر او کله د حملې او د جنګ د تاوان یا د ګټې په حال کې د مال د تر لاسه کولو په تمه دوی یې له یو بل جلا ساتل. په خپله د هند نوابان او راجا ګان هم په دې ملامت و چې تر هغې د ځمکوالو (فیوډالانو) په څېرچلند یې کوو. د یوې سیمې ټوله شتمني به د دوی وه او د غریب او د شتمن په ژوند کې د زمکې او د اسمان توپیر و.

په ۱۸۰۳ م کې انګرېزان په رسمي توګه ډیلي کې وردننه شول او ړوندا شاه عالم یې د باچا په توګه په خپل ځای پرېښودو. د حکومت وزیران به د هغه له خوا ټاکل کېده خو پوځ په عمل کې د انګرېز تر کنټرول لاندې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاهي او شاه

په ۱۸ پېړۍ کې په کندهار کې قومي مشرانو چې د جرگې د لارې یې د افغانستان په نوم د یو سلطنت بنسټ کېښودو، په سیمه کې د مشر د انتخاب یوه بیلگه جوړه کړه. خو ۲۶ کاله وروسته دا دود وننگول شو. کله چې احمد شاه ابدالي په ۱۱۸۸ ق ( ۱۷۷۳ م ) کندهارکې له نړۍ سترگې پټې کړې نو د ده مشر زوی سلیمان د شاه ولي خان وزیر په ملاتړ باچا اعلان شو. د ده بل زوی شهزاده تیمور چې په کچه ځوانۍ کې د پنجاب والي ټاکل شوی و، له هراته راغی او لومړی کار یې دا وکړو چې د خپل پلار پتمن وزیر شاه ولي خان یې د نورو مخورو سره د بکوا په دشته کې ووژلو او په کندهار کې یې خپله باچاهي اعلان کړه.
د درانیانو حکومت د پښتنو د څو قومونو په پایو ټینگ و چې بارکزي، یوسفزي، اڅکزي، ساکزي، محمدزي، پوپلزي، نورزي او د غلزیو ټبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلا بېلې ځانګې وې. په حکومت کې هره مهمه فیصله د دوی د سردارانو په مشوره کېده. د هغه وخت لپاره په دې نوي جوړ شوي هېواد کې دا د حکومت یو ډیموکریټک سیستم و. کاواکه او خپلسري افغانانو یوازې د خپل قومي مشر خبره منله. تیمور شاه چې واک تر لاسه کړو نو د دې سیستم پر ځای د پارس او هند په ځیر یې په افغانستان کې د باچاهي نظام بنسټ کېښودو. د قومي مشرانو د جرګې پر ځای یې حکومتي خبرې په دربار کې پیل شوې.

د تیمور شاه د بې شمېرو نکاح شویو میرمنو نه ۳۲ زامن و او د لوڼو شمېره یې نه معلومېږي. د ده د مشر زوی د همایون مرزا مورسدوزۍ وه. د سلطان محمود او د فیروز الدین مور پوپلزۍ وه. د عباس مرزا او د کوهندل مور ساک زۍ وه. شاه زمان او د شجاع الملک مور یوسفزۍ وه. احمد شاه ، محمد سلطان او د یزدان بخش مور نورزۍ وه. سلطان کشور او د نادر مرزا مور د پارس د نادر شاه افشارکړوسۍ وه. محمد اشرف، محمد مظفر او جهان والا مور اڅکزۍ وه. محمد مراد، میران مرزا او د حسین مرزا مورمحمد زۍ وه. محمد هاشم او د شاه پور مور د ډیلي د مغل واکمن احمد شاه لور وه. د دې نه علاوه تیمور شاه نورې ښځې هم لرلې چې د خانانو لوڼې نه وې. ښایي د هغوی مرتبه د نورو ښځو نه ټیټه ګڼل کېده خو د زامنو نومونه د دوی د سن په ترتیب داسې دي.

نوردین، ملک ګوهر، محمد اکبر، محمد حسین، بلند اختر، شاه رخ، شاه نور، محمد ابراهیم، فرخ مرزا، خاور مرزا، محمد ایوب او جلال الدین. د تیمور شاه دا زامن به دربار ته تلل راتلل او د پښتنو سردارانو پر ځای چې د حکومت تجربه یې لرله، تیمور شاه خپل نسل او اولاده په لوړو عهدو ټاکل. ځېنو به د وینځو اولادونه د "غلام شاه" یا د کرکې نه " غلام بچه" په نوم یادول.

په ۱۷۷۰ م کې د تیمور شاه د یوسفزۍ میرمنې نواب فاطمه بیګم لومړی زوی وزیږېدو او د ده نیکه " احمد شاه " ته د لمسي زېږی یوړل شو. دا ماشوم شاه زمان ونومول شو او د شهزاده شاه زمان خطاب ورته کېده. دی د دریو کلونو و چې نیکه یې وفات شو.

کله چې تیمور شاه پلازمینه د کندهار نه کابل ته یوړه نو شهزاده شاه زمان د پنځو کلونو و. په کندهار کې د بارکزیو او د سدو زو تر منځ تربګني له ډېرې مودې روانه وه. د شاه ولي خان وژنه د تیمور شاه لویه اشتباه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ته د پلازمېنې لېږدول د ده دویمه سیاسي غلطي وه او په کندهار کې د کرکې او د نفرت د اور د وژلو لپاره څوک پاتې نشول. عبد الخالق خان سدوزي د تیمور شاه پر ضد بغاوت وکړو خو سردار پاینده خان بارکزی پرې برلاسی شو او د تیمور شاه تخت یې وژغورلو.
هغه وخت د ډیلي له خوا وجیه الدین سفیر کابل ته راغی چې تیمورشاه ورله د وجیه الدوله لقب ورکړو. په ۱۷۹۲ م کې اسد الله خان نورزی په ډیلي کې د تیمور شاه سفیر او غلام احمد خان یې نکل لیکونکی- وقایع نګار- و. تیمور شاه په دې کلونو کې په کابل کې جوړ نوي ارگ کې لکه د مغلو او پارس دربار پیل کړو. په سخت ژمي کې به دا دربار د پېښور بالا حصار ماڼۍ ته ورانتقال شو. یو وارې په پېښور کې د ده د وژلو هڅه شوې وه نو له هغې وروستو به دی پېښور ته نه تله.
ده خپل ځېنې زامن د دې پراخ سلطنت په بېلا بېلو ولایتونو کې حاکمان ټاکلي و. د ده مشر زوی سلطان همایون د کندهار، سلطان محمود د هرات، عباس مرزا د پېښور، شجاع الملک د غزني او کوهندل مرزا د کشمیر حاکم و. شاه زمان به زیات وخت په کابل کې و او د پلار په نشتوالي کې په ارگ کې ناست او مهمې حکومتي فیصلې به یې کولې.
تیمور شاه ۲۲ کاله حکومت نه وروسته، په ۱۷۹۳ م کې ( ۱۲۰۷ ق) د شوال په اوومه نېټه په کابل کې وفات شو، دی د ۴۶ کلونو و. د همایون او د محمود نه پرته د ده ټول زامن د پلار جنازې ته کابل ته ورغلل چې د هر چا هدف یا خو په خپله باچا جوړېدل او یا نوي باچا ته اطاعت کول و.
وایي چې تیمورشاه د خپل ځای ناستي په اړه وصیت نه و کړی خو ځېنو مشرانو مېرمنو یې دعوه کوله چې باچا د دوی زامن خپل ځای ناستي ټاکلي و. یوې میرمنې چې " جوان شیر" لقب یې لرلو او د شربت علي لور وه، د نورو دراني سردارانو په وړاندې شهادت ورکړو چې تیمور شاه وصیت کړی و چې د ده درېیم زوی شاه زمان دې د افغانستان پر تخت کښېني.
خو د دې څه لیکلی ثبوت ښکاره نشو، سره له دې چې تیمور شاه یو لوستی کس او د حکومت تجربه یې لرله.
په کابل کې مشران شهزاده گان او د دوی مېندو د خپلو زامنو د باچا کېدو لپاره د سدوزو او بارکزیو پیاوړو مشرانو سره لیده کاته کول. د تیمور شاه څلورم زوی عباس مرزا چې په وجود تکړه او پهلوان و، د باچا کېدو لپاره یې ځان مناسب گڼلو. خو د یو شهزاده په اختیار کې هم د کابل پر تخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېناستل ممکن نه و، ځکه دا کار د پښتنو سردارانو په لاس کې و چې تر ټولو پیاوړی یې د بارکزیو پاینده خان و.
نواب فاطمه بیگم، د پاینده خان سره خبرې پیل کړې او هغه نظر یې د خپلو زامنو لوري ته واړو. د بارکزیو په اغېز زیات سرداران او د کابل قزلباش چې د احمد شاه له وخته په افغان پوځ کې د مشرۍ دنده یې پرغاړه لرله، د شاه زمان پلویان شول. بیا هم ځېنو په کې د عباس مرزا لوري ته زور وهلو. د تیمور شاه په دربار کې د ډیلي یو مغل شهزاده مرزا احسن بخت هم ښکته پورته کېدو. هغه د عباس مرزا په غوړ کې دا خبره څڅولې وه چې شاه زمان د تخت وارث نه دی. په دې حالاتو کې پاینده خان یو چل وکړو. هغه د باچا د انتخاب لپاره ټول شهزاده ګان او سرداران په بالا حصار کې (ځېنې سرچېنې وایي چې په خپل کور کې) جرګې او خبرو ته یې کښېنول. په جرګه کې هېچا ته د وسلې راوړلو اجازه نه وه. د جرګې خبرې روانې وې، چې شاه زمان په یوه پلمه پاڅېدو او بهر لوري ته یې مخه کړه، پاینده خان هم ورپسې و. دوی چې بهر وتل نو په نورو پسې یې دروازې پورې کړې، او د پوځ عسکر ترې چاپېره ودرېدل.
تر پنځو ورځو پورې دا ټول کسان په هغه تالار کې بند و، یوازې وچه ډوډۍ او اوبه یې ورکولې. اخر چې ټولو شاه زمان د باچا په توګه ومنلو نو دوی دهغه ځای نه وویستل شول. بیا هم ټول شهزاده ګان یې په بالا حصار کې نظربند وو. د دې کار لپاره د پاینده خان دلیل دا و چې د پښتنو په سلطنت کې د وینو د توېدو مخه ونیول شي. هغه له وړاندې نه هر یو سردار نه په پټه معلومه کړې وه چې د چا په لوري و او د شاه زمان پله ورته درنه ښکارېده.
شاه زمان په ۱۷۹۳ م کې د ۲۳ کلونو په سن کې د شهنشاه زمان شاه په نوم د کابل پر تخت کېناستو. ده د احمد شاه او د تیمور شاه د نوم په بڼه سرکاري نوم " زمان شاه " کړو چې د افغانستان شاه، د خراسان امیر او درة الزمان القاب یې هم لرل. خو زیاتو تاریخونو د ده نوم شاه زمان لیکلی دی. د تیمور شاه د مړینې خبر کلکتې ته هم رسیدلی و او هلته د ختیځ هند شرکت یو هندي نژاده ایجنټ غلام سرور د افغانستان خاورې ته خپل سفر پیل کړو. د پارس باچا اغا محمد خان قاچار د شاه زمان د باچا کېدو نه خبرشو نو خپل استازی محمد حسین خان قاراګزلو، کابل ته د یوې غوښتنې سره ورواستوو. غوښتنه دا وه چې بلخ دې هغه ته په لاس ورکړي چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځایه د بخارا د امیر بیګي خان پر ضد حمله وکړي. مانا دا چې هلته یې پوځي اډه جوړوله. شاه زمان ورته انکار نشو کولی ځکه د ده خپل لښکر په مشهد کې پروت و. ده له خپل لوري د پارس باچا ته ډاډ ورکړو او دا چې بخارا پر ضد په یو جنګ کې به یې مرسته هم وکړي. محمد حسین خان ته یې په کابل کې ښې میلمستیاوې وکړې او کله چې هغه بېرته مشهد ته روانېدو نو ارزښتمنې ډالۍ یې ورته ورکړې. د قاچار باچا په دربار کې د افغان استازي په توګه ورسره "کړو خان بارکزی" مل و. دا ژمنلیک- لوظنامه- لا رسمي شوی نه و چې د پارس په لویدیځ کې روسانو حملې پیل کړې، اغا محمد هلته بوخت شو او دا خبره ورکه شوه.
شاه زمان د خپل حکومت په لومړیو څو میاشتو کې نرمي وکړه او خپل زیات مخالفان یې وبخښل. نورو ته یې د اطاعت وویل او ځینې یې په لوړو تنخواګانو ولمانځل. د هند په اړه ده په خپلې تګ لارې کې بدلون راوستلو. ترهغې انګرېزانو د هند واړه واړه ریاستونه نیولي و خو دا یې یو ځای کړي نه و. د دوی په جغرافیایي سرحدونو څلور قومونه ورسره په جنګ و، روهیله پښتانه، مرهټه، مغل او سیکان.
فرانسویانو هغه وخت په هند کې د ټیپو سلطان، د حیدراباد د نظام، مرهټو او ان چې په پنجاب کې د سیکان پوځ هم روزلو. دا د انګرېز لپاره یوه لویه ننګونه وه. په پارس کې د فرانسې او د روسیې استازي به تلل راتلل چې د انګرېزانو لپاره د اندېښنې وړ خبره وه. د هند ختیځه برخه دوی خوندي کړې وه او اوس په لویدیځ کې ډیلي ته ورنژدې یې غوښتل چې یوه سیمه د دوی منل شوی سرحد شي چې د یوې امپراتورۍ د جوړولو کار پیل کړي.
په پنجاب کې سیکان ډېرې سیمې نیولې وې او د دوی مشرانو هرې خوا ته د وېرې اچولو او د ځمکو په را لاندې کولو لاس پورې کړی و. دوی په خپلو منځو کې یو کنفیډریشن جوړکړو چې " سربت خالصه" په نوم یادېدو. خپلې سیمې یې په انتظامي ډلو ویشلې وې چې ورته به یې " میسل" ویل.
شاه زمان د ۱۷۹۳ م د ډسمبر په میاشت کې پېښور کې و او غوښتل یې چې لویدیځ پنجاب د سیکانو نه وژغوري. د ده ناسکه ورور سلطان همایون په کندهار کې پاڅون وکړو خو د هغه ځای پښتانه ورسره مله نه شول. شاه زمان د پنجاب سفر وځنډو او په بېړه کندهار ته ورسېدو.
سلطان همایون ورته د بخښنې لیک ورواستو خو شاه زمان ونه منه او ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د حاضرېدو امر وکړو. همايون پارس ته د وتلو هڅه وکړه خو په زمېنداور (د هلمند يوه ولسوالي ده چې اوس يې موسا کلا بولي) کې ونيول شو. د شاه زمان په امر د همايون سترګې ړندې کړل شوې او د نفرت په سياست کې نور تاو پيدا شو.
شاه زمان د کندهار نه کوچ وکړو او سند ته يې مخه وه چې هلته تالپور اميرانو ورته د تېرو پنځو کلونو باج نه و ورکړی. د شکارپور شاوخوا ورته خبر راغلو چې په هرات کې د ده ورور سلطان محمود (د همايون سکه ورور) د ده خلاف بغاوت کړی و او د يو پوځي ځواک سره د ده مخه نيولو لپاره کندهار ته نژدې و. شاه زمان د مير فتح علي خان تالپور سره د دريو لکو روپيو په ورکولو روغه وکړه او د ورور سره جنګ لپاره بېرته کندهار ته وګرځېدو.
د شاه زمان پوځ هرات ته ورسېدو نو د سلطان محمود د ځواک سره يې څو واړه واړه جنګونه وشول خو د شاه پوځ د سترړيا له کبله څه خاصه کاميابي تر لاسه نکړه. د دواړو وروڼو تر منځ د جوړ جاړی هڅې هم رواني وې. د محمود مور د شاه زمان کمپ ته د ننواتې لپاره ولاړه. هغه ته يې وړانديز وکړو چې افغانستان د تيمور شاه ميراث و او د زوی په حيث محمود هم په کې حق لري. دوی زيات وخت په هرات کې اوسيدلي و نو شاه زمان ورسره دا خبره ومنله چې هرات به لکه د مشهد د افغانستان تر واک لاندې وي او محمود به د شاه د لقب سره د دې حاکم وي. په دې توګه افغانستان د يو کنفيډرېشن بڼه خپله کړه چې په اداري توګه د ستونزې ښه حل و.
کله چې شاه زمان په هرات کې بوخت و، د بخارا امير د افغانستان د شمال ځېنو سيمو کې ازبک راوهڅول، يوې وسله والې ډلې په بلخ کې د والي په کور حمله وکړه او ويې نيولو. شاه زمان بېرته کابل ته ورسېدو نو ازبکو ورته د جوړ جاړي لپاره خپل استازي ورواستول او ده ورسره په هماغو شرايطو روغه وکړه چې د محمود سره يې منلي و. هغه د امو نه پورې غاړه د بخارا د امير سره جنګ نه غوښتو او دا سيمه يې په خپل پخواني حال پرېښوده.
د ۱۷۹۵ م په پای کې شاه زمان د خپل لښکر سره بيا پېښور ته مخه کړه چې په پنجاب کې د سيکانو د حملو مخه ونيسي. پر اټک له اباسين نه پورې ووتلو. حسن ابدال ته په رسېدو يې له هغه ځايه د سردار احمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مشرۍ يو پوځ د سيکان نه د جهلم د روهتاس کلا اخيستو لپاره
ورواستولو. د سيمې مسلمانان د سيکانو نه تر پوزې راغلي و، نو جاټ
(جټ) گکړاو د پنجاب نورو قومونو مسلمانانو ورسره ملاتړ وکړو او د
شېر شاه سوري دغه جوړه شوې تاريخي کلا يې بېرته له سيکانو ونيوله.
د ۱۷۹۵ په ژمي کې د روهيل کهنډ غلام محمد او ورپسې د "اودهه" اصف
الدوله استازي د شاه زمان دربار ته ولاړل چې هند د مرهټو د حملو نه
وژغوري او اسلام په کې حاکم شي، خو هغه ته يو وارې بيا د افغانستان په
لويديځو ولايتونو کې د شاه محمود د پاڅون خبر ورسېدو.
شاه زمان بېرته د بولان درې نه کندهار ته ورسېدو او د گرشک او
زمينداور تر منځ له يو بل سره په جگړې کيوتل. ۱۵ ساعته جنگ کې شاه
محمود ماتې وخوړه او د خپلو لسو تنو سره په فراه کې يې پناه واخيسته.
شاه زمان کولی شوای چې هغه يې نيولی اوبندي کړی وای خو دا کار يې
ونکړو.
د ۱۷۹۶ م د جنورۍ په مباشت کې شاه زمان د۳۰ زره پوځ سره بيا پېښور
ته ولاړو او په حسن ابدال کې يوه اوونۍ پاتې و چې خبرشو، د پارس باچا
آغا محمد په خراسان حمله کړې وه او مشهد يې نيولی و. په مشهد کې هغه
وخت د نادر شاه افشار لمسی شاه رخ د افغانستان له خوا حکومت کاوه.
دی ډېر سپين ږيری او د جنگ توان يې نه لرلو نو سمدلاسه د اغا محمد
کمپ ته ورغلو چې ورته تسليم شي. خو هلته د اغا محمد په امر ونيول شو
او په شکنجو ورکولو يې ووژلو. اغا محمد دا کار د نادر شاه د ظلمونو له
کبله وکړو، د هغه قهر دومره زيات و چې په مشهد کې يې د نادر شاه قبر
وران کړو، د ده مړی يې را وويستو او هډوکي يې تهران ته واستول. دا
مقبره نادر شاه په خپله ځان ته جوړه کړې وه او کله چې دی په ۱۷۴۰ م
کې د خپلو محافظانو له خوا په فتح اباد کې ووژل شو نو دلته يې خښ کړی
و.
شاه زمان د مشهد د بېرته اخيستو لپاره يو لوی لښکر تيار کړو. په دې
وخت کې د سولې خبرې اترې هم رواني وې. آغا محمد خراسان ورته
پرېښودو او بېرته پارس ته ولاړو. د دې پېښو نه وروستو د کلکتې نه د
ختيځ هند شرکت دوه استازي په لومړي ځل کابل ته ولاړل چې يو يې سيد
غلام محمد خان او بل يې سيد محمود خان و. شاه زمان دوی ته د ډيلي پر
تخت د باچا د ځای ناستي په توگه د مرزا محمد اکبر د نوم تصديق او


(c) ketabton.com: The Digital Library

تصويب وکړو. ښايي دا هماغه وخت و چې د ميسور د سفارت لومړي کسان کابل ته د ورتګ لپاره روان شول.
د مشهد د پېښې نه وروسته شاه زمان د هماغه کال ۱۷۹۶ م په پای کې بيا پنجاب ته لښکر يوړ‌و او په يوې لويي حملې کې يې تر لاهور خاوره ونيوله. دی د ۱۷۹۷ م په سر کې لاهور کې وردننه شو. دا وخت هغه پر هندوستان د حملې لپاره تياری کوه ځکه ده ته د ډيلي نه علاوه د ځو ځايونو نه د حملې بلنه ورکړل شوې وه. شاه زمان د هند د مسلمانو رياستونو مشرانو ته ليکونه ورواستول چې يو پيغام په کې و او هغه دا چې د خپل دښمن د ماتولو لپاره دې د ده سره همکاري وکړي. هغه د سيکانو او مرهټو د واک په سيمو کې هم جاسوسان ورواستول چې هلته ميشت مسلمانان د يو پاڅون لپاره تيار کړي او د ده حملې په وخت ورسره مله شي. دې ټولو پوځي مهماتو له کبله افغانستان څو کاله پرله پسې په جنګونو کې ښکېل و او د ملک په لر او برکې حکومتي کارونه د ده د سردارانو په لاس کې و. شاه زمان د۳۰ کلونو و او تر هغې هم سياسي بصيرت يې دومره پوخ نه و چې په ګاونډ کې د لويو لوبغاړ‌و په سياست پوه شوی وای. افغانستان په پوځي توګه کمزوری و خو د هند په لويه وچه کې نور مسلمان رياستونه د ده نه هم کمزوري و.
شاه محمود يو وارې بيا په هرات کې بغاوت کړی و چې تر شا يې د پارس لاس و چې د انګرېز لخوا لمسول شوي و. شاه زمان بېرته کندهار ته په تلو مجبوره شو. د ۱۷۹۷ م د سپتمبر په اتمه نېټه دی د کندهار نه هرات ته ولاړ‌و، محمود يې مات کړو او هغه د خپل زوی کامران سره د پارس " تورشيش " ته وتښتېدو. شاه زمان په هرات کې خپل ماشوم زوی قيصر مرزا حاکم وټاکلو او زمان خان پوپلزی يې سرپرست کړو.
د ختيځ هند شرکت پوځونو د انګرېز افسرانو په مشرئ هغه وخت د ټيپو سلطان نه علاوه د سيمې نورو وړ‌و قوتونو سره په جنګ و او نه يې غوښتل چې د هند لويديځو برخو ته د افغانستان پوځ رادننه شي. په ۱۷۹۸ م کې د شرکت يو ايجنټ مهدي علي خان پارس ته ورواستول شو. د هغه په لمسون د تهران نه يو لښکر د فتح علي شاه په مشرئ خراسان ته روان شو. شاه زمان د ۱۷۹۸ م په مني کې د هند نه دومره ليکونه تر لاسه کړي و، چې يو وارې بيا د پېښور نه لاهور ته روان شو. ايلفنسټن وايي چې " د دراني لښکر مخ پر وړاندې تګ او په لاهور کې يې مېشتېدل د هند په لر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بر کې یو تلوسه پیدا کړه. د ټولو مسلمانانو دا ارمان و چې زمونږ دین دې بیا برلاسی شي او د تیمور(مغل) کورنۍ دې په واک کې شي . په مرهټو هیبت راغی او خپلو گاونډیانو نه مرستې غوښتو ته اړ شول. د کمپنۍ معلومات دا و چې احمد شاه ابدالي د پاني پت د جنگ لپاره په " انوپ شهر" کې پوځي کمپ لگولی و او ممکن د هغه لمسي هم هلته ورشي. د کمپنۍ پوځي افسران د یو قوي لښکر سره په انوپ شهر کې داخل شول چې د دوی ځواکمن ملگري نواب آصف الدوله ( د شجاع الدوله زوی) یې مشري کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه زمان دربار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکونه او مسودې

هغه وخت چې شاه زمان  د هند د نیولو لپاره ځو واري د کابل نه پېښورته ولاړو، د میسور حاکم ټيپو سلطان د انګرېزانو او د مرهټو له حملو سره مخ و.  ده د خپلې مرستې لپاره د هغه وخت زوروړو مسلمان واکمنو ته غږ وکړو چې هندوستان دې وژغوري.  د هغه کتابتون چې د انګرېزانو لاس ته ولوېدو نو د نورو لیکونو سره په کې دا لیکونه هم و.  د ټيپو سلطان دوه استازي په سمندري بېړۍ کې کراچۍ ته له هغه ځایه شکارپور او بیا د بولان درې نه کندهار ته ورسېدل. دوی د لیکونو نه علاوه د شاه زمان لپاره شاو خوا د " پنځو لکو" روپو قیمتي تحفې هم ځان سره وړې وې.

## ۲۲ نمبر لیک :

دا لیک د ټيپو سلطان له لوري ملا عبد الغفارخان ته چې د شاه زمان يو مشر وزیر و، استول شو.

له سلام او درناوي وروسته،

د منشي رام سهای په لاس مې چې اوس اوس د باچا سلامت (شاه زمان) له حضوره راستون شوی، ستاسو موافقه لیک ترلاسه کړو. کله چې ما په ډیلي کې خپل وکیل ته  ستاسو یادونه وکړه نو  هغه ما ته ډېر اطمینان راکړو.  تاسو لیکلي دي چې زمونږ تر منځ د دومره نژدې اړيکو له کبله  د زړه په اخلاص دا مو ضروري وګڼله چې زما په استازیتوب او د حالاتو په اړه جلالت قدر ته معلومات ورکړئ. اوهغه په خوشالۍ دا مهم ځواب راواستو.

د شاه موخه دا ده، کله چې د فتح نشان لوړ او د هندوستان په لوري وخوځېدو نو په خپلې بې کچه مهربانۍ او لطف به ما سرفراز کړي. هغه مهم هدفونه چې دی په نظر کې لري، د هغو د ترلاسه کولو لپاره به کار وکړي.  ستاسو د دی نوي لطف له کبله زما فکر ډېر اغېزمن شو. مونږ د خدای پاک جل شانه او د هغه د سپېڅلي پیغمبرد هدایت په لاره روان یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ګورو چې په دې نړۍ کې هرعمل يو سبب لري او د هغې عمل يو رد عمل هم وي. د ريښتوني ملګرتيا او يوالي نه پرته بل هيڅ شی هم ارزښت نه لري.

زما له ډيرې مودې دا ارمان و چې زمونږ د دواړو حکومتونو تر منځ دوستانه اړيکې جوړې شي، خو هغه د چا خبره " هر څه په خپل ټاکلي وخت کيږي" د دې طرحې عملي کېدل د يوې مناسبې موقع لپاره ځنډيدلي و. د خدای شکر دی چې ستاسو(ملا عبد الغفار) په مداخله د دې هدف د ترلاسه کولو کار په ډاډ منه توګه سر ته رسيږي. هاغسې چې زما زړه غوښتل، زمونږ ترمنځ د ښه نيت اړيکې ۱۰۰۰ وارې نورې هم پخې شوي دي. تاسو ته د مننې ليکلو لپاره زما قلم عاجز دی. زمونږ د ملګرتيا اساس نورهم پياوړي کولو او زما د تشکر او د مننې د ښرګندولو لپاره دو کسانو ته چې ريښتوني سيدان دي او په خدا داد سرکار ( د ميسور رسمي نوم) کې لوړپوړي ملازمان دي، اوس د يو ليک د ليکلو دنده سپارل شوي ده. دا ليک به جلالت القدر باچا شاه زمان ته چې د دين ساتندوی دی، مخاطب وي او هغه ته به په کې د ملګرتيا غږ شوی وي.

د خدای پاک په فضل دوی به د ملاقات شرف ترلاسه کولو لپاره ستاسو په خدمت کې حاضرشي. زه هيله من يم چې د ځينو خبرو ته په پام سره تاسو به خوشاله شئ. په دې کې فاني نړۍ او روحاني خوشالۍ دواړه شاملې دي چې د دوی لخوا په زباني پيغامونو کې به تاسو ته ښرګندې شي. تاسو دوی د جلالت القدرحضور ته ورولئ او په خپله به د دې سفيرانو استازيتوب وکړئ. ما دوی ته د زباني خبرو لپاره سپارښتنه کړې ده. پاک پروردګار دې ستاسو ورځې شپې د سوکالۍ او د برياليتوب په شيبو تيرې کړي.

د سوغاتونو فهرست داسې دی.

**۲۱ نمبر مسوده.**

دا د ټيپو سلطان له خوا هغو دوو سيدانو ته چې مير حبيب الله او مير محمد رضا نوميږي يوه حکم نامه ده. دوی د يوې سفارتي ډلې په توګه شاه زمان ته يې وراستولي و. په دې مسوده کې سلطان خپلو استازو ته د سفارتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرو نه علاوه د لارې د تګ او د سفر تفصيل ورکوي. دا ليکنه د بسم الله الرحمان الرحيم سره پيل کېږي. بيا ورباندې د ټيپو سلطان مهر دی چې د ده نوم لاس ليک ورباندې ثبت دي.

## "مير حبيب الله او ميرمحمد رضا ته حکم نامه.

کله چې تاسو د پلازمېنې نه روان شئ نو مناسبه به دا وي چې جمال اباد ته ورشئ او د هغه ځای په اړه د "اصف" د مشورې سره سم د جيون داس صراف نه چې د "ملک التجار" د کارخانې سره تړاو لري يوه بحري کښتۍ غوره کړئ او د هغه ځای نه د سمندر د لارې کچ ته ولاړ شئ.
تاسو به د "مندرا" په بندر کې ښکته شئ چې په کې د خداداد سرکار يوه کارخانه ده. هلته په ځانګړې توګه د دې کارخانې د حالت او کاروبار په اړه معلومات تر لاسه کړئ.
د کچ د مشر "راجا رای دهن" سره د ليدنې پر وخت تاسو به ورته هغه خلعت او ليک ورکړئ چې امانت درکړل شوي دي. د راجا او دهغه د ورور او د وزير فتح محمد سره د مرکې پر وخت تاسو ورته ملګرتيا او د زړه اخلاص څرګند کړئ چې د يو کلک ايتلاف بنسټ جوړکړي. تاسو به د راجا او د ده له نورو افسرانو نه په منډهۍ کې يو کور واخلئ چې د خداداد سرکار له خوا به په کې يوه کارخانه جوړيږي. او د دې مسوليت او مشري به غلام محمد، عبد المجيد خان او ملک التجار، جيون داس ته وروسپارئ.
د دواړو کارخانو په موقعيت او د دې د حالاتو، کارخانې او د راجا او د نورو چارو په اړه ځانګړي حقايق په تفصيل وليکئ او خپل مهر په ثبتولو زما د مطالعې لپاره وليکئ.هغه داروغه چې تر پوښتنې لاندې دی، هغسې چې ورته ويل شوي دي او امر يې نه دی منلی، نو په سخته يې تنبيه کړئ او بېرته به يې سمې لارې ته راوګرځوئ چې په راتلونکې کې بيا د خپلو هداياتو نه بې لارې نه شي.

**د ټيپو سلطان دلاس ليک مهر سره**

## دويم مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو به د کچ او د دې ګاونډي سيمو تجارانوته لیکلي خبرتیا ورکړئ چې که د اسونو سوداګرغواړي، خپل مال د میسور سلطنت په بندر د پلورلو لپاره یوسي نو له دوی به محصول نه اخیستل کیږي او که نور شیان یې هم د خرڅ لپاره راوړل نو په هغې به ګمرکي محصول نه ورکوي. دا اسونه به په کوړیال کې پلوري او په بدل کې به ورته نغدې پیسې ورکول کیږي خو که دوی غواړي نو د پیسو پر ځای د دې اسونو قیمت په وریژو کې ترلاسه کولی شي.

زما له خوا دوه فرمانونه ستاسو په اختیار کې دي چې په کچ کې د دواړو کارخانو ملازمانو ته یې ورسوئ او تجارانو ته یې ورښکاره کولی شئ. د جمال اباد، واجد اباد او د مجید اباد اصفانو ته مخاطب درې لیکونه، د کچ تجارانو ته، د دوی په مالونو او اسونو د محصول د لیرې کولو په اړه دي چې تاسو سره وراستول کیږي او له تاسوهیله کیږي چې اصفانو ته یې ور ورسوئ.

**د ټیپو سلطان دلاس لیک مهر سره**

## درېیم مخ

تاسو به په کرایي کښتۍ کې د کچ نه د کراچۍ بندر ته ورشئ او له هغه ځایه د نصیر خان مېشت ځای ته مخه کړئ. کله چې درته یو منزل لاره پاتې وي نو د نصیر خان په نوم به یو لیک ولیکئ چې مضمون به یې داسې وي. دا چې تاسو هغه جلالت ماب ته د خپل حاکم لخوا د لیکونو او افتخاري ملبوساتو سره راغلي یاست او دا چې د هغه سره لیدنه ستاسو لپاره د افتخار خبره ده او زما لخوا تاسو ته د دې کار مسولیت ورکړی شوی دې.

په دې توګه په مناسبو الفاظو هغه ته ولیکئ او کله چې د هغه ځواب مو تر لاسه کړو نو د نصیرخان ښار ته به روان شئ ( نصیر خان بلوڅ د بولان درې پر څنډو پروت و چې کراچۍ ته نژدې سیمه وه-ل). بیا د هغه ځای د دود سره سم به ورته خپل احترامات او سلامونه ووایئ او افتخاري ملبوسات او لیک به ورته په پتنوسونو کې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو دواړه به هلته ښېل ښېل پنځه حیدري روپۍ او یوه احمدي ( سیکه چې د سرو زرو د مهر برابر وه-ل) د نذر په توګه ورکړئ. زما له اړخه به سلامونه او برکات، چې د مسلمانانو په منځ کې دود لري، ورته ووایئ او هم په دې وخت کې به د ملګرتیا لپاره ورته کلک باور ورکړئ او هغه ته به په دې توګه خطاب وکړئ.

تاسو ته دې امر وي چې جلالت ماب نصیر خان په خدمت کې حاضرشئ او د هغه لخوا د پارس د سفر پر وخت چې محافظان درسره واستول شول، نو دا به د هغه مهرباني وي.هلته په رسېدو د هغه هېواد ټول عجايبات او د مشاهېرو مقبرې وګورئ او له هغه ملک نه، رنګا رنګ نایابه او غوره توکي چې درته د راوړو دنده سپارل شوي وه، راوړئ.

د استازیتوب او د دوو یا دریو مرکو نه وروسته تاسو به ورته یادونه وکړئ چې هغه ملکونه چې مسلمانان په کې ژوند کوي په یومشترک هدف په خپلو کې سره یو دي. دا چې په خداداد سرکار کې د بېلا بیلو نژادونو خلک مېشت دي او د یو ملک التجار په مشرۍ تجارت کوي. هغه جلالت القدر ته په عاجزانه غوښتنه کوي چې که په خپل لطف راته په هغه بندر کې د یوې کارخانې د جوړولو ځای راکړي چې تجارت په کې روان وساتل شي. د دې لپاره به هغه جلالت القدر ته د حکومت د ګمرک د قانون سره سم محصول ورکول کېږي. دا چې ملک التجار په دې موضوع د جلالت القدر په نامه یو لیک لیکلی دی او یو افتخاري لباس یې هم ورلیږلی دی چې د ده له اړخه قبلولو ته په انتظار دی.

د داسې استازیتوب نه وروسته تاسو به لیک او لباس ورته وړاندې کړئ او د هغه نه به دا قول واخلئ چې د کارخانې د ځای په اړه به د کراچۍ د والي لپاره یو امر درکوي. بیا به تاسو بندر ته ورشئ او هغه ځمکه به ترلاسه کړئ چې ملکیت مو پوخ شي. له هغه ځایه به تاسو یا د زمکې او یا د اوبو د لارې چې ټولو خطرونو ته به مو پام وي، ډېر په هوښیارتوب، د جلالت القدر، شاه زمان ملک ته سفر وکړئ او چې کله بېرته راتلئ یو واری بیا د نصیرخان سره وګورئ. بیا کراچۍ ته په را رسېدو د تجارانو نه یو شریف کس غوره کړئ چې د کارخانې چلولو دنده او د هغې د مشرۍ مسولیت ورته وسپارل شي.

**د ټیپو سلطان دلاس لیک مهر سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم مخ

د شاه زمان ملک ته په رسېدو به تاسو په کابل کې دارالمقوم ته ورشئ.
خو هغه ښار ته چې لا یو منزل لاره پاتې وي نو تم شئ او د هغه د وزیر
په نوم یو لیک ولیکئ. د قاصدانو د میرزا په لاس دا لیک د دې پیغام سره
یو ځای ورواستوئ. مضمون به یې داسې وي چې تاسو د خداداد سرکار له
خوا د سفیرانو په توګه د هغه محترم سره د لیدو لپاره راغلي یئ او د هغه
مهربانۍ ته انتظار یئ.
کله چې وزیرتاسو درغواړي، نو کابل ته ورشئ او په هغه ملاقات کې چې
درته کوم ځای په نښه کړو هماغه د خپلې استوګنې لپاره واخلئ. تاسو به له
ځان سره لیک او خلعت وړي وي، او ورته به یې وړاندې کړئ. تاسو
دواړه د نذر په توګه بېل بېل پنځه احمدي روپۍ هلته ورکړئ او د هغه
حکومت د دود سره سم ورته مناسب سلامونه اواحترامات ووایئ. د لږ
انتظار نه وروسته که هلته د کېناستو دود وي نو د وزیر په امر به کېنئ خو
که رواج د ودرېدو وي نو ولاړ واوسئ. بیا د پتنوسونو نه لیک اوخلعت را
واخلئ او دا به هغه ځای نه چې وزیرناست وي، په یوه مناسبه فاصله
کېږدئ. بیا څنګه چې د مسلمانانو په ملکونو کې رواج لري، د خداداد
سرکار له خوا احترامات او سلامونه وړاندې کړئ او ورته ووایئ چې ټول
مومنان د عقیدې له پلوه په خپلو کې ورونه دي. د هغه د رتبې په مناسبت
د ملګرتیا لپاره د زړه د اخلاصه اداب او تسلیمات ووایئ. وروسته به د ده
سره خبرې اترې پیل کړئ چې په کې د خبرو مفهوم واضح شي.
دا چې تاسو دواړه سیدان او د بي بي فاطمې اولاده یئ . دا چې تاسو د هغه
محترم حضور ته ورغلي یئ او د هغه امر به په ځای کوئ. او دا چې تاسو
ترې هیله لرئ چې د ده په واسطه به اجازه ولرئ چې د افغانستان د باچا
جلالت القدر سره د ملاقات شرف ترلاسه کړئ. په دې توګه به تاسو هغه
ته ځانونه وروپېژنئ. کله چې د وزیر لخوا تاسو د جلالت القدر شاه زمان
د لیدنې اجازه واخیستل شوه، نوپه پتنوسونو کې به لیک، خلعت، ګاڼې او د
اس زینونه کېږدئ او څنګه چې وزیر درته ویلي وي، په داسې ترتیب باچا
ته یوسئ چې د هغه ځای د دربار د دود او دستور سره مناسب وي. تاسو د
دربار د اصولو سره سم ډېر په مهارت خپل احترامات او سلامونه
وروړاندې کړئ اوخپل دواړه لاسونه پرنامه ټړلي ودرېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې درته د کېناستو امر وشو نوهماغسې کېنئ لکه چې په دربار کې دود وي.  د هغوی تشریفاتو او رسمیاتو ته په احتیاط ځیر واوسئ. کله چې د وزیر د لارې تاسو د سفیرانو په توګه په هغه شاهانه دربار کې باچا ته مخامخ شوئ نو په دې الفاظو به استازیتوب وکړئ. تاسو د دې دومره لېرې فاصلې نه د عالي جاه  له خوا د جلالت القدرحضور ته په دې موخه راغلي يئ چې درته يو شمېر مهم کارونه په غاړه دي او جلالت القدر هر وختې چې غوښتنه ترې وکړه نو هغه ته به يې وړاندې کړئ.
۱۷ رمضان ۱۲۲۳ هجري ( مارچ ۱۷۹۶) سيد حسين ( کاتب) له خوا ليکل شوی.
**د ټيپو سلطان دلاس ليک مهر سره**

## پنځم مخ

کله چې په لومړي ځل د جلالت ماب دربار ته ورغلئ نو تاسو دواړه به د نذر په توګه ۱۱ احمدي سکې وړاندې کړئ.

د ټيپو سلطان دلاس ليک مهر سره

## شپږم مخ

تاسو سره به د نهو عسکرو يوه ډله بدرګه د سرکار د شيانو د حفاظت له پاره استول کېږي.  په دوی به پام کوئ چې خپله دنده په ښه توګه سرته ورشوي، خپله وسله پاکه اوځلانده وساتئ،  پنځه واړه وخته  لمونځ  اودس وکړي او د رسم ګذشت پر وخت د تکبير ناره وکړي.  تاسو به د خپل سفر په بېلا بېلو پړاونو کې، د غوايانو ګاډي يا د بل هر ډول باراوړونکو، د ځارويو ګاډي چې په هغه وطن کې د تګ راتګ  لپاره کارېږي، په کرايه کوئ، چې بار درسره يوسي.  په دې بار کې د هر يو عسکر لپاره به د سرکار له خوا څلور جوړه جامې وي.  په هغه هېواد کې به تاسو د هغو ټوکريو لپاره ګاډي په کرايه کوئ چې په کې خلعتونه او د سرکار نور سوغاتونه ايښې دي او ځان سره به يې وړئ.

**د ټيپو سلطان دلاس ليک مهر سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم مخ

تاسو به ۷۵۰ فاروقي سکې ځان سره واخلئ چې درسره ملو د ببلا ببلو ملازمانو د معاش لپاره وي او هرڅه چې مزد وي هغه به ورله ورکوئ. د دې نه علاوه تاسو ته به د بېړنيو حالاتو لپاره ۵۰۰ امامي سکې ورکول کېږي. دا پيسې چې کله تاسو ترلاسه کړل نو د لګښت حساب به يې په دوسيه کې ليکل کېږي. د سرو زرو ۳۴ احمدي سکې هم تاسو ته ورکول کېږي چې د وړاندې ذکر شوي نذر لپاره دي. تاسو کولئ شئ چې که يو ځای درته د نذر ورکولو لپاره مناسب ښکاره شو نو تر لسو پورې نقرې حيدري سکې، د هغو ۵۰ امامي سيکو نه چې وړاندې مو ذکر کړ، واخلئ.

**د ټيپو سلطان دلاس ليک مهر سره**

## د ۲۸ نمبر ليک شاه زمان ته

د ډيلي احمق سلطنت او تباهي يې تر لمر هم روښانه دي. ډېلی چې يو وخت د مسلمانانو د حکومت يوه پايه وه، اوس د بربادئ پر لور روان دی، ځکه خو کافران برلاسي شول. اوس دا ضروري ده، د کلکو ايمان لروونکو مسلمانو مشرانو دنده ده چې د کافرانو د له منځه وړلو لپاره سره يولاس او يو موټې شي. زه د دې فرض د پوره کولو ډېر ارمان لرم خو په دې لاره کې مې مخی ته درې ډوله ملحدان دي، نظام، مرهټه او انګرېز. که مونږ په خپلو کې سره يو شو نو بيا وېره نه ده پکار ځکه د اسلام د منونکو يو ځای کېدل ضرور دي.

که د دې کار لپاره، د تخت ښکلا، د سلطنتونو فاتح (شاه زمان-ل) په دو وړانديزونو کې يوغوره کړو نو اسلام به بری ومومي. يو وړانديز دا دی چې جلالت القدر دې په خپل پلازمېنې کې پاتې شي او خپل يو باوري سردار دې له يوه پوځ سره يوځای ډيلي واستوي. دغه استازی به ډيلي ته په رسېدو د اړتيا وړ کارونه ترسره کړي او له تخته د بې انصافه باچا تر لېرې کولو وروسته دې د هغه د ټبر نه يو وړ کس د حکومت لپاره غوره کړي او دغه حاکم دې د يوه کال لپاره په ډيلي کې پاتې شي چې ټېکاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځ ته شي. بیا دي له ځان سره راجپوت مشران یوځای او د دکن په لوري روان شي. دا لښکر چې د کومو ځایونو نه تېرېږي، په لاره کې به ورسره د سیمې برهمن او هندوان هم مله شي. له دې ځایه به زه د خدای پاک په مرسته د جهاد لپاره بیرغ پورته کړم او کافران به مجبوره وي چې د اسلامي عقیدې تورې ته په ګونډو شي. کله چې دوی زمونږ په تورو له منځه ولاړل، نو پاتې کافران به راته هېڅ هم نه وي. وروسته د دکن په معامله، چې ټولو به ورته غاړه ایښې وي، یوې روغې جوړې ته رسېدی شو.

**دویم وړاندیز**

که د باچا سره د اعتبار وړ یوسردارهم نه و، یا د داسې کار په غاړه د اخیستو جوګه نه و او جلالت القدر د خپل ملک په حالاتو او په خپل حکومت یې زړه ډاډه و، زما دا وړاندیز دی چې تاسو په خپله ډیلي ته روان شئ او هلته د مناسبو کارونو له ترسره کولو وروسته خپل یواعتباري کس د وزیر په توګه وټاکئ او په خپله بېرته خپلې پلازمېنې ته ولاړ شئ. هغه کس چې د وزیر په توګه ټاکل کېږي، باید با استعداده اوتکړه وي چې د خپل یوځ سره تر یو کال په ډیلي کې پاتې شي او د شا وخوا د ملکونو مشران دې په ځان راټول او تابع کړي.

په بل کال دې جلالت القدر له خپلې پلازمېنې نه د خپل ټاکل شوي وزیر د مرستې او ملاتړ لپاره د یوځ یوه وړه ډله ورواستوي. هغه دې بیا د هندوستان د امیرانو سره یو ځای د دکن لوري ته روان شي، که کافران ورسره د جنګ کولو لپاره مېدان ته راودانګل، نو د خدای په مرسته به د اسلام اتلان توره په لاس به د نړۍ په دې برخه (میسور) کې هغوی ته سزا ورکړي. د دوی له ماتولو وروسته به دهغوی لپاره مناسب کار دا وي چې ستاسو جلالت القدر د وزیرسره په ګډه په یوې ټاکلې سیمه کې ما سره یو ځای شي، چې د ملک د انتظام لپاره ګامونه پورته شي.

**استازو ته حکم نامه - فرمان-**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو له باچا نه وغواړي او هیله تري وکړئ چې له دغوو دوو پلانونودي، یو غوره کړي. هغه که هر یو وړاندیزغوره کړو نو په لیکلي بڼه دې چې د جلالت القدرلاس لیک او مهر پرې ثبت وي، تاسو ته دروسپاري. پر دې سربېره که باچا په دې دواړو کارونو خوښ و او اجازه یې درکړه او یو باوري کس یې درسره کړ نو تاسو به د شاه په خدمت کې حاضر شئ او د دې کار لپاره به لیکلی فرمان ترینه واخلئ. له دغو ټولو کارونو تر پای ته رسولو وروسته، تاسو به هغه باوري کس سره یو ځای ماته حاضر شئ.
خو که باچا غوښتل چې له تاسو دې یو کس له هغه سره پاتې شي نو یو تن دې هملته ایسار وي او بل دې د جلالت القدرد لیک او د هغه د معتمد ملازم په بدرګه دکن کې باچا ته حاضرشي.

## ۲۳ لیک د ټیپو سلطان له خوا شاه زمان ته د لیک مسوده

دا لیک د خدای او د پاک پیغمبر له نومونو او د باچا شاه زمان د رتبې سره برابر د رسمي سلامونو سره پیل کیږي. هغه ټول القاب او محاورې چې د داسې لیکونو په پیل کې یې لیکل رواج و، ژباړل شوي نه دي.

د لوی خدای شکر دی چې په دې نیکمرغه وخت کې زه د جلالت القدر، ارایش تخت، د دین خپرونکی، د ملحدانو او د ظالمانو وژونکی له خوا خبرېږم چې هره شېبه د روښانه دین د ملاتړ او د دې د خپرولو لپاره یې ځان تیار کړی دی. د جلالت القدر د تقوا، نیکۍ، انصاف، مذهبي ولولې او زړه ورتوب د راپور سره، او دا چې ده د ټولو مسلمانانو او په تېره بیا زما لپاره د مننې کوم احساس څرګند کړی دی، هغې راته داسې خوشالي او تسلي راکړې ده چې بیانول یې ګران بریښي. د ده لپاره ۱۰۰ زره یا ښایي د دې نه هم زیات مسلمانان د هرې جمعې په ورځ د دې پلازمېنې په دوو جامع جوماتونو کې چې یو یې "یا اولا" او بل "اقصی" نومېږي، راټولېږي او د لمانځه نه وروسته ورته دا دعا کوي چې خدای پاک دې تاسو ته دومره توفیق درکړي چې د محمد(ص) د نوم اخیستونکو خلکو مرستې ته را ورسیږئ. هغه کسان دې تباه شي چې د محمد دین ورانول غواړي او غواړي چې موږ د هغوی په څېر شو. درته دوعا کوو چې د پاک پروردګار په مرسته دې د دغه دښمن په وړاندې بری او کامیابي ستاسو په برخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ډېر باورلرم چې خدای پاک په خپله په سپېڅلو ټکو فرمايلي دي چې " هغه څوک چې له ما غواړي زه يې ورته ورکوم" زما باوردی، دا خلک چې هغه ته سوال کوي نو د هغوی په غوښتنه به خدای پاک جلالت القدر ته توان ورکوي چې د دين د حفاظت او ساتنې لپاره درته بری درکړي. په دې کې شک نشته او جلالت القدر به خبر وي چې زما ارمان جهاد کول دي. د دې معقول پلان هدف مو دا دی چې د زمکې په منځ کې الله پاک د مسلمانانو د ملکونو ساتنه هماغسې کوي لکه چې د نوح کښتۍ يې ساتله. هغه د کاواکه ملحدانو لاسونه پرېکوي. د جلالت القدر ولوله او نيکي د دې سبب شول چې ټول مومن مسلمانان اوس تلوسه لري چې خپل احساسات او جذبه درته مخامخ څرگند کړي. خو زمونږ په منځ کې ټول خنډونه به جلالت القدر ته ښه څرگند وي. نو ځکه د هغواصولو په رڼا کې چې قانون راته جوړکړي دي، دا به مناسب وي چې دوه افتخاري کسان دې په خپله نوې مياشت (سپوږمۍ-ل) وگوري چې ختلي ده او که نه چې د دې پخلی وشي.

محترم مير حبيب الله او مير محمد رضا چې په خداداد سرکارکې تر ټولو لوړپوړي کسان دي، ستاسو حضور ته د مخامخ کېدو وياړ لري. دوی اوس د سفيرانو په توگه د ليکونو سره ستاسو دربار ته استول کېږي. هغه د چا خبره چې، ليک نيم ملاقات وي. د مخامخ ليده کاته پرځای ليک د ملاقات يوه ښه وسيله ده. دا به زما لپاره د ډاد وړ وي چې نه يوازې د جلالت القدرد حالاتو نه خبر شم چې د هغه د بري او د شان سره مناسب وي، بلکه داسې به وگڼل شي چې په بدل کې ما په خپله د جلالت القدر سره وليدل.

د ملگرتيا او د اړيکو لپاره بنسټ جوړول هم روحاني اړيکې پياوړې کوي او د وخت اړتيا پوره کوي. بله دا چې د کومو کسانو نومونه پورته ياد شوي دي، دوی به وياړمن شي چې جلالت القدر ته په ځېنو مهمو موضوعاتو زما احساسات ورڅرگند کړي. دا چې په هندوستان کې د خلکوعقيدې ډېرې کمزورې شوي دي او تاسو ته د دې حالت د څرگندولو مسؤوليت ما دوی ته سپارلی دی. د دې نه علاوه زه دا وړانديز كول غواړم چې که ستاسو جلالت القدر په مالي توان پوره وي نو دا دواړه لوړ رتبه کسان به مدام ستاسو په دربار کې پاتې وي. دوی به د ليکونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکړي ورکړي، د همغږۍ او د دواړو غاړو ترمنځ د اړیکو د ټینګولو او زیاتولو وسیله شي، هغسې چې په دین کې رانه غوښتنه شوی ده" تاسو یو بل ته ډالۍ ورکړئ" هغه کسان چې دلته یاد شوي دي د دوی په لاس د خپل ملک یوڅو توکي درلیږم چې زمونږ د دین د منونکو په منځ کې یې رواج دي. زه باور لرم چې اعلی حضرت به د دې په قبلولو ما شکر ګزار کړي، سفیرانو ته به په خپل حضورکې د حاضرېدو اجازه ورکړي اوسفیران به بېرته د سرحده دې برخې ته راورسوي. د ډالیو نوملړ په دې ډول دي...

## ۲۵ نمبر لیک

د ټیپو لیک د شاه زمان استازي غلام محمد خان ته

ستاسو پرله پسې موافق لیکونه راورسېدل او د دوی په متن مو ځان پوه کړو. ستاسو په استازیتوب د خداداد سرکار حالات نواب ملا عبدالغفارخان ته بیان کړی شو او په دې اړه ډیلي کې مېشت زما وکیل ته لیکونه ورکړل شوي و. د هغه له اړخه ستاسو یو لیک چې زما په نوم و، راورسېدو. زه په دې کې ستاسو د اخلاص، لوړ احساس او ولولو نه ډېر اغیزمن شوم. د نواب ملا عبد الغفارخان له خوا لیک او ستاسو خپل د زړه له جذبې خطاب ما ته د مونشي رام سهای او د خداداد سرکار د وکیلانو په لاس را ورسېدل. د دې لیک مضمون زما لپاره د اطمینان وړ و چې راته یې بې کچه تسلي او زما فکر ته یو نوی ژوند را وبخښلو.

زه باور لرم چې د اړیکو د جوړولو لپاره به مونږ هم دغسې کار روان وساتو او د عقیدې د ودې لپاره مو کوټلي ګامونه اخیستي دي چې خدای او هم د ده پاک پیغمبر یې تاکید کړی دی. تاسو به ترخپله وسه زیار باسئ چې زما د زړه هدفونه پوره کړئ، صمیمانه ملګرتیا زیاته اومخلصانه تړون لا هم کلک شي.

ستاسو د دوستانه لیک ځواب نواب ملا عبد الغفار خان له پیغام سره یو ځای د محترم میرحبیب الله او میرمحمد رضا په لاس درواستول شو چې زما د حکومت په ملازمانو کې له لوړرتبه غړو څخه دي. دوی ته دا دنده سپارل شوي ده چې د جلالت القدر شاه زمان او زما د حکومت ترمنځ د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

والي د ټېنګولو لپاره کار وکړي. د پروردګار په مرسته دا دواړه کسان به د وزیرانو لپاره زما د لیکونو سره او جلالت القدر ته زما د خطاب سره دروړسیږي او تاسو سره به یوه غونډه وکړي. د ریښتونیو اړیکو لپاره ضرورده چې تاسو د نواب سره، د لیدو اجازه واخلئ او داسې انتظام وکړئ چې دا دواړه، شاه زمان ته د درناوي د وړاندې کولو لپاره چمتو شي.
هلته به دوی جلالت القدر ته زما د هیلو د څرګندولو جوګه شي چې باچا ته یې د شفاهي رسولو دنده ورترغاړې شوې ده.

زه باور لرم چې تاسو به پوره زیار باسئ چې زما د ارمانونو پوره کولو لپاره لاره هواره شي او زما سفیران چې څومره ژرکولی شي د خپل ماموریت له پوره کېدو او هدف له ترلاسه کولو وروسته، بېرته راورسیږي. زه مو له خلوص او لیک له استولو منندوی یم.

## ۲۶ لیک. د ټیپو سلطان له خوا شاه زمان ته د لیک مسوده

۱۲۱۱ هجري، ۷ شعبان چې د میلادي کال۱۷۹۷د فبروری د پنځمې نېټې سره سمون خوري

له رسمي سلامونو او پیرزوینونه وروسته،

د خداې پاک فضل دی چې جلالت القدر، د تخت ګوهر، قدرت او عظمت لرونکی خپل زیات وخت د پاک پیغمبر د دین د پرمختګ لپاره تېروي.
څرنګه چې باچا سلامت د ریښتوني عقیدې د بنسټ جوړولو ته په دوامداره توګه کار کړیدی او تر اوسه یې کوي، هماغسې نور بې دینه خلک هم په نړۍ کې خپاره دي (چې د کفر لپاره کار کوي-ل)
د شرق نه تر غرب پورې ټولو خلکو ته اوسنی حالت څرګند دی، هماغسې لکه چې لمر په دې کایناتو کې ټولو ته ښکاري. د دې لپاره چې د خداې پاک او د هغه د نبي امر پر ځای شي، زما په فکر د دین د دښمنانو پر ضد د یو جهاد لپاره باید مونږ لاسونه یو کړو. په دې خاوره ( مېسور-ل) کې د اسلام د دین منونکی هره جمعه کله چې د لمانځه لپاره یو ځای شي نو په دې الفاظو دعا کوي، " پاکه خدایه، هغه خلک هلاک کړي چې زمونږ مخه نیسي، او د دوی ګناهونه د دوی پر سرونو ورنسکور کړي هاغسې سزا ورله ورکړه چې دوی یې حقداره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه باور لرم چې د قدرتونو رب به د خپل محبوب (پيغمبر-ل) په لحاظ د دوی دعاګانې قبول کړي. د يو سپيڅلي هدف لپاره زمونږ ګډې هلې ځلې به پای ته ورسيږي اود دې الفاظو ترتاثيرلاندې چې " ستاسو پوځونه به بريالي وي" مونږ ته به کاميابي او فتح را کړي.

د ټولو برياوو ورکونکي خدای په مرسته: د هغو خلکو لپاره جهاد د ژوند يو مناسب هدف او پايله ده چې د دين د سلطنت پر تخت کېناستل يې خوښ وي. د دې انعام هغه استقلال دی چې راته ګټور تمام شو. زه د خپل خدای د بې حده مهربانۍ نه خوشاله يم چې تل زما حفاظت کړی دی او تر اوسه پورې يې ژغورلی يم. د دې ثبوت په خپله د خداداد سرکار خاوره ده چې چاپېره ترې دښمنان راتاو دي. خو لکه د نوح د بېړۍ يواځې ولاړه ده او د دين په دښمنانو يې نظر دی.
په قران پاک کې راغلي دي، " پاکي او ناپاکي برابر نه وي." خو په اوسني وخت کې چې څومره ډېره ناپاکي خپره ده، مونږه حيرانه کړي يو.
د دې نه وړاندې دوه ښاغليو سيدانو، مير حبيب الله او مير محمد رضا ته دنده سپارل شوې وه چې له تاسو سره د ليدو لپاره د خداداد سرکار له خوا په بېړه د سمندر د لارې ولاړ شي. د خدای پاک په لار ښود، دوی به ستاسو حضور ته د خپلو احتراماتو د وړاندې کولو شرف تر لاسه کړي.
هغه خبرې به درته مخامخ (شفاهي-ل) وکړي چې تاسو ته د ويلو لپاره پرې باور شوی دی. تاسو جلالت القدر ته به د جنوب او د ختيځو سيمو د حالاتو په اړه تفصيل، خپل استازی غلام محمد خان درکړي.
خدای دی د يو روڼ افق نه د برياوو او د پرتم لمر تل دربانډی ځلانده وساته.

## ۲۷ نمبر ليک

د ټيپو سلطان ليک د شاه زمان مشر وزير وفادارخان په نوم

نيټه ۷ شعبان، ۱۲۱۱ ( ۵ فبروری ۱۷۹۷)

له رسمي سلامونو اونيکو هيلو وروسته.

ستاسو ډېر دوستانه او موافق ليک چې په هر يو توري کې يې د نژدې والي او د عزت احساسات څرګند و، را ورسېدو. د دې سره د نواب ملا عبد

(c) ketabton.com: The Digital Library

الغفارخان او د نواب امين الملک ليکونه هم راورسېدل او ما ته يې دېرخوند راکړو. تاسو ليکلي دي چې نواب ملا عبد الغفار خان د خداداد سرکار له خوا جلالت القدر د ليدنې لپاره يو دوستانه بيان وراستولی دی. او په يو يو توري يې د جلالت القدر ذهن ته دا خبره ورسوله چې د دې لپاره باچا عالي جاه ستاسو بې کچه شکر گزاره دی او تاسو ته يې نواب نورمحمد خان امين الملک او نواب ملا عبد الغفار خان په لاس زما لپاره دوستانه ليکونه را استولي دي.

په دې کار ما ته دومره خوشالي اوخوند رارسيدلی دی چې د بيانولو لپاره يې توري نه لرم. د دې خبرې په اورېدو چې جلالت القدر په ټينگه غواړي چې د هندوستان لوري ته راشي، زما روح ژوندی شو. خدای دې په خپل فضل زمونږ د دواړو ارمانونه پوره کړي. تاسو وړاندې يوه غوښتنه کړې ده، چې زمونږ دلچسپي يوه ده نو زه دې بايد خپلې اندېښنې په کاغذ وليکم او هرهغه څه چې له تاسو يې غواړم، د هغې امر درته وکړم. په لنډو کې به ووايم چې زما ارمان دی چې که جلالت القدر ما سره يو ځای شو نو مونږ به هغو دښمنانو ته سزا ورکړو چې تراوسه مو پريښي دي، او دې ته به يې نه پرېږدو چې زمونږ ملکونه دې راڅخه لاندې کړي. د پاک پروردگار په مرسته د ملک جنوبي برخې به په مکمله توگه له دوی پاکې شي.

د دې نه وړاندې دوه محترم سيدان مير حبيب الله او ميرمحمد رضا د سمندر له لارې دراستول شوي دي ځکه چې شيطان دښمن د زمکې په هره برخه کې خپور دی. دوی ته زما د زړه د ځېنو خبرو د ويلو دنده هم ورکړل شوې چې ما يې په ليک يادول مناسب ونه گڼل. دوی به جلالت القدر ته نورې دېرې باوري خبرې هم وکړي، د عقيدې رڼا اوس تته شوې ده چې د هند په هره برخه کې په ښکاره ليدل کيږي چې ويلو ته يې هېڅ اړتيا نشته. ورځې مو نيمکرغه او له بريالیتوبه ډکې ووسه.

## ۲۸نمبر د شاه زمان اصل ليک، ټيپو سلطان ته

له رسمي سلام،د خدای او د هغه د رسول د نومونو له يادولو وروسته، سلطان ته القاب ليکل شوي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو لیک د دوستانه احساساتو او احتراماتو سره چې په کې د دین د خپراوي لپاره تلوسه څرګنده وه او د بې دینو کاواکه کافرانو د بیخ ویستلو غږ شوی، را ورسېدو. مونږ ته دا خبرهم راکړی شو چې په جوماتونو کې، د جمعې د ورځې له لمانځه وروسته د خدای په دربار کې دعا کېږي چې زمونږ سلطنت دې پراخه شي او زمونږ د بري بیرغونه ځپانده او رپانده وي. کله چې ستاسو احساسات ستاسو د سفیرانو میر حبیب الله او میرمحمد رضا له خوا زباني راته وویل شول نو د دې کاراهمیت راته څرګند شو. تاسو د سفیرانو په لاس یو څو ډالی رااستولي دي او غوښتنه مو کړې وه چې ستاسو د سرکار دوه کسان دې زمونږ په دربار کې پاتې وي. د دې نه علاوه د اړیکو ساتلو او ټېنګولو په تړاوو هم ځانګړي پیغامونه راورسېدل چې زمونږ ملګرتیا ته یې یوه نوې ولوله ورکړه.

لکه چې ستاسو زیرک ذهن هدف لري چې دښمن دې تباه برباد او د پیغمبر(ص) دین دې هرځای خپور وي. که د خدای رضا وي، ډېر ژر به مونږ د خپل فاتح پوځ سره د مشرکانو او نورو سره جنګ کوو، او هغه سیمې به له دغه بې شرمه قوم نه د توري په زور ازادې کړو چې د دې ځایونو اوسېدونکي په سوله او امن کې ژوند وکړي او ډاډ تر لاسه کړي.

لکه چې تاسو زمونږ په دربار کې د خپلو دوو کسانود پاتې کېدو غوښتنه کړې وه چې زمونږ ترمنځ دوستانه اړیکې نورې هم پیاوړې شي، نو مونږ ستاسو په دې غوښتنې راضي یو. یو څو توکي چې دلته یې تفصیل لیکلی دی د خپل احترام د څرګندولو لپاره ستاسو د سفیرانو په لاس مودرلیږلي دي چې ستاسو پیغام یې په شفاهي ډول ورسوه او تاسو یې سپارښتنه کړې وه.

**د هغو ډالیو نوملړ چې تاسو ته ډالی کېږي، دا دی.**

## ۲۹ نمبر مسوده

ټیپو سلطان له خوا شاه زمان ته لیک.

نېټه ۲۴ رحماني، شاداب کال۱۲۲۶. ۲۳ شعبان ۱۲۱۳ هجري.( ۳۰ جون ۱۷۹۹ میلادي )

سلامونه او احترامات. د شاه زمان رسمي القاب او نومونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د دوستانه لیک په ځواب کې ستاسو د جلالت القدر مهربانه ځواب راته د خداداد سرکار د دواړو سفیرانو میر حبیب الله او میر محمد رضا په لاس راورسېدو. په دې زمونږ ملګرتیا دوام داره شو چې زما د خوشالۍ او د تسلیت سبب شو. تاسو اعلی حضرت په دې لیک خپله خوښي څرګنده کړې ده چې د هند اوسېدونکي به امنیت او خوشالي بېرته واخلي. تاسو راته د هرې شخړې د هوارۍ لپاره ډاډ راکړی دی.
دا خبره په مکمله توګه د پوهې وړ وه او ما ته ټکي په ټکي دا خبر راکړل شو چې د سفیرانو له خوا جلالت القدرته شفاهي چې هر څه وویل شول، دی پرې خوښ و. دې خبرې ما ته بې کچه اطمینان راکړو.

په دې وخت کې انګرېزان، ستاسو دربار ته د خداداد سرکار له خوا د سفیرانو له ورتګ نه خبر شوي دي او دا چې د دواړو حکومتونو ترمنځ کلکې اړیکې جوړې شوي دي نو دوی ناراضه دي. دوی د کافرانو او ملحدانو سره لاسونه یو کړي او زما پر ضد یې وسله پورته کړې ده. دوی لیکلي دي ( په راتلونکې برخه کې د دې وضاحت شوی دی-ل ) چې د اسلام د دین له منځه وړلو پلانونه لري...وایي " داسې ډېرې خبرې به د دوی له خولې راووځي خو د دوی الفاظ به پرته له دروغو بل څه نه وي" که خدای کول نو دوی به د غازي جنګیالو د تورو خوراک شي." بد پلانونه په خپله د هغوی د جوړونکو پر سر پرېوځي."

مونږ د خدای د لارې مزدوران او د خدای پاک د امر تابع یو. مونږ د نړۍ له باچا او د هغه له ریښتوني استازي چې د پخونیو بدعتونو او ناوړه کارونو له منځه وړونکی و، پرته د بل هیچا ملاتړ نه لرو، ما پر همدوی تکیه کړې ده او همدوی خوښي بخښونکي دي. په قران پاک کې راغلي دي چې کم شمېرو پر ډېرو او غښتلیو برې موندلی دی

زه د خپل فکراو د ټولو حواسو د توان، د یو مقدس جهاد لپاره تیار یم. د خدای پاک امر ته مې غاړه ایښې او په دې باور لرم چې دا زما مذهبې فرض دی او د دې مهمې معاملې لپاره تاسو سره په تماس کې یم ځکه چې زمونږ مذهبي ګټې سره شریکي او یو دي.

هماغه سیدان چې مخکې یې ذکر شوی دی اوس د دویم ځل لپاره د جلالت القدر دربار ته استول کېږي او هدف مو دا دی چې تاسو ته ټول حالت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفصيل او مخامخ ووايي. د دوی له خولې به جلالت القدر د هرڅه نه خبر شي. د دين په دفاع کې زه دې ته مجبور شوم، هغوی چې د حکومت مشري يې پر غاړه ده، د اسلام لپاره به همدا ډول احساس ولري، نو جلالت القدردې خپلې هغه هلې ځلې چې مونږ يې منندوی يو، د دوی د ماتولو لپاره هم په وينا او هم په عمل کې پلې کړي. " خدای پاک د پاکو زړونو او د نيکو خلکو مل وي."

(*وضاحت ) د ټيپو سلطان مشر سکتر حبيب الله له شواهدو داسې ښکاري چې ده دا خبره د هغه ليک د جملې پر اساس وکړه چې د ختيځ هند کمپنۍ ګورنرجنرال، ټيپو ته په اتم نومبر ۱۷۹۸ م کې استولی و او دا د دې ليک د څلورم پراګراف په وروستۍ برخه کې ليکل شوی و. هلته سلطان ته په ګوته شوې وه چې د فرانسويانو سره د ده د اړيکو په نتيجه کې د ده واک، د ده د سلطنت، حکومت او د دين ثبات ته به خطر جوړشي.

### ۳۰ نمبرليک

د ټيپو سلطان د ليک مسوده چې د ترکي سلطان ته يې استولی و.

د خدای له نامه او له سلامونو وروسته

د جلالت القدرشانداره ليک چې په ۱۱ ربيع الاول ۱۲۱۳ هجري ليکل شوی و، د انګريزانو له لارې راورسېدو. د دې ليک ترلاسه کول زما وياړ دی چې د عظمت او شان وړ، د لطف سرچينه او بې کچې حوصله بخښونکی و. د دې ليک متن د يو والي او د نژديوالي بنسټ نورهم پوخ کړو او زمونږ ملګرتيا ته يې نور استحکام هم ور په برخه کړ.

جلالت القدر ليکلي دي، " د مصر په پرشکوه خاوره، سرګرمه فرانسويانو په دوکه او په سازش حمله وکړه او له جلالت القدرسره يې د پخوانۍ اوکلکې ملګرتيا لحاظ هم ونکړو. د داسې بې دينه او سپين سترګو خلکو او د دوی د سر کشه نسل د مخنيوي لپاره د عثماني بندر له خوا کوټلي ګامونه واخيستل شول. د دې لپاره د خپلو مسلمانو ورونو سره د دښمن د سازشونو پر ضد، زما مرستې حاضرې دي. د هند د خاورې د دفاع لپاره د انګريزانو پر ضد که زما هره خواشيني وي نو د هغې لپاره به زه د جلالت القدر سره اړيکې ټينګې کړم. کله چې د خدای په مرسته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلالت القدر د اداري له خوا هغه اندېښني لېرې شي چې زما پرې تسلي وشي نو د مخالفت او د بيلتون پر ځای، د يوه غږ او د اتحاد غوره هدف به تر لاسه کړو."

جلالت القدر په دې الفاظو ما ته وياړ رابخښلی دی اوبايد په دې خبره مونږ پوه شو چې د خدای پاک په ملاتړ او د رسول الله په واسطه، ټول مسلمانان چې د شانداره عثماني سلطنت اوپه خداداد سرکار کې ميشت دي، د ورورولۍ او د عقيدې په لحاظ، تر منځ يې احترام او رابطه لکه د يوې ستني د بنسټ په څېر کلک دي. د دې ملګرتيا او د يو والي نښې بيا بيا ورليږل شوي دي چې يو د بل سره مرسته کوي. د خدای د لارې دغه خدمتګار ستاسو ديني ورور او د جلالت القدر د کلکې ارادې تابع دی او زمونږ تر منځ هېڅ ډول اختلاف نشته. زه له تاسو غوښتنه کوم چې د جلالت القدر په ذهن کې هر څه چې د مسلمانانو د ګټې او د دوی د خير ښېګڼې لپاره وي، ما ته دې ووايي.

فرانسويانو د جلالت القدر پر ضد تېری کړی دی نو دا داسې ده لکه چې هغوی له ټولو مسلمانانو سره دښمني کړې ده. خدای پاک د هند د خاورې ساتونکی او حفاظت کوونکی دی. د هغه نه وروسته په دې لوی تخت ناست غوښتنه کوونکی به هېڅکله هم د خلکو د دفاع او خدمت په چارو کې بې غوري نه کوي. زه پوره باور لرم چې جلالت القدر به په هره معامله کې د خپلې مرستې او د ملاتړ لپاره به موږ نوکرانو ته مسئوليت سپاري، د خداداد سرکار نه پرته، کفر او شرک پر ټول هند برلاسي دي . دا خبره دې تاسو ته په ډاګه شي چې د باچاهانو باچا د تخت د پای سره ولاړ د هند په دی سيمه کې سازش، دوکه، او د مسيحيانو لاس څنګه بر شو:

" يو افغان چې نوم يې داود خان و، په ډيلي کې د مغل باچا له خوا د ارکاټ صوبه دار وټاکل شو.هغه مهال، انګرېزان او فرانسويان د خپلو کرغيړنو بېړيو سره هغه ساحل ته راورسېدل او هدف يې تش تجارت و. دوی له ځانه سره د خپلو ملکونو ځېني شيان لکه ، چاقوان، ستنې ، لوښي او د شيشې سامان د خرڅولو لپاره راوړل. په دې کې ځېنې توکي هغوی د صوبه دار د غولولو لپاره ورته د نذر په توګه ورډالۍ کړل. بيا يې غوښتنه وکړه چې دوی ته د زمکې يوه ټوټه چې تش يو کور په کې جوړيدی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي چې دوی هلته ژوند وکړي. بیا به دوی د اروپا نه خپل مال راغواړي اود دې لپاره به ورته مناسب محصول هم ورکوي. دوی به شا وخوا دولس کسان په هغه کور کې وساتي. صوبه دار د دوی غوښتنه ومنله او انګرېزان یو څه موده هلته میشت و.

بیا داسې وشول چې د عالمګیر زوی شاه عالم بهادر چې د هند امپراتور و، د داود خان په نوم یو شاهي فرمان، د دې مضمون سره ورواستو چې خپل یو بااعتباره دیوان دې په ارکاټ کې پرېږدي او په خپله دې باچا ته حاضرشي. لکه چې امپراتور ورته امر کړی و، داود خان، خپل نایب سعادت الله خان وټاکلو او په خپله ډیلي ته روان شو. په ډیلي کې د یو وزیر په اشتباه او بې غورۍ سعادت الله خان غداري وکړه او د هغه ملک مشري یې په خپله غاړه واخیسته.

هماغه وخت انګرېزانو او فرانسویانو صوبه دار ته د نورو کورونو د جوړولو په موخه د نورې زمکې لپاره غوښتنه کړې وه. هغه چې په خپله یې بصیرت نه لرلو، اشتباه یې وکړه او دې ته یې غاړه کېښوده او دوی چې کومه ځمکه غوښتله، ور یې کړه. له هغې وروسته دې دواړو قومونو هلته وړې کلا ګانې جوړې کړې او لکه د چاونۍ سل کسان یې په کې میشت کړل."

د ټیپو سلطان دواړو استازو د لیکونو سربېره د شاه زمان لپاره شفاهي پېغام هم وړی و چې په کې له هغه نه غوښتنه شوې وه چې د۲۰ زرو پوځ سره دې د هند لورې ته ولاړ شي چې لګښت یې ورسره منلی و. د دې جنګ لپاره یې ورته ۳۰ میلیونه روپۍ هم ورکولې.

دا لیکونه د هغه وخت حالت په ګوته کوي چې دواړو باچاهانو خپل ځانونه د هند د ټولو مسلمانانو ژغورونکي ګڼل. دواړو د مسلمان په حېث د خپل مسئولیت احساس کوو او په دې پوهېدل چې که په عمل کې یې څه ونکړل نو دا ټوله سیمه به د غېر مسلمان ځواکونو لاس ته پریوزي. ټیپو سلطان په وروستیو کې د انګرېز د مخنیوي لپاره پر افغان او ترک ځواکونو ډېر باور کاوه، خو دښمن او رقیب یې تر هغه هوښیار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیپو سلطان

## د ټيپوسلطان ميراث

د هند نامتو ساينسپوه عبدالکلام چې ۲۰۰۲ نه تر ۲۰۰۷ م پورې د خپل هېواد ولسمشر هم و، په خپل ژوند ليک کې وايي چې کله په ۱۹۶۳ م کې د امريکا د فضايي څېړنو مرکز "ناسا" ته ولاړو نو د "والپس" په ټاپو کې د توغنديو د توغولو ټکنالوژۍ يې مطالعه کوله.
د دې د ودانۍ په بهرني تالار کې يو انځور يې وليدو چې په کې څو پوځيانو په يو جنګ کې توغندي ويشتل. دا پوځيان سپين پوستي نه و او عبد الکلام ليکي، يوه ورځ مې دا انځور له نژدې وليدو نوهغه د هند د ټيپو سلطان پوځيان و چې د انګرېزانو سره جنګېدل. په هند کې خلکو دا هېر کړي دي چې لومړي توغندي د ټيپو او د ده د پلار حيدرعلي له خوا جوړ شو خو د نړۍ په بل سر کې ناسا دا خبره لا هم ياده ساتلې ده.
په ۱۷۹۲ م کې په اوسپنې پوښلي توغندي د لومړي ځل لپاره د ټيپو سلطان پوځ د انګرېز ضد جګړه کې وکارول چې د توپو په مقابله کې د دوی زوروره وسله وه. په دې توغنديو کې د اوسپنې په نل کې بمبيرۍ (چورلک) چاودېدونکي مواد له ځانه سره وړلو چې تر لېرې واټن پورې به يې ويشتل. دا توغندي دوه کيلومېټره لېرې پورې به رسېدی شول. د ټيپو سلطان د پوځ لپاره دا توغندي په "تارامنډل" نومې ځای کې جوړېدل. هغه وخت دا به يې د بانس په ډنډو تړل چې تېره څوکې يې لرلې. د ټيپو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان د توغندیو ویشتونکي کندک د " کشون" په نوم یادېدو. په دې کې ۱۵۰۰ کسان و خو وروستو یې دا شمېره پنځو زرو ته ورزیاته کړه.
د میسور جوړ شوي توغندي د اوسني راکټ پیل و. په سرنګاپټنم کې یو ځانګړی غولی د دې د توغولو لپاره جوړ شوی و چې چاپېره ترې دېوال تاو و. په ۱۷۸۰ م کې د پولیلور په جنګ کې دا راکټ د انګرېز پوځ پر ضد وکارول شول او هغوی ماتې وخوړه. دا منظره د دریا دولت ماڼۍ په دېوال انځور کړې شوه. هغه جنګ کې دې توغندیو د انګرېز پوځ د وسلو زېرمتون ویشتی و.
د انګرېزانو سره د میسور په درېیم او څلورم جنګ کې هم دا توغندي وکارول شول. ه غه وخت د دې غږ د هرې خوا پوځیانو کې وېره او اندېښنه پیدا کړه او اسونه او پیلان به ورباندې په ټوپونو شول. کله به دا په نښه نه لګېدل او یا به پوچ شول خو، د دې جنګونو د ګټلو لپاره یې د ټیپو سلطان سره ډېره مرسته ونکړه.
په ۱۷۸۶ م کې ټیپو سلطان د خپل پلار له خوا پاتې بحري ځواک هم پیاوړی کړو او په ۴۰ بېړیو یې توپې کېښودې. پر هرې جنګي بېړۍ د څلورو نه تر شپږو پورې توپې او بارود اېښودل شوي و. ټولټال ۱۳۲ توپې په بېړیو بار وې. د ده د بېړیو په تل کې به "مس" لګیدلي و چې په اوبو به ژر نه خرابېدو.
د ۱۸مې پېړۍ په وروستي کال د هند په ډېرو برخو کې خلکو تیاري کوله چې د افغان ځواک ملا وتړي. روهیله پښتانه په لوی شمېر وسلو راټولولو اخته شول او هر مسلمان ان تر دکن په دې هیله و چې کله به د شاه زمان د اسلام د بېرغ سره وړاندې ورځي. د جونا ګړه نواب د ټیپو سره ژمنه کړې وه چې کله د ده پوځ هند ته ورداخل شو نو شاه زمان ته به د ورځې یو لک روپۍ خرځ ورکوي.

خو شاه زمان په لاهور کې خبر شو چې د پارس پوځ بیا پر هرات ورننوتلی دی. دا لومه د انګرېز له خوا ورته د پارس د لارې غوړول شوې وه او افغان باچا په کې په اسانه ونښتو. شاه زمان د سیکانو یو ځوان سردار رنجیت سنګ سره په لاهور کې لیدلي و او هغه ورته ډېر قدر عزت وکړو. افغان باچا ولیدل چې هغه ځوان د سیکانو د راټولولو توان لري او تر پېښور ورسره بدرګه روان و. هغه په پېښور کې یو فرمان جاري کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د هغې تر مخه رنجیت سنگه د پنجاب والي وټاکل شو. د افغان پوځ نه د جهلم په سیند کې څو توپې (د دې شمېره د پنځلسو شاوخوا وه) په خټو کې پاتې شوې چې بل کال په دوبې کې د رنجیت سنگه یو قومندان صاحب سنگه وویستلې او پېښور ته یې واستولې.

پارسیانو د هرات په هغه حمله کې نورهېڅ ونکړل، تر شین ډنډ (سبزوار) ورغلل او بیا واپس ولاړل. د انګرېزانو چې څه مطلب و هغه پوره شو، چې شاه زمان د هند د حملې نه پاتې شو. "سر جان کې" د انګرېز او د پارس د ژمنلیک په اړه لیکې:

" د دې عهد نامې یو شرط دا و چې که چرې بیا دراني باچا په هند د حملې هوډ وکړو نو د ایران شاه به د پښتنو ملک په یو لوی لښکر تباه برباد کړي او دی به د پښتنو باچا سره هېڅ شان روغه نه کوي. تر څو چې یې ورسره دا ژمنه نه وي کړې چې هغه ( شاه زمان) د انګرېزانو سره به هېڅ جنګ نه کوي."
د انګرېز پوځ په ۱۷۹۸ م کې فرانسې ته په مصر کې ماتې ورکړې وه او د دې جګړې بریالی جنرال آرتهر ویلزلي، په ۱۷۹۹ م کې میسور ته ورواستول شو. د سلطان ټیپو سره دا د کمپنۍ د ځواکونو څلورم جنګ و. ختیځ هند شرکت ۲۶ زره پوځ وراستولی و چې په کې ۴ زره اروپایان او نور هندي نژاده و. ۱۶ زره نور سپاره د حیدر اباد نظام له خوا په کې مله و او همدغسې د مرهټو شمېره هم زیاته وه. ټولټال ۵۰ زره پوځ په سرنګاپټم د حملې لپاره تیار ودرېدو او د دې نامتو کلا یې محاصره کړه چې د ټیپو سلطان کلک سنګر و.
بل خوا د ټیپو سلطان سره ۳۰ زره پوځ و او د مۍ په میاشت کې دوی خپل دفاعي جنګ پیل کړو. هغه خبر نه و چې د ده خپل وزیر او مشاور میر صادق د دکن د نظام له خوا د انګرېزانو یو خفیه پیغام تر لاسه کړی و چې که دی د جنګ د میدان نه ووتلو نو لوی انعام به ورله ورکوي. د مۍ د میاشتې په څلورمه نېټه سخت جنګ ونښتو او سلطان ټیپو ته چا خبر ورکړو چې میر صادق خپل عسکر له میدانه ویستلی او د جنګ نه یې لاس اخیستی و. بل کس ورته خبر راوړو چې د میر صادق پوځیانو د تلو نه وړاندې د سرنګاپټم د کلا یوه برخه په بارود ړنګه کړې وه او د انګرېزانو پوځ د هغه ځای نه کلا ته راننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټيپو سلطان په خپله توره په لاس وجنګېدو اخر ټپي شو او راپرېوتو. هغه وخت د کمپنۍ دوو انګرېز پوځيانو د ده تورې ته لاس کړو چې په لاسته يې قيمتي ډېرې لګيدلې وې. ټيپو په هغو دوو کې يو په خپل لاس ووژلو او بل پرې ګوزار وکړو نو ساه يې ورکړه. په تاريخ کې لږ باچاهان داسې دي چې د جنګ په ميدان کې تر ورستيو شېبو ولاړ او توره په لاس وژل شوي دي. ټيپو په نړۍ کې د هغو باچاهانو نه و چې تر وروستۍ شېبې وجنګېدو.

د ده جنازه په بله ورځ وشوه او په ټول ښار کې ماتم شو. کله چې د ده مړی يې د خپل پلار څنګ ته په لحد کې ښکته کولو نو سخته سيلۍ او طوفان راوالوتو. د انګرېز پوځ يو افسر رچرډ بيلي په خپلو يادښتونو کې ليکي چې " ما په سمندر کې ډېرې سختې سيلۍ، طوفانونه، باد او باران ليدلي دي خو په هغه ورځ چې کوم طوفان و، هغه بې سارې و."
د ميسور د نيولو او د ټيپوسلطان د وژل کېدو نه وروستو د هغه د پوځ ۷۰۰ توغندي او ۹۰۰ توغونکي مشينونه د انګرېزانو لاس ته ورغلل.
هغوی دا توغندي برتانيا ته يوړل او هلته په ساينسي ډول يې مطالعه کړل.
د توغنديو دې ټکنالوژۍ انګرېزانو ته په جنګ کې دومره تاوان نه و رسولی خو دوی په خپله ترېنه کار اخيستل غوښته. هغه وخت په انګلستان کې د صنعتي انقلاب دور و او د اوسپنې په ويلې کولو ډېر نوي مشينونه جوړېدل. د مېسور نه دوی د راکټ د جوړولو ميکانيزم هم وموندلو او د دې ډيزاين يې نه يوازې کاپي کړو بلکه د دې له مخې يې وروسته په انګلستان کې خپل توغندي جوړ کړل.
په ۱۸۰۱ م کې د دوی يو انجينير " ويليم کانګريو" په خپل نوم کانګريو راکټ جوړ کړو. داسې توغندي يې د نپولين ( ناپيليون) پر ضد په جنګونو کې يې هم وکارول. کانګريو د راکټو په اړه درې کتابونه چاپ کړل. له هغه وخته په ټوله اروپا کې د راکټونو جوړول پيل شول چې تر اوسه يې بې شمېره انسانان وژلي دي. د ټيپو سلطان د پوځ له خوا توغول شوي د ميسور د راکټ نمونې اوس د لندن د شاهي توپخانې په ميوزيم کې اېښې دي. په سرنګاپټم کې د توغنديو غولی اوس په کنډوالو بدل شوی دی او لاروي يې د ډېرانو په توګه کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میسور د سقوط نه وروسته انګرېزان په دې باور شول چې د کرناټیکا نواب عمدة الامرا د ټیپو سلطان سره مرسته کړې وه او هغه یې هم د نوابې ګدۍ نه لیرې کړو. د ۱۹ مې پېړۍ د پیل سره د هند په جنوب کې انګرېزانو له مخې یو لوی خنډ لېرې شوی و. د دکن حیدر اباد نظام د دوی تر لاس لاندې و او د ټیپو په ځپلو یې ځان په خپل واک کې ټینګ کړی و. په جنوبي دکن کې د میسور دې ښکلې سلطنت یوه زرینه دوره پای ته ورسېده چې اوس یې خلک یوه افسانه ګڼي. د میسور پر تخت انګرېزانو د وډیار د پخواني واکمن یو زوی کښېنولو چې د هند د خپلواکۍ پورې یې دا نوابي په لاس کې وه خو اصل اختیارات د انګرېز سره و. د ټیپو سلطان وژل او په مصر کې د فرانسویانو ماتې چې په نتیجه کې نپولین بېرته فرانسې ته ولاړ، د برتانیا د سلطنت اوج و.

ټیپو سلطان د څلورو میرمنو نه،۱۶ زامن او اته لونې لرل. د ده ټول ټبرد ارتهر ویلزلي له خوا په زوره کلکتې ته واستول شو ځکه انګرېز په وېره و چې دوی به د خپل پلار بدل اخلي او یا په راتلونکي کې به ترېنه د میسور خزانه غواړي. د ټیپو ټول زامن یې د یو بل نه جلا او تر څارنې لاندې وساتل. ډېره موده وروستو په هند کې د انګرېز حکومت فیصله وکړه چې د سلطان ټیپو یو کړوسي ( د څلورم زوی د لمسي) اصف علي شاه ته به څه نا څه شاهي مراعات ورکړي. هغه ته د یو کور او د ماشومانو د تعلیم لپاره څه پېسې ورکړل کېدې.

په میسور کې سلطان ټیپو د خپل مور او پلار سره په هغه مقبره کې خښ کړل شو چې ده وربادنې ګومبده جوړه کړه او چاپېره د یو ښکلي باغ نه علاوه جومات هم شته چې مسجد اقصی نومېږي. هغه دا وصیت نه و کړی چې کوم ځای به خښېږي خو د ده زامنو او مشیرانو همدلته د سلطان د خښولو فیصله وکړه.

دا مقبره د خښتو اود چونې نه جوړه دې چې نوکدار محرابونه لري. د دې ستنې د تورې تېږې نه او چاپېره دېوالونو کې د رڼا لپاره جالۍ جوړې دي. دننه ورتلو لپاره په دالانونو کې د دیودار د لرګي دروازې دي چې په کې د پیل د غاښ ډیزاین جوړ دې. د مقبرې په چت د ټیپو سلطان د پوځ لباس ته ورته د زمري د پوستکي برګې لیکې دي.

ټیپو سلطان د مسلمانانو په تاریخ کې د "میسور د زمري " په لقب پېژندل کېږي. د ده مقبرې ته هر کال په زرګونو خلک د زیارت لپاره ورځي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يو روحاني شخصيت قبر ته چې روان وي. د هر دين خلک دلته خپل
مرادوونه غواړي او په کال کې يوه اوونۍ د ده په مزار ځانګړې نمانځنې
کيږي.
د برتانيا د ملي عسکري موزيم له خوا د انګريزانو د لسو لويو دښمنانو يو
فهرست جوړ شوی دی چې په کې د ټيپو نوم هم شامل دی. په نورو کې د
فرانسې نپولين او د ترکې مصطفی کمال اتاترک نومونه دي. انګريز کله
چې په هند کې خپل تاريخ ليکي نو د ټيپو سلطان په اړه وايي، دی د ميسور
قانوني واکمن نه و، دوی " ډي فيکټو" توری ورته کاروي چې مانا يې
"غاصب" ته ورته ده. هغه قوم چې په خپله يې د هند لويه وچه د تجارت
په پلمه ونيوله او ځان يې د دې خاورې قانوني واکمن کړو، په دې خبره د
هند وګړو ته قناعت ورکوي چې د مغلو او په تېره بيا د مسلمان واکمنو له
جغ نه يې خلک ازاد کړل.
ټيپوسلطان ۴۵ کتابونه په خپله يا خو وليکل او يا ترخپلې څارنې په کاتبانو
يې وليکل. ده په خپله ليکني کولې شوې، او په ماشومتوب کې يې ځان
لپاره څو اصول په خپل لاس ليکلي او حيدر علي ته استولي و. ده به خپل
خوبونه هم ليکل او د کټ سر ته به يې قلم او کاغذ پروت و. د دې نه
علاوه هغه نورو ملکونو ته د سفارتي ليکونو متن په خپله ورکوو چې
وروستو به کاتبانو په سرکاري مراسلو وليکل.
په ۱۷۸۵ م کې د طب په اړه په فرانسوي ژبې ليکل شوي يو کتاب د
فرانسې حکومت ټيپو سطان ته ډالۍ واستو. هغه په څو ژبو کې د دې د
ژباړې امر وکړو. په هغه کال ده په سرنګاپټم کې يو پوهنتون جوړکړو
چې " جامعه امور" نومېدو. په دې کې په يو وخت کې د ديني زدکړو سره
سره عصري تعليم هم ورکړل کېدو. د ملک هر يو جومات امام ته
امرشوی و چې په خپل جومات کې مدرسه هم جوړه کړي. په دې مدرسو
کې د زده کونکو نومونه او د کتابونو فهرست به د باچا د معاينې لپاره
تيارېدل. که يو ماشوم به له ښونځي وتښتېدو د هغه سيمې د تعلقدار دا دنده
وه چې ماشوم بېرته ښونځي ته راولي.
د ټيپو سلطان په کتابتون کې د هغو رياستونو کتابونه و چې ده نيولي او د
نورې خزانې سره يې تر لاسه شول. هغه په محل کې خپل شخصي
کتابتون لرلو چې په کې د نايابه کتابونو يوه خزانه وه. کتابتون د يوه
ځانګړي مسئول له خوا ساتل کېده. په ميسور کې د کتابونو د جلد بندۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره يې يو مطبع پرانيستې وه. د کتاب په پوښ کې دننه د خدای د نامو سره د پيغمبر او د هغه د کورنۍ او د خلفاوو سپيڅلي نومونه ليکل کېدل. د پوښ په سر او بيخ کې د " سطنت خداداد" توري ليکل کېدل. ټيپو سلطان د ډوډۍ پر وخت هم يو چا ته د ښه کتاب د لوستلو ويل او په دربار کې به يې هر وخت عالمان موجود و. په عام ژوند کې او د ليکنو لپاره يې فارسي ژبه غوره ګڼله. خو د سيمې لوی ژبې، کناډه، مرهټې، تيلوګو يې زده وې او په عربي هم پوهېدو. اردو او وروسته فرانسوي ژبې يې هم زده کړې وې. انګرېزي يې لږه زده وه چې د اروپا سفيرانو سره به يې خبرې کولی شوې. په کتابونو کې د دين او د تصوف کتابونه يې خوښ و. په منطق، فلسفه، تاريخ ، قران تفسير، حديث او فقه کتابونه يې لوستل. د شپې ويده کېدو نه وړاندې يې مطالعه کوله، ټيپو چې يو کتاب لوستلو نو په هغې به يې خپل نوم او مهر ثبت کړل. د کتابتون په زياتو کتابونو د ده نوم ليکلی دی. خپل دستخط به يې لکه د يو خطاط په ښکلي املا وليکه.

هغه انګرېز چې د ده ليکونه يې په انګرېزي ژبې وژباړل، ويليم کرک پيټرک نومېدو او وايي چې د ده ليکنې له نورو ډېرې ښکلې او لوړې وې. د هغه وخت يو انګرېز مورخ وايي چې که څه هم دی د ختيځ واکمن و خو د علم له پلوه يوه خزانه وه، دی د هند لومړی واکمن و چې په ۱۷۹۲ م کې خپل زوی يې د لوړو زدکړو لپاره فرانسې ته واستوو. په دې توګه هغه په فرانسې کې د حکومت سره اړيکې ټينګې کړې او هلته يې د هند لومړی سفارت جوړولو غوښتنه وکړه. د فرانسې حکومت ورته ويل چې شهزاده دې فرانسوي ژبه زده کړي او د دې لپاره يې ترېنه د کال۵۰ زره روپۍ هم وغوښتې. ټيپوسلطان دې ته غاړه کېښوده خو د ميسور د درېيم جنګ له کبله هغه په دې کار دومره پام ونکړی شو.

کله چې انګرېزانو ټيپو سلطان ته ماتې ورکړه نو د ده په کتابتون کې ۲ زره د لاس ليکلي کتابونه ايښي و. د ده د خزانې په څېر دا يې هم په دريو برخو ووېشلو. يوه يې په کلکته کې " فورټ ويليم " کې پرېښوده. دويمه يې انګلستان کې کېمبرج پوهنتون او درېيمه يې د اکسفورډ پوهنتون کتابتون ته واستوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټيپو مقبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شاه زمان واک

د ۲۰ میلادي پېړۍ په نیمایي کې د افغانستان باچا ظاهر شاه له سریزې سره یو ځای د عزیزالدین وکیلي فوفلزي ( پوپلزي) یو تاریخ خپور شو چې د شاه زمان د دورې په اړه و. په دې کې لیکل شوي دي چې ۲۳ کلن شاه زمان د افغانستان باچا اعلان شو نو په ډېره دبده یې دربار جوړ کړو." د سلطنتي جشن په ورځ، چې د ۱۲۰۷ هجري قمري د حمل د مېاشتي له حسابه را معلومېږي، شاه زمان د خپل سن د تثبیت لپاره ناسته را وغوښته، پدې ناسته کې په دواړو اخترونو او د جمعې د لمانځه په خطبو کې د هغه د نوم د اخېستو مضمون هم ولیکل شو." شاه زمان په خپل سر د مخملو خولۍ اېښې وه چې درې " جوغې" یې لرلې." په دوی کې یوه جوغه د احمد شاه، بله د تیمور شاه او درېیمه په خپله د ده د واک نښه وه. د دې مخملي ټوپۍ چاپېره الماس او زمرد ټومبلي و او ښایي د شاه زمان لپاره ځانګړې جوړه شوې وه. د ده پلار تیمور شاه د څلورو جوغو ټوپۍ په سروله چې سمبول یې څرګند نه دی.

د هغه د سلطنت له پیره په یو پاتې شوي قلمي انځور کې چې د هغه مهال د شاه زمان دربار په کې ښکاري، د ده د خولۍ چارچاپېره جواهر ټومبل شوي دي، د شاه په غاړه هم د ډېرو قیمتي جواهرو، الماسو او زمردو امیلونو سربېره به د هغه په یو مټ د کوه نور او په بل "فخرج" الماس ځوړند و.

د ده ورور د شهزاده سلطان محمود (شاه محمود) نقل قول دی چې د جنګ پر وخت هغه به له خپل سر څخه هغه ښکلې او زړه راښکونکې ټوپۍ چې د زمرودو او الماسو له څلورو تاجونو څخه جوړه شوې وه، لېرې کړه، یوه عادي ټوپۍ به یې په سر کړه او جګړه به یې په دغو عربو الفاظو پیل کړه چې، هل من ناصر ینصرني ( ایا څوک مرسته کوونکی شته چې زما مرسته وکړي؟)

د دې ټول شان او شوکت سره سره د افغانستان پوځې ځواک د دې جوګه نه و چې د خپلې خاورې دفاع یې کړې وای. د کمپنۍ یو انګرېز جاسوس جورج فوسټر چې په ۱۷۸۳ م کې د پېښور نه کابل، بیا کندهار او بیا یې هرات او مشهد ته سفرونه وکړل، لیکي چې د هرات او د مشهد چارې افغان باچا مکمل د پارس په واک کې ورکړې وې. د افغان پوځ په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې لويه برخه يې سپاره و، خو د پليو عسکرو دسته هم لري چې ټوپکونه هم ورسره و. افغان پوځ د مشهد ښار محاصره کړی دی،خو دوی توپې نه کاروي. فوسټر وايي " د افغانستان لوی سلطنت ته، چې اوس اوس جوړ شوی دی که نظر وکړئ نو د دې پوځ بيکاره ښکاري، او هيڅ نظم او ډسپلن نه لري، د چا امر نه مني او کاواکه چلند کوي. خلک وايي چې د احمد شاه په واکمنۍ کې دوی ډېر تکړه او منظم و. هغه خپل پوځ ډېرغښتلی او بااختياره ساتلی و. خو وايي چې افغان عسکرهغه وخت هم مغروره او خبره به يې نه منله." وايي چې تيمور شاه پنجاب ځکه سيکانو ته پرېښودو چې د ده ډېر پوځيان د جنگ د ميدان نه تښتېدل."

کله چې فوسټر د پارس پوځ وليدو نو افغان پوځ ورته د هغوی نه بهتر ښکاره شو، وړاندې ليکي چې " د پارس پوځ مشر نه لري اوعسکر يې د خپل وطن سره وفا نه کوي. دوی د ټوپکو او توپو سره هم زيات بلد نه دي." فوسټرچې د مشهد نه وړاندې ولاړو نو يوه پراخه سيمه د خپلواکه افغانانو په لاس کې وه. دی ليکي " که دومره پراخه ځمکه د يو زړور او غښتلي باچا په لاس کې وای نو د پارس نيول به ورته ډېر اسانه کار و. خو تيمور شاه د خپل پلار د ذهانت يوه برخه هم نه لري. د ده ځواک هيڅ په سترگونه ليدل کېږي او نه يې څوک احساس کولی شي."

شاه زمان ته د پلار په ميراث کې يو کمزوری پوځ پاتې و چې شپږ زره تکړه او روزل شوي پوځيان په دراني قوم پورې تړاوو لاره، د غلزيو، يوسفزو او د قزلباشو له خوا هم د شپږو زرو په اندازه روزل شوي عسکر جنگ ته راوتل خو دوی ته به يې معاش ورکوه. له دې ۱۲زرو مسلکي پوځ نه علاوه نور ټول به ايله جاريان و چې د جهاد په نيت او يا د مال غنيمت لپاره به لويو جنگونو ته ورتلل، دا ټول به سپاره و.

په پنجاب کې د سيکانو شورش او لوټ د مخنيوي لپاره شاه زمان اندېښمن و. ده ته د خپل ملک د خاورې ساتلو لپاره پياوړی پوځ پکار و. په لنډ وخت کې د داسې پوځ د جوړولو لپاره هغه پېسو ته اړتيا لرله او د افغانستان خزانه د باچا شخصي ملکيت گڼل کېده. په ۱۷۹۹ م کې کله چې شاه زمان په هند د بريد لپاره روانېدو نو قزلباش پوځ ورته خبرداری ورکړی و چې که دوی ته ښې وسلې او معاش ورنکړل شو، نو جنگ لپاره نشي تلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده په خپله توپخانه کې ۲۱ لوی توپونه او ۵۰۰ واړه زنبورک توپونه لرل چې د نیکه له وخته ورته پاتې و. خو زنبورک د اوښ په شا وړل کېدو چې د هر اوښ لپاره به یو یا دوه کسان پکار وه. " په ۱۷۹۹ او ۱۸۰۰ کلونو کې د شاه زمان د پوځ څخه چا راپور ورکړو چې په ټول کمپ کې پنځه سوه ښه اسونه نشته او هغه اسونه زیاتره د باچا او د وزیر و. عسکر زیاتره پر داسې یابوګانو سپرېدل چې په تاوده بازار کې په سل روپۍ ارزېدل."

خو د دې هر څه سره د شاه زمان وینه توده او د جنګ په میدان کې به یې په خپله د پوځ قومانده په ښه شان کوله. شاه زمان په اسلامي عقیدې ټینګ ولاړ و او د قران تلاوت به یې کوه. دی زړه سواندی او د طبیعت نرم و خو هغسې چې انګرېز تاریخ لیکونکو د ده شخصیت کمزوری ښودلو، حقیقت نه لري.

"د ده په باچهۍ کې کرونده ګر خوشاله و، هر وخت چې به دوی ادعا وکړه چې د حکومتي خدمتونو د پاره پېسې ورڅخه اخیستل شوي دي، عوض به یې بېرته ورکول کېدی. د ده په نوم هېڅ وخت غبن او ظلم نه کېده. د ده په حکومت کې تاجران او کسب کاران مصون و. وزیر په بې انصافۍ او پستۍ مشهور و او خلکو به د خپلو حقونو د خوندي کولو د پاره معمولاً پاچا ته پناه وړل. "

د ده مشر وزیر او سلا کار، د سدوزیو د یو سردار فتح الله خان زوی رحمت الله خان شو چې د وفادارخان لقب یې ورته ورکړ. د ده لور رضیه بېګم د شاه شجاع مشره مېرمنه وه چې په تاریخ کې د وفا بېګم په نوم مشهوره ده. وفادار خان په خپل کار کې تکړه او با استعداده سړی و، خو له لومړۍ ورځې نه د بارکزیو نه خوښېدو. افغان تاریخ لیکونکو د وفادار خان په اړه چرې هم ښه الفاظ نه دي کارولي. د شاه زمان او د شاه شجاع د وخت پېښې د دوست محمد خان په وخت د بارکزیو له خوا ولیکل شو چې په هغې کې دواړو ورونو او په تېره بیا د وفادار خان په اړه ډېرې خبرې داسې دي چې افساني ښکاري.

یوه افسانه دا وه چې د وفادار خان په امر په لویو ښارونو کې د ده مخبرانو او عسکرو به د مخورو قومي مشرانو جاسوسي کوله. که چا په شاه زمان نیوکه وکړه نو هغه به د ده دښمن ګڼل کېدو او سزا به یې ورکوله. خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان ټولنه کې داسې جاسوسانو او مخبرانو ته اړتیا نه وې ځکه هلته هېڅ خبره هم مخفي نه پاتې کېږي او بله دا چې ښارونه هغه وخت ډېر واړه وو. پاینده خان ځواکمن او په ځان یې ډېر باور لرلو چې دراني واکمن ده ته اړ دی. په کومې چالاکۍ چې هغه ده ته د تخت لاره هواره کړې وه، د ۲۳ کلن شاه زمان لپاره یو درس و او د هغه اختیارات یې په خپله محدود کړل.
پاینده خان په دې پوهېدو خو په ښکاره یې د شاه مخالفت نشو کولی نو په پټه به یې د قومي مشرانو سره لیدل. د ده زامن هم فعاله و او ځېنو یې د شاه محمود سره هم اړیکې لرلې.
د ۱۷۹۹ م د میسور په شان د افغانستان لپاره هم یو بدمرغه کال و. پاینده خان د شاه زمان د تخت نه د لیرې کولو لپاره یو څو سردارانو سره ګډ سازش وکړو. د ده سره د الکوزیو سردار محمد حکیم خان او امیر ارسلان یو ایرانی هم مله و. د شاه زمان د حکومت نه په کې محمد شریف منشي باشي، د خواجه سرا مشر یوسف علي خان، سلیمان خان نورزی او رحیم علي خان علیزی شامل و. نایب منشي باشي یعني د خزانې افسر د قزلباشو سردار و. هغه وخت په کابل کې د یو درویش کور ته به خلک او لوی سرداران هم دعا ته ورتلل. په ټاکلي ورځ په سازش کې شامل سرداران یو- یو د هغه درویش کورته ورتلل او کورنه د وتلو پر ځای په یوه کوټه کې راټول شول. بیا په دې دریو ټکو یې فیصله وکړه.
۱. شاه زمان دې تخت خپل ورور شجاع ته پرېږدي.
۲. له دې وروسته باچا به د جرګې په خوښه انتخاب شي،او یوازې قبایلي مشران به په دې جرګه کې رایه ورکړي.
۳. هر باچا چې د قوم لپاره د باور وړ نه وي هغه به د قوم په خوښه لیرې کړل شي.
دوی په یو ټاکلي وخت د وفادار خان د وژلو او د باچا د لیرې کولو پلان جوړ کړې و خو منشي باشي محمد شریف د درویش له کوره چې وتلو نو نیت یې بدل شو او وفادار خان ته یې ټول حال وویلو. ده سمدلاسه باچا خبر کړو خو نورو نه یې خبره پټه وساتله. شاه زمان خپل قزلباش محافظان بدل کړل او په بله ورځ هغو ټولو سردارانو پسې یې ځواب وکړو چې دربار ته دې راشي.
هغوی خبر نه و چې سازش یې باچا ته څرګند شوی و او هلته د رسېدو سره یو- یو عسکر ونیول او دربار ته یې یوړل. دوی د پاینده خان کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ورغلل. هلته د ده زوی فتح خان ورته را ووتلو او ویې ویل چې پلار یې چرته تللی دی. پلار ته ولاړو چې څو پوځیان راغلي دي، هغه کولی شي چې هم هلته په دروازه یې ایسار کړي چې پاینده خان کندهار ته وتښتي، خو پلار یې دا خبره ونه منله او پوځیانو سره د باچا دربار ته ولاړو.

د بارکزیو د شخصیت لوړ ښودلو لپاره ځېنو تاریخونو کې لیکلي دي چې په بغاوت تورن کسان یې باچا دربار ته وړاندې کړل، شاه زمان ترېنه په قهر وپوښتل چې ولې یې دا کار کړی و. پاینده خان ورته ویل چې وفادار خان یوه فتنه ده او مونږ تا له تخت نه لیري کول غواړو خو وژنو دې نه. شاه زمان د دوی خبرې واریدې خو امر یې وکړو چې د ټولو نه دې سرونه پریکړی شي. ورسره د هغو سردارانو د نیولو امر یې هم وکړو چې پاینده خان ته نژدې و. داسې خبرې د یو فلم یا د ډرامې برخه کېدی شي خو په حقیقت کې هغه ټول کسان د مخې سره ووژل شول.

د پاینده خان زوی فتح خان چې د پلار د وژل کېدو نه خبرشو نو هماغه وخت په اس وتښتېدو او په اتو ساعتونو کې د کابل نه ګریشک ته ورسېدو. دا وژنې د هغو خلکو لپاره هم د خطر زنګ و چې د شاه زمان یا د وفادار خان مخالفت یې کوه. په پېښور او نورو ځایونو ته د دې وژنو خبر ورسېدو نو خلکو سخت غبرګون ښکاره کړو. وایي چې ځېنې سرداران هغه وخت له کابله ووتل او یو چا شاه زمان ته خبر راوړو چې په کشمیر کې هم پاڅون شوی و.

شاه زمان وار له مخې کشمیر ته د یو لښکر د استولو اعلان وکړو او د دې قومانده یې یو ملا احمد او میروېس نورزي ته ورکړه. دواړو د جنګ تجربه نه لرله. دوی لا روان شوي نه و چې د کشمیر والي عبد الله خان الکوزی کابل ته راغلو او د شاه زمان نه یې بخښنه وغوښته. خو په افغانستان کې بخښنه غوښتل هیڅ مانا نه لري او هغه بندي شو. په دې کار د کندهار الکوزي هم د شاه زمان پر ضد شول او د عبد الله د ورور سیدال خان سره ودرېدل چې د شاه محمود سره مل شو.

هغه لښکر چې کشمیر ته یې روان کړی و، د پنجاب نه وراخوا په غرونو کې لاره نشوه موندلی. ډېرو کسانو د نیمایي لارې نه تېښته وکړه او د لوی ځاني او مالي تاوان نه وروستو پاتې کسان په بد حال پېښور او کابل ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څرګنده نه ده چي د ۱۷۹۹ م په ژمي کې کله چې شاه زمان په کندهار کې د پارس فتح علي شاه او د شاه محمود لښکر د هرات ته د ورننوتلو خبر تر لاسه کړو نو د ټیپو د شهادت نه خبر شو او که نه؟ شاه زمان هرات ته وخوځېدو نو شاه محمود د فتح علي شاه د پوځونو سره بېرته اصفهان ته ولاړو او ښایي هغه هم د نورو حملو نه لاس په سر شول.
شاه محمود په دې وخت کې د " برجند" والي مهر علي خان نه مرسته وغوښته او ده ورله لس زره پوځ ورکړو. شاه زمان هرات نه وتلی و او دوه میاشتې نه وې تېرې چې محمود د ایراني عسکرو سره بیا هرات ته مخه کړه. د شاه زمان زوی قیصر مرزا خپل پوځ د مقابلې لپاره ورواستو چې ایراني لښکرو ته یې د " اسفراز" په سیمه کې ماتې ورکړه. شاه محمود د یو بل لښکر سره هرات ته نژدې او شهزاده قیصر یې کلابند کړو. هغه وخت وفادار خان هم په هرات کې پاتې و او د جنګ په میدان کې د دښمن د ځغلولو لپاره یې یو چل جوړ کړو. ده د برجند والي مهر علي خان په نوم یو لیک ولیکلو. دا لیک د شهزاده قیصر له خوا او په کې یادونه شوې وه چې زمونږ تر منځ چې کوم تړون شوی و، زه اوس هم ورباندې ټینګ ولاړ یم خو شرط یې هماغه دی چې شاه محمود به ورته سپاري.
د وفادارخان سړو دا لیک د هغه پوځي کمپ ته نژدې یوړو او په اسانه ونیول شول. هماغسې چې ده غوښتل، لیک د شاه محمود لاس ته ورغلو او په لوستلو شکمن شو چې مهرعلي ورسره دوکه کړې وه. دی ویرېدو او د شپې په تیاره کې د مهرعلي د کمپ نه یې پښې سپکې کړې. مهر علي چې سهار خبر شو نو ده هم د هرات محاصره لیرې کړه او بې له جنګه برجند ته وتښتیدو.
شاه محمود په پټه د هرات نه "مرو" او له هغه ځایه بخارا ته ولاړو. د بخارا امیر ورته درناوی وکړو او د اوسېدو لپاره یې یوه ماڼۍ ورکړه. شاه زمان چې خبر شو نو د یوه سفارتي ډلې سره امیر ته یې پیغام ورواستو چې د محمود ساتل دا مانا ورکوي چې هلته د افغان حکومت پر ضد سازش روان دی. شاه محمود افغان استازو د راتلو نه خبر شو او امیر هم ورباندې زور راوړو نو ده په ښار کې اوازه ګډه کړه چې حج ته روان دی.
د بخارا امیر هغه ته د سفر انتظام وکړو خو شاه محمود مکې ته د تللو پرځای خوارزم ته ولاړو، څو ورځې په خیوا کې و او یو وارې بیا یې د ایران باچا فتح علي سره په اصفهان کې پناه یوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتح خان د پلار د بدل اخيستو لپاره خپلو ورونو سره يو ځاى د شاه محمود سره اړيکې ټينګې کړې، ورته يې وويل چې د کابل پر تخت د ده حق و او دوى به يې ملاتړ کوي. همدا وه چې شاه محمود د خپلو ۱۸ ملګرو سره فراه ته راستون شو. هغه وخت د سيستان مرکز جلال اباد نومېدو او بهرام خان د سيستان سردار و. ده د شاه محمود ښه شاندار استقبال وکړو او د ده زوى کامران ته يې خپله لورهم ورکړه. ده محمود ته د پوځي مرستې وړانديز وکړو خو فتح خان د غيرافغان له خوا په افغانستان د حملې مخالف و. د هغه نه يې مننه وکړه او دوى په ګډه دراني سيمو ته راغلل.
په فراح کې شاه محمود د ټولو پښتنو په نوم يوه پانه (اپيل) خپره کړه چې په کې د وفادارخان او د شاه زمان د ظلم او د هغوى د بې انصافۍ په اړه ليکلي و. په پاى کې يې د ټولو نه د ملاتړ غوښتنه کړې وه، بارکزيو سمدلاسه ورته سينه وډبوله او نورو قومونو هم ورسره د ملاتړ ژمنه وکړه.
شاه زمان په کندهار کې سردار ميرعلي خان والي ټاکلى و، کله چې شاه محمود کندهار نژدې شو نو ميرعلي د څلورو زرو سپارو جنګيالو سره يې مقابلې ته ووتلو، خو محمود ماتې ورکړه او دى بېرته کندهار ته ولاړو او د ښار دروازې يې وتړلې.
شاه محمود د افغان جنګيالو سره کندهار کلا بند کړو. دا ښار تر ۴۲ ورځو پورې محاصره و خو محمود بريالى نشو، په ۴۳ مه ورځ د فتح خان په قومانده يوه زوروره حمله وشوه او دى لومړى کس و چې د کلا په فصيل (ديوال) وختلو او محاصره ماته شوه، مير علي خان له يو څو سوه سپارو سره له کلا ووتلو.
شاه زمان هغه وخت په پېښور کې و او کله چې د کندهار د سقوط نه خبر شو نو يوه برخه پوځ يې خپل ورور شجاع الملک ته پرېښودو او په خپله کابل ته روان شو. په کابل کې ورته احساس وشو چې ټول دراني قوم د ده پر ضد پاڅون کړى و او نه يوازې تخت بلکه په خپله د ده ژوند په خطر کې و، ده هغه وخت د غلزيو نه مرسته وغوښته.
د ډېرو جرګو او مرکو نه وروسته شاه زمان د ۳۰ زرو پوځ سره د کابل نه د شاه محمود مقابلې لپاره روان شو. په دوديزه توګه شاه به تل د پوځ په لومړي سره کې روان و، خو هغه اوس په ځان باور نه لرلو او د ده د وېرې او د شک اندازه له دې کېدېشي چې د وفادار خان په مشوره د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک نه وړاندې د جنګيالو دوه ډلې ورواستولې چې که حمله وشوه نو ده ته به د تېښتې لاره وي.
د يوې ډلې مشري د احمد خان نورزي په لاس کې وه، د شاه زمان پوځې سرداران په دې ويرېدل چې هسې نه نورزی د جنګ پر ځای د دښمن سره لاس يو کړي نو هغه پسې يې يو بله دسته روانه کړه چې مشري يې د شاه زمان زوی شهزاده ناصر کوله. د احمد خان نورزي ځواک په "سراسپ" کې د محمود د ځواک سره مخ شو او هم هلته يې ورته ګونډې ماتې کړې.
يو چټک پيغام چې شاه زمان ته راورسېدو نو وفادار خان باچا ته د بېرته تګ مشوره ورکړه.
دوی په ډېره بېړه کابل ته وګرځېدل، شهزاده ناصر هم له جنګ ډډه وکړه، خپل پوځ يې پرځای پرېښودو او د پلار په څېر يې د لارې نه پښې سپکې کړې. محمود د فتح خان په مشرۍ يو ځواک دوی پسې ورواستاو خو شاه زمان اوس دومره په وېره و چې په کابل کې هم ايسار نشو او هماغسې پېښورته يې مخه کړه، د ده ټول پوځ څه په کابل او څه د کندهار په لاره تېت و پرک شو.

شاه زمان د خپلو پنځلسو ملګرو سره چې وفادارخان او د ده دوه ورونه محمد خان او زمان خان هم په کې و، په تېښته و. دوی د ارام لپاره په جګدلک کې د ملا عاشق شينواري په کلا کې ايسار شول چې د دوی تود هر کلی يې وکړو، ډوډۍ او څښاک يې ورله ورکړل. خو هغه د کلا چاپېره خپل سړي ودرول او محمود ته پيغام ورواستو چې د باچا ډله د ده سره ده. شاه زمان پوه شو چې ملا عاشق ورسره دوکه کړې وه. خپله هڅه يې وکړه چې ملا ته د پښتو ننګ اوغيرت ورياد کړي، چې ميلمه سره څوک داسې نه کوي خو هغه ملا يا خو د وفادارخان ظلم ځپلی و او يا د شاه محمود تله ورته درنه ښکارېده. ښايي بله خبره دا وي چې هغه د محمود نه په وېره و چې وروسته به ترې غچ اخلي. اخر باچا او د ده ملګرو تورې راوويستې او د کلا نه د وتلو وروستۍ هڅه يې وکړه خو د ملا عاشق خلک پرې برلاسي شول.

شاه زمان هغه وخت هم د خپلو الماسو په غم کې و چې پر مټو به يې تړلي و. په کومه کوټه کې چې دی بند و، د هغې د ديوال يوه خښته يې ليرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه او کوه نور او فخرج (پکهراج) يې د خښتي شا ته پټ کړل. د ملا عاشق پيغام وړونکی کابل کې د شاه زمان حال ورله ورکړو. د پاينده خان يو زوی اسد خان د پوځي ډلې سره د شينوارو کلا ته ورواستول شو او شاه زمان د خپلو ملګرو سره بېرته کابل ته د بندي په توګه بدرګه کړو. په لاره يو ځای دوی ودرول شول چې يو جراح د څو عسکرو سره ورته په انتظار و. هم هلته يې د شاه زمان لاسونه وروتړل، د ده سترګو ته په اور کې سره شوې سلايې ورننژدې کړه چې د سترګو ديد يې ختم شو.
شاه زمان بيا کابل په سترګو ونه ليدو خو هلته چې ورسېدو نو هماغه بالا حصار کې يې زنداني کړو چې څه موده وړاندې په کې د ده ناسکه ورونه بندي و. وفادار خان له خپلو ورونو سره يو ځای ووژل شو او مړي يې د کابل په بازار کې وځړول شو، شاه محمود له اوو کلونو جنګ جګړو وروسته په ۱۸۰۰ م کې د افغانستان د ځلورم باچا په توګه پر تخت کېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شاه زمان سکه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډوال باچا

وايي چې په يو ملک کې دوه باچاهان نه ځايږي خو د ۱۸ مې ميلادي پېړۍ د پيل سره د افغانستان په نوم يو ملک کې د دوو باچاهانو په نوم خطبه ويل کېده. يوه په کابل کې د شاه محمود په نوم او بله په پېښور کې د شاه شجاع الملک په نوم." که ده د وفادارخان په شان وزير نه لرلی نو د پلار په پرتله د ده حکومت به ارو مرو ډېر اوږد او ممکن ډېرعروج ليدلی وای." د يو انګرېز دا جمله په تاريخ کې د شاه زمان د دورې خلاصه بيانوي.
د شاه زمان ۱۴ کلن سکه ورور شجاع الملک، په پېښور کې د کابل د سقوط او د ورور د ماتې خبر واورېدو. ده سره په بالاحصار کې لږ پوځ او د شاه زمان د ټبر نه علاوه نوره خزانه او مال حال هم پاتې و. د ځو سردارانو په ملاتړ دی د شاه شجاع الملک په نوم د افغانستان باچا اعلان شو. هغه په پښتنو قبايلو کې پېسې ويشلې او په لږه موده کې ډېر خلک ورسره ودرېدل چې د شاه محمود سره يې د جنګ تياری پيل کړه.
شاه شجاع د لسو زرو قبايلي لښکر سره په ۱۰ سپتمبر ۱۸۰۱ م کې د پېښور نه روان شو او په " اشپان" کې د شاه محمود د دريو زرو پوځيانو سره مخ شو. د هغه لښکر مشري د شاه محمود زوی کامران ميرزا کوله چې د سردار فتح خان ځو ورونه ورسره مله و. د شاه شجاع لښکر په لومړي يرغل کې د شاه محمود پوځ مات کړو او قبايلو داسې وګڼله چې دوی بريالي شول نو د مال غنيمت په راټولولو يې لاس پورې کړ. هماغه وخت د شاه محمود لښکر د فتح خان بارکزي په مشرۍ بيا ځان راټول کړو او د شاه شجاع فتح په شکست بدله شوه، دی د ماتې نه وروستو خيبر ته وتښتېدو.
د افغانستان غلزيو هغه وخت د دراني ټبر نه د واک اخيستو لپاره عبد الرحيم خېل مشر کړو او د شاه محمود پر ضد يې پاڅون وکړو. دوی په غزني او کندهار کې د وړو جنګونو نه وروستو لوګر کې واړول او هلته د دوی د لښکر شمېره ۲۰زرو ته ورسېده. د شاه محمود يوه پوځي ډله د دوی سره مقابل لپاره د کابل نه روانه شوه او د ځو ورځو د جنګ نه وروستو يې تېښتې ته اړ کړل. د پښتنو داسې لښکر په عامه توګه د يو منظم پوځ په وړاندې جنګ ته نشي ټينګېدې او د غلزيو درې زره کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووژل شول چې درانیو ترې سرونه پرېکړل او د دې نه یې " مناره " جوړه کړه.
د پارس فتح علي شاه د افغانانو د دې حالت نه ګټه واخیسته او د افغانستان نورې صوبې لکه مشهد او نیشاپور یې ترې ونیولې. د ژمي په تېرېدو ۱۸۰۲ م په سپرلي کې غلزي بیا راټول شول او دا ځلې د دوی شمېره د پخوا نه هم ډېره وه. ځېنې یې شاوخوا ۵۰ زره ښیي. اخوا شاه شجاع د اپریدیو نه مرسته وغوښته او بیا د یو لښکر سره کابل ته روان شو. شاه محمود هم ورته تیاری کړی وه او دوی دواړو ته یې ماتې ورکړه.
په دې جنګونو کې د پاینده خان زوی فتح خان نه یوازې خپل جنګي صلاحیتونه وښودل بلکه د خپلې مشرۍ او د انتظام له کبله د سدوزیو د واک پایه یې هم ټینګه کړه. هغه پېښور هم د شاه شجاع نه نیولی و چې څه موده د خیبر په غرونو کې د اپریدیو یو کلی " چوره" کې پاتې و، بیا شال (کوټې) ته ولاړو.
په کابل کې د سني او د شیعه قزلباشو تر منځ څو شخړې وشوې او د شاه محمود د چلند په اړه د ده خپل مشاورین ورته په قهر شول. د ده مختار الدوله، شېر محمد خان (د احمد شاه ابدالي د وزیر شاه ولي خان زوی) چې ځان یې د لوی وزارت د عهدې لپاره تیار کړی و، په دې خفه و چې هغه وزارت یې ولې فتح خان ته ورکړی و. هغه شاه شجاع پسې پېغام ورواستولو چې بېرته دې کابل ته راشي. شاه محمود چې خبر شو نو د هغه د نیولو امر یې وکړو خو شېر محمد کابل نه تښتیدلی و.
د کابل خلک د یو عالم سید احمد له خوا راوپارول شول چې د شاه محمود پر ضد یې پاڅون وکړو. فتح خان په کندهار کې خبر شو او شا و خوا اتو زرو جنګیالو سره کابل ته روان شو. شاه شجاع هماغه وخت ښار ته نژدې شو او ممکن سخت جنګ شوی وای، خو د فتح خان د لښکر لوی شمېر کسان د شاه شجاع د لښکر سره مله شول او فتح خان د مېدان نه وتښتېدو.
شاه شجاع د بریالي لښکر په بدرګه، په ۱۸۰۳ م کې بالاحصار ته ورننوتو، نابینا شاه زمان د بند نه ازاد کړل شواو د هغه پر ځای شاه محمود زنداني شو.
شاه شجاع لومړی کار دا وکړ چې د ملا عاشق شینواري د نیولو او د اعدام امر یې صادر کړو. د هغه ټوله کورنۍ یې د توپ خولې ته وتړله او ویې ووژله. د دې نه علاوه هغه خپل او د شاه زمان زیاتو مخالفانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښنه وکړه او بې ځایه د چا په وینو یې لاسونه سره نکړل. د شاه زمان
زوی قېصر مرزا د کندهار حاکم وټاکل شو او هغه احمد خان نورزی چې د
جنگ په مېدان کې د شاه زمان د لښکر نه شاه محمود ته اوړېدلی و،
ورسره وزیر شو. نورزي د کابل د نیولو لپاره د شاه شجاع سره مرسته
کړې وه او د خیانت جرم یې بخښل شوی و. فتح خان هم د بخښنې په هیله
د شاه شجاع دربار ته حاضر شو خو هغه یې سپک کړو او پخوا له دې چې
زنداني شي، فتح خان له کابله ووتلو. ده اوس د شاه شجاع پر ضد متې
راونغښتې او په کندهار کې د شهزاده قېصر سره یې اړیکې ټینگې کړې.
هغه ته یې ویل چې باچاهي خو ستا حق دی ځکه ته د شاه زمان زوی یې.
قېصرمرزا په دې لمسون بغاوت وکړو، احمد خان یې زنداني کړو او ځان
یې د افغانستان باچا اعلان کړو. دی د فتح خان سره یو ځای کابل ته روان
شو چې شاه شجاع د واک نه لیرې کړي. کله چې د احمد خان نورزي
زوی خبر شو نو هغه د شاه شجاع له خوا د پوځ سره د کابل نه روان شو
او قېصر مرزا ته یې ماتې ورکړه. شاه زمان او د ده مور د قېصر سفارش
وکړو چې هغه ته دې سزا نه ورکوي او شاه شجاع همداسې وکړل، دی یې
بېرته د کندهار حاکم وټاکلو.
په ۱۸۰۵ م کې شاه شجاع په پېښور کې و چې د بخارا د امیر استازي کابل
ورته راغلل. دوی د ملگرتیا لپاره ورغلي و او دا خبرې اترې شاه زمان
ترسره کړې. استازو د ملگرتیا لپاره د بخارا د امیر یوه لور شاه شجاع ته
او یوه افغان شهزادگۍ د بخارا امیر ته د ورکولو وړاندیز وکړو. شاه زمان
د بخارا د امیر لور د خپل ورور سره د ودولو خبره ومنله خو د افغان
شهزادگۍ د ورکولو نه یې انکار وکړو چې دا زمونږ رواج نه دی. بله دا
چې هغه د بخارا امیر د سدوزیو د شاهي کورنۍ نه ټیټ گڼلو.
په هرات کې د حاکم فیروزالدین مور ورته وویل چې د ورور شاه محمود د
خلاصون لپاره هلې ځلې وکړي. ده یو لښکر تیار کړو خپل زوی قاسم
مرزا او د شاه محمود زوی کامران مرزا ته یې قومانده وسپارله. دوی
کابل ته روان شول او په کندهار کې قېصر مرزا د مقابلې لپاره راوتلو خو
په جنگ کې یې توره ونکړه او کندهار یې د لاسه ورکړو. خو د پارس د
حملې د خطر سره کامران او قاسم بېرته هرات ته او قیصر کندهار ته
ولاړو. د سدوزیو شهزادگانو په خپل منځ کې په دې وړو وړو جنگونو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې خپله کمزوري په ډاګه کړه بلکه نور یې هم وهڅول چې د دوی ځای ونیسي.
د ۱۸۰۷ م د "ټلسټ" د سولې تړون نه وروسته د فرانسې نیپولین او د روسیې زار (تزار) یو بل سره ولیدل او په اسیا کې یې د خاورې د نیولو پلانونه جوړ کړل. د دې سره انګرېزانو د روس د مخنیوي لپاره هغه لوبه پیل کړه چې په تاریخ کې " لویه لوبه" نومېږي.
فتح خان بارکزی څه موده وروستو د کامران سره یو ځای شو او کندهار یې ونیولو نو قېصر مرزا کابل ته وتښتېدو. شاه شجاع د پېښور نه په بېړه کندهار ته ولاړو او هلته خبر شو چې شهزاده قېصر په کابل کې خپل ځان باچا اعلان کړی دی او پېښور اوس د هغه پلوي مختارالدولة په لاس کې و.
په دې ګډ وډیو کې شاه محمود د قزلباشو په مرسته د بالاحصار نه وتښتېدو او د فتح خان په مرسته پر کندهار یې برید وکړو. شاه شجاع او د ده د ځواکونو تر منځ د ښار په ختیځ کې جنګ وشو. شجاع بریالی شو او د کابل د لارې په ۱۸۰۹ م کې پېښور ته ولاړو.
شاه محمود چې د کندهار شاو خوا کې و، سمدلاسه یې کابل ته مخه کړه او شاه زمان د بالاحصار نه په وتلو مجبور شو خو دی پېښور په ځای بلخ ته ولاړو. د ده یوه لور ورسره وه او څو کسانو سره یو ځای بخارا ته ورسېدل. د بخارا امیر"حیدر" د ده کوربه شو ځکه لور یې د شاه شجاع مېرمنه وه. څو ورځې چې تېرې شوې نو امیر خپله پخوانۍ غوښتنه بیا وکړه چې افغان شهزادګۍ ورته واده شي.
شاه زمان ورته انکار وکړو نو امیر دوی ټول په خپل استوګنځي کې نظربند کړل. ځېنې سرچینې وایې چې د هغه لور وتښتول شوه او په زوره یې نکاح کړه. شاه زمان په پټه له هغه ځایه ووتلو او د ترکمنستان د لارې په کال ۱۲۳۲ هجري قمري کې پارس ته ولاړو. په تاریخي سرچېنو کې دا څرګنده نه ده چې هغه وخت د شاه زمان ټبر کوم ځای و خو ګومان کیږي چې د شاه شجاع د کورنۍ سره به پاتې وي. دی چې تهران ته ولاړو نو یو زوی شهزاده یونس ورسره مل و.
د ناسخ التواریخ او روضه الصفایي ناصري د لیکوالانو په قول "هلته یې ښه هرکلی وشو، د ګوښه شوي او له سترګو غورځېدلي افغان شهنشاه درنښت وشو، په تهران کې د زمان شاه د دوه ورځني توقیف سره د شهزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي مېرزا د واده مراسم پای ته ورسېدل، زمانشاه ډېره موده شوې وه چې له پادشاهۍ لیرې شوی و، خو سره له دې چې د ملک په کورنیو چارو کې تربګني او اخ و ډب روان و، له هېواده د باندې په سلطنتي تشریفاتو کې د یوه افغان شهنشاه په توګه د هغه هرکلی کېده"

کله چې ده سعودي عرب حرمینو ته د سفر قصد وکړو نو د ترکې سلطان د بغداد والي ته لیک ورواستاو چې د افغان بادشاه هر کلی او د استوګنې انتظام دې وشي. خو هغوی ورباندې سترګې پټې کړې او اخر شاه د خپل زوی سره بېرته هرات ته ولاړو. هلته میرني ورور حاجي فیروزالدین حاکم ورته هر کلی وویل او ځو میاشتې له ده سره و. بیا یې یوه ډله پوځیان ورسره بدرګه کړل او دی یې د کندهار د لارې شکار پور ته ورسوه. شاه شجاع هلته د ده لیدو ته ورغلو او شاه زمان یې ځان سره راوستلو.

پنجاب اوس د سیکان په لاس کې و چې د مهاراجا رنجیت سنګ په مشرۍ ځانونه یې پیاوړي کړل. رنجیت سنګ چې لږه موده وړاندې د شاه زمان له خوا د لاهور والي ټاکل شوی و، ورسره پټ وپاللو. شاه زمان د خپل ټبر سره لاهورته ولاړو او د ده نه یې غوښتنه وکړه چې که په جهلم کې د شېر شاه سوري له خوا جوړه شوې د " روهتاس" کلا ده ته ورکړې نو هغه به په کې مېشت شي. خو رنجیت سنګ پوهېدو چې هغه کلا ډېره لویه او په یو مهم ځای کې وه. افغان باچا اوس هم کولی شو چې یو لښکر یې جوړ کړی وای او سیکان یې له پنجاب څخه شړلي وای.

سیک راجا شاه زمان ته ۶۰زره روپۍ د کال زیره (باج) وټاکله. د دې نه علاوه د استوګنې لپاره د راولپنډۍ سره نژدې په بهېره کې یو کور ورله ورکړو. شاه زمان په بهېره کې اته نهه میاشتې تېرې کړې خو یو وخت د ده پېسې بندې شوې. بادشاه لاهور ته ولاړو نو رنجیت سنګه ورته هرکلی وویل، ۵۰۰۰ یې ورکړې او بېرته یې بهېره ته ورواستاو. مهاراجا خپلو چارواکو ته وویل چې افغان بادشاه ته باید په وخت پېسې ورکړل شي. کله چې شاه شجاع د عطا محمد خان په مرسته پېښور بېرته ونیولو نو شاه زمان بهېره نه ووتلو او په پېښور کې بیا د خپل ورور شاه شجاع سره یوځای شو.

د ۱۸۰۸ م په پای کې د انګلستان سفارت د ماونټ سټورټ ایلفنسټون په مشرۍ د پنجاب نه کوهاټ او له هغه ځایه پېښور ته ورسېدو. شاه شجاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت د پېښور په بالا حصار کې و. ایلفنستون د مارچ په میاشت کې د نوروز پر وخت ورسره ولیدل او وروسته شاه شجاع ده ته په یو باغ کې د میلمستیا بلنه ورکړه. دا باغ علي مردان نومېدو چې اوس د پېښور د صدر چاونۍ پرې جوړه ده. د دې یوه وړه برخه د خالد بن ولید باغ په نوم پاتې ده. اوس د افغان کونسلګري چې په کوم ځای کې ده دلته یو وخت څو شنه باغونه و چې یو په کې د هګۍ په شکل د شاه زمان باغ و. د دې باغ یو سر اوسني بالاحصار پورې غځیدلی و او ایلفنستون لیکي چې هر ډول ګلاب یې لرل. د باغ په منځ کې پخې لارې، څلورګوټیزه چمن او شپږ تالابونه یې لرل چې د اوبو فوارې په کې رواني وې.
د پېښور نه دا سفارت بېرته مخ په ختیځ روان شو او د حسن ابدال نه وروستو راولپنډي ته ورسېدو. هلته دوی څو ورځې تم و چې د پنجاب نه د خوندي تېرېدو لپاره له سیکانو اجازه تر لاسه کړي. هغه وخت جهاندار بامیزي په پېښور کې بغاوت وکړو او شاه شجاع یې بندي کړو. د شاه زمان د حکومت اعلان یې وکړو او ټول اختیارات یې ځان سره کړل.
درې میاشتې وروستو فتح خان بارکزی د یو لښکر سره د کندهار نه پېښور ته راغلو نو جهاندار اټک ته وتښتېدو.
په دې ګډ وډیو کې شاه شجاع خپل حرم د شاه زمان په مشرۍ پنجاب ته وویستلو. هغه وخت چې ایلفنستون د سیکانو نه د لارې د تېرېدو د امر په انتظار و، د پېښور نه د شاه شجاع د حرم قافله راورسېده. ایلفنستون د شاه زمان لیدو ته ورغلو او د دې ملاقات پوره حال یې په دې الفاظو لیکلی دی.
" مونږ د ۱۸۰۹ م کال د جولای په ۱۰ نېټه ملاقات ته ولاړو او د هغه باچا لیدنې ته ډېر لیواله و چې شهرت یې پارس او د هند ګوټ ګوټ ته رسیدلی و. دی په یو وړې او پاکې خیمې کې په یوې ساده څوکۍ ناست و، د خیمې په فرش قالین او ګیلم غوړیدلي و. مونږ د ده مخامخ تر هغې ولاړ و چې یې راته یې د کېناستو وویل. د ده جامې ساده وې، یوه سپینه چپنه یې اغوستې وه چې مخامخ پرې د پارس اطلس لګیدلي و. په سر یې تور پټکی تاو و او په لیدو به سړی پوهېده چې باچا دی. مونږ چې ولیدو نو د ۴۰کلونو په سن کې به و. د ده څېره او شخصیت دواړه ښکلي و، د ده خبرې او غږ د شاه شجاع سره ورته و خو دی ترې لوړ و، څېره یې اوږده، برابره او ږیره یې نرۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی نابینا نه ښکارېدو، که څه هم سترګې يې زخمي معلومېدې خو په کې تور دومره و چې د ده کړه وړه پرې نه و وران شوي. د خبرو پر وخت سترګې به يې هغه کس ته واړولې چې ده ته به مخاطب و. بيا هم څه نا څه غمژن او مايوسه ښکارېدو. کله چې مونږ کېناستو نو ډېر وخت خاموشي وه او دا خاموشي د شاه زمان په خبرو ماته شوه چې د خپل ورور د بد مرغۍ ذکر يې وکړو، راته يې وويل چې که حالات داسې نه وي نو پوره پام به يې راته کړی وای.
له دې وروستو هغه په اوسنيو حالاتو خبرې وکړې او د يو بدلون په اړه يې هيله څرګنده کړه. هغه وويل چې باچاهان له داسې کړ.ليچونو سره مخامخيږ.ي، په تاريخ کې د ځېنو باچاهانو حيرانونکي انقلابونه يې په ګوته کړل او په تېره بيا د ګوډ تيمور نوم يې واخيستو. خو که ده (شاه زمان) راته د اسيا ټول تاريخ بيان کړی وای نو يوه بيلګه به يې هم د خپلې بدبختۍ په شان نه وای موندلی، چې نابينا، بې تخت او بې تاجه، او په يو داسې هېواد کې جلا وطنه و چې دوه وارې يې نيولی و." شاه زمان د سيکانو د سيمو ته ووتلو ځکه دی اوس نهيلی شو او ښايي چې د شاه شجاع سره يې ورانه شوه. دی د خپل ټبر سره لودياني ته ولاړو او هلته انګريزانو ورته د مياشتنی تقاعد پينشن ورکوه.
د ۱۸۰۹ م نه تر ۱۸۳۶ م پورې مونږ د شاه زمان په اړه هېڅ معلومات نه لرو چې ده په لودياني کې څنګه ژوند کاو. داسې ښکاري چې د خپل ورور شاه شجاع په څېر ده د يو تقاعد شوي کس په څېر د ژوند شپې سبا کولې. په ۱۸۳۶ م کې يو بل انګرېز "ګوډفرې ټامس ويګنې" په لودياني کې د شاه شجاع او شاه زمان دواړو سره وليدل. ده د حکومت له خوا د هند غرنيزو سيمو ته سفرونه کول او خپل معلومات يې وروسته په يادښتونو کې ليکل چې څو کتابونو کې خپاره شوي دي. دی په خپله انځورګر و او د افغانستان د مهمو لوبغاړو انځورونه په لومړي ځل وکښل. دی تازه د کشمير نه راګرځېدلی و او د کرنل ويډ سره يو ځای د افغانستان د دوو باچاهانو سره ليدو ته ولاړو.
د شاه شجاع په اړه ليکي چې د ۵۰ کلونو په سن کې ښکارېدو، ميانه قد، خوش طبيعت اوسوربخن شرابي رنګ يې لرلو. بيا ليکي چې زه او کرنل ويډ د ده ليدو ته ورغلو، نو په يوې کرسۍ ناست و او که څه هم د ده ټولې غوښتنې چې د انګلستان حکومت ته يې کړې وې، دکرنل ويډ له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول کیږي، خو شاه شجاع مونږ دواړو ته د کېناستو ونه وویل. وایي د ده ورور شاه زمان د کور په یوه بله برخه کې اوسېدو او د هغه لیدو ته هم ورغلو. لیکي " دی ښکته په فرش ناست و، نری او غمژن و، تسبیح یې اړولې. د کشمیر په اړه یې ډېرې پوښتنې وکړې او وېې ویل چې د هغه ځای شالونه لکه چې پخوا ښایسته جوړېدل اوس هغسې نه جوړیږي. ده ویل " زما یادیږي چې د دی (شال) تیکه دومره مهینه وه چې له گوتمې نه به تېریدې شوه." ده د کشمیر د ښایست ذکر هم کوه، بیچاره نابینا باچا د کشمیر د ښکلا، د دې د هوا او د اوبو صفتونه کول. خو بیا یې په تاسف سر وخوځو، یو سوړ اسوېلی یې وکړو او ویې ویل، کابل...کابل...کشمیر د کابل په وړاندې هېڅ نه دی. او زه به یې بیا هېڅکله هم ونه وینم."
ویگنې وړاندې د کرنل ویډ له خولې خبر شو چې که څه هم د دواړو ورونو قسمت او بدبختي یو شان وه خو د دوی په خپلو کې وران وو، هغه په دې خبره حیرانه شو. په بله ورځ ورته د شاه شجاع له خوا افغان خواړه وروا‌ستول شو چې په ختیځ کې یې تر ټولو غوره خواړه وبلل. وایي داسې ښکارېده لکه چې د حرم د میرمنو تر څارنې لاندې دا خواړه تیار شوي و.

## د شاه زمان میراث

په ۱۸۳۸ م کې کله چې شاه شجاع په دویم ځل د باچا په توگه، کابل کې ځای پر ځای شو او انگرېز سفیر مکناټن هم خپله مېرمنه راوغوښته نو شاه شجاع د لودیاني نه د شاه زمان او د خپل ټبر د رابللو فیصله وکړه.
د سکاټلېنډ دوه پوځي افسران د دوی د بدرگې لپاره وروا‌ستول شول. د لودیاني نه کابله پورې په ارامه وختونو کې هغه محال په لاره دوه درې اوونۍ تیرېدې. خو هغه وخت د سیکانو خالصه جنگیالي کاواکه گرځېدل او پنجاب ډېر ناامنه ځای و. رنجیت سنگ مرگ ته نژدې و او په زامنو کې یې د واک پرگډۍ د کېناستو لپاره سیالي پیل شوې وه.
شاه شجاع د لودیاني نه د خپلې خزانې د راوړو امر کړی و چې د هغه خبر ژر په سیمه کې خپور شو. کله چې پوځي افسران لودیاني ته ورسېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هلته په شاهي قافله کې د شاه زمان او ځو نورو شهزادګانو نه علاوه، د حرم ۶۰۰ ښځې هم وې. په دوی کې نیم نه زیات د شاه شجاع او نور د شاه زمان کورنۍ وه چې په کې د دوی نکاح او غېر نکاح شوې ښځې، لونډې او سپین سرې شاملې وې. د دوی ټولو سره خپلې خدمت ګارانې وې چې ټولټال ۶زره کسان جوړېدل. د دوی او د سامانونو د وړلو لپاره یې ورته ۱۵ زره اوښان په کرایه کړل، د هغو دوو پوځي افسرانو سره ۵۰۰ پوځي ځوانان د قافلې د حفاظت لپاره و.
په پنجاب کې دوی سره د سیکانو د پوځ یوه ډله هم مله شوه چې د حفاظت پر ځای دې قافلې لپاره د خطر سبب و. ځکه په پنجاب کې کاواکه سیکان هر ځای ګرځېدل او ممکن دی ډلې سره یې یو ځای قافله لوټ کړې واې. ځېنې خو په لاره د دوی مخې ته هم راغلل. کله چې دا قافله اټک ته ورسېده او لا د اباسین نه پورې نه وه وتلې چې په پېښورکې د بغاوت حال ورته ورسېدو. هلته نه پنځو زرو باغي پوځیانو دې قافلې ته د سیند په بله غاړه لاره نیولې وه چې لوټ یې کړي. د قافلې شا ته سیک پوځیان و چې انګرېز افسر بروډ فوټ، ورباندې باورنشو کولی.
کله چې دوی په اباسین د کښتیو په پله پورې وتل نو انګرېز افسر هغه پل مات کړو چې د شا ته نه ورباندې سیکان حمله ونکړي. بیا ځو ورځې یې هغه باغیان ایسارکړي و او د هغوی زور یې کتلو. اخر د انګرېز د پوځ یوې دستې د قافلې نه وراخوا، په هغو باغیانو حمله وکړه او ځو کسان یې ترې ونیول. دا یې تر هغې ځان سره وساتل چې قافله وړاندې ولاړه او دوی په امن شول کې نو بیا یې خوشې کړل. په جمرود کې ځېنو نورو باغیانو د هغوی مخه ونیوله، هلته دې خلکو د قافلې څه سامان چور کړو او وتښتېدل او په اخره کې دا قافله بې له څه ځاني تاوانه کابل ته ورسېده.
شاه زمان د نورو شاهي غړو سره د کابل په بالاحصار کې مېشت شو او دوه کاله یې په ارامه تېر کړل. دی به ډېر وخت پر ډولۍ (تخت روان) ناست و او کابل ته نژدې او ورځېرمه زیارتونو ته به ورتلو. دی اوس سپین ږیری و او په شاهي کورنۍ کې لویو وړو به ورته د " شاه بابا " خطاب کوو. ده به هره ورځ د بالاحصار په یوې خونې کې " د سلطاني مجلس حاضرینو ته په خبرو کې، د موجوداتو له پنځونکې او خالق څخه د یوه باعزته او با شرف مرګ غوښتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۸۴۱م د اپریل په ۵ نېټه کې کله چې په کابل کې د انګرېزانو پر ضد پاڅون وشو نو شاه شجاع په وار وار انګرېز استازي مکناټن ته وویل چې خلک د دوی په شتوالي خوشاله نه دي او په اوږي کې دې افغانستان پرېږدي. دی په خپله هم ناارامه و خو هغه ورله ډاډ ورکړو چې دوی خوندي و او په خپل پوځي توان یې پوره باور و. هغه وخت امیر دوست محمد خان هم ځان انګرېزانو ته سپارلی و او د ده زوی محمد اکبر خان د خپلو جنګیالو سره په کابل بریدونه کول.
په ژمي کې د انګرېزانو سفیرمکناټن د اکبر خان سره روغې لپاره ولاړو او په دوکې سره ووژل شو. همداغه وه چې د انګرېز د پوځ مشر د شېر پورچاونۍ نه د وتلو فېصله وکړه. شاه شجاع ورته مشوره ورکړه چې په ژمي کې د کابل نه وتل ځان وژل دي نو ښه به دا وي چې هغوی په بالاحصار او د دې شا وخوا ځای پر ځای شي چې د جنګ په حالت کې خپله دفاع وکړې شي خو انګرېز جنرال د ده خبره و نه منله.
د انګرېز پوځ د جلال اباد په لاره د واورې او کړاونو له لاسه تري تم شو او په کلکتې او انګلستان کې یې واکمن هېښ کړل. شاه شجاع داسې فکر وکړو چې انګرېزانو ورسره دوکه کړې وه ځکه د ده د ژغورنې پړه هغوي په خپله غاړه اخیستې وه. هغه نهیلی او اندېښمن د باغیانو سره خبرې پیل کړې او د باغي افغانانو یو مشر امین الله خان لوګري ته خپل زوی شهزاده شاهپور ورواستو. نواب زمان خان ته یې د دوو لکو روپو او د وزارت ورکولو ژمنه وکړه.
د ۱۸۴۲ م د جنورۍ په ۱۷ نېټه په بالاحصار کې لوګري، زمان خان او شاه شجاع د یو تړون لپاره راټول شول او باچا په جلال اباد کې انګرېز قومندان "جارج میک ګرېګر" ته پیغام ورواستو چې هر څه د ده په کنټرول کې دي. خو تر بلې میاشتې د انګرېزانو یو پوځ د غڅ اخیستو لپاره غزني کې مېشت شو چې مشر یې جنرال ناټ و. شاه شجاع خپل زوی شهزاده تیمور ورواستو چې د نور جنګ مخه ونیسي. په دې ټولو حالاتو کې شاه زمان د خپل ورور سره په مصلحت او خبرو کې پوره ونډه اخیسته.
کله چې د انګرېز تازه پوځي کومک جلال اباد ته ورسېدو نو ملایانو د جهاد ناره پورته کړه. د مارچ په میاشت کې امین الله خان او نورو مشرانو شاه شجاع ته وویل چې دوی سره د انګرېز د ټکولو لپاره جلال اباد ته ورشي. د مارچ په ۱۸ نېټه امین الله خان لوګری او نوربارکزي بالاحصار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورغلل او شاه يې مجبور کړو چې د هغو اتو زرو لښکرو مشري دې
وکړي چې د کافرانو سره د جنګ او محمد اکبر خان سره د يو ځای کېدو
لپاره تيار شوی و. خو شاه شجاع اوس هم د باغيانو په نيت شکمن و ځکه
د ځان په اړه د خلکو د احساساتو نه خبر شوی و.
په هغه شپه نواب زمان خان خپله مېرمنه د يو پوښلي قران سره شاه شجاع
ته ورواستوله چې که هغه د جهاد لپاره راوتلو نو يوازې به يې نه پرېږدي.
په بله ورځ د " سياه سنګ " سره د شاه لپاره شاهي خېمه ودرول شوه خو
شجاع يوه اوونۍ نور هم د پېښور نه د انګرېز جنرال " پولک" د ځواب په
انتظار په بالاحصار کې پاتې شو چې د روغې لاره وباسي.
په ۳ اپرېل د جمعې په خطبه کې مير حاجي، د مير مسجدي ورور په هر
مسلمان جهاد فرض کړل او د جلال اباد په لار يې خپله خېمه ټک وهله.
په ۴ اپرېل شاه شجاع خپل زوی شاه پور په خپل غياب کې د کابل والي او
د امين الله خان لوګري زوی نصر الله د ده وزير وټاکل او د شپې خپل د
باور وړ څو کسانو سره په اس سپورسياه سنګ ته ورغلو.
هغه د ځان سره دوه لکه روپۍ او سردارانو ته د خلعت (د وياړ جامه)
ورکولو لپاره ارزښتناک شالونه وړي و. ده د لښکر د جوړښت او د
قومندانانو په اړه ځان خبر کړو، بيا ټول مشران ورته راټول شول او ده
ورته خطاب وکړو. مهمو کسانو ته يې د هغوی د رتبې او مقام په حساب
پېسې او د وياړ شالونه په اوږه وغوړول. تر ټولو زيات امين الله خان
لوګری يې ونازو چې اوس د ده با اعتباره سردار و. په حاضرو کسانو کې
نواب زمان خان او د ده زوی هم و خو هغوی ته يې شال او پېسې
ورنکړې.
شاه شجاع بېرته بالاحصار ته ولاړو چې د شاه زمان او د خپل ټبر د نورو
غړو سره خدای په اماني وکړي. ټولو ته يې ډاډ ورکړو چې په بله ورځ
سهار سياه سنګ ته د لښکر سره يو ځای کېږي.
شجاع خبر نه و چې د نواب زمان خان د امين الله لوګري سره ورانه وه او
هغه ته د شال ورکول به ورته څومره ګران تمام شي. د نواب زمان خان
مشر زوی چې په زېږېدو يې شاه شجاع ورته په خپله خله " شجاع الدولة "
نوم ورکړی و، هغه ځای کې ولاړ و او سخت په قهر و چې دوی د شال نه
ولې بې برخې پاتې شول. پلار ته يې وويل چې باچا زمونږ نوکران
ونازول او راته يې سپکاوی وکړو. که زما ګوتو له راغلو نو مړ به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړم. پلار ورته وویل چې اوس د دې خبرو وخت نه دی او مونږ د خپل دښمن انګرېز سره د جنګ لپاره یو ځای شوي و، خو شجاع الدولة د ځوانۍ په قهر اخته د باچا د وژلو پلان جوړ کړو، ده خپل پنځلس ملګري د دې کار لپاره ځان سره کړل.
بله ورځ سهار د صفرې د میاشتې په ۲۳ نېټه کله چې شاه شجاع د خپلو محافظانو په بدرګه یوې ډولۍ کې د سیاه سنګ لوري ته روان و نو شجاع الدولة او د ده ملګرو ورته لاره نیولې وه. هغوی ته یې د ودرېدو ویل نو باچا د ډولۍ پرده لیرې کړه او بهر یې وکتل چې څه کېسه وه. هماغه وخت وربانديې ډزې پیل شوې او شاه په یوې ګولۍ ولګېدو. هغه بهرټوپ کړل او یوې خوا ته یې منډه کړه چې ځان له هغه ځایه وباسي، حمله کونکو هم ډزې بندې کړې او په تېښته شول خو یو کس باچا ولیدو او شجاع الدولة ته یې په نښه کړو.
شجاع الدولة ورپسې وځغستل او په باچا پرېوتو، بیا یې وربانديې د توري ګوزارونه کول او ویل یې " اوس هغه خلعت راته راکړه" بیا د مړ باچا نه کالي (ګاڼې) وشوکول او د هغه مړی یې په راښکلو راښکلو یوې کندې کې غوزار کړو. خو په ۱۹۶۸ م کې د شاه زمان په اړه د افغانستان تاریخ لیکې" د ۱۲۵۸ قمري کال د صفرالمظفر د میاشتې په ۲۳ نېټه اعلی حضرت شاه شجاع د یو څو کسانو په ځانګړې توګه د مرادخانۍ د جعفر قزلباش له لورې په شهادت ورسېد." دا هغه تاریخ دی چې ښایي په لوې لاس د هغه وخت د باچا په امر ولیکل شو او هدف یې دا و چې یو پښتون شاه شجاع په قتل تورن نشي. د شاه شجاع سره د خلکو کرکه دومره زیاته وه چې سل کاله وروستو هم د افغانستان تاریخ لیکونکو د هغه د قبر په اړه څه نه ویل.
د بارکزیو په لښکر کې د شاه شجاع د وژنې خبر خپورشو او ملا میر حاجي خپله خېمه په دې اعلان لیرې کړه چې " لوی سردار خپل وړوکی سردار(مکناټین) سره یو ځای شو." نورو یو بل ته مبارکۍ ویلې چې انګرېزانو ته یې ماتې ورکړې وه. د شاه شجاع مړی ټوله ورځ هلته پروت و خو څو ملازمانو یې دا خپل فرض وګڼل چې د خپل بادار جنازه وکړي. د هغه مړی یې لومړی یو بې نومه جومات ته یوړو او بیا یې د تیمور شاه په مقبرې کې یې خاورې ته وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باچا يو ملازم شاهنواز چې دوه کسان يې ټپي کړي و، وليدل چې ميدان تش او محافظان هم د ځايه تښتېدلي و. د باچا سفري بکس ته د چا پام نه و شوی چې په کې پېسې او نور قيمتي شيان و. ده هغه بکس واخيستو، په منډه بالا حصار ته ولاړو او دا يې يو ځای پټ کړو چې وروستو به يې خرڅ کړي. هلته چا وليدو او هغه بکس هم د قاتل او د ده پلار نواب زمان خان لاس ته ورغلو. د درانيو د شاهي ټبر مشري اوس يو وارې بيا د شاه زمان په غاړه شوه، ده د خپلو مشاورينو سره د کورنۍ د ژغورلو او د ورور د قاتلانو نه د بدل اخيستو لپاره خبرې پيل کړې.
محمد اکبر خان تر جولای مياشتې په بالا حصار کې پاتې شاهي ټبر په خپل حال پرېښودو. شاه زمان ورسره قول کړی و چې دی به نور د افغانانو پر ضد جنګ نه کوي. خو هغه وخت د شاه شجاع د زوی شهزاده فتح جنګ يو ليک د محمد اکبر خان لاس ته ورغلو چې د انګرېزانو نه يې په کې مرسته غوښتې وه. اکبر خان په قهر شو او سمدلاسه يې د شاه زمان د نيولو او د بالا حصار تر ټولو لوړ منزل کې د بندي ساتلو امر وکړو.
ورپسې د شاهي حرم نه يې ټول قيمتي شيان واخيستل. اکبر خان غوښتل چې شاه زمان په درو ووهي او هرڅه ترې واخلي خو بيا يې د هغه سپينې ږيري ته وکتل او دا کار يې ونکړو.
په ۱۱ اکتوبر شهزاده فتح جنګ د واک نه لاس په سر شو او خپل ورور شاه پور يې د باچا په توګه بالا حصار کې پرېښودو. شاه زمان يو وارې بيا د اوږد سفر لپاره ځان تيار کړو او د ۱۸۴۲ م د اکتوبر په ۱۲ نېټه پر بالا حصار د برتانيا بيرغ ښکته کړی شو. د ډسمبر په مياشت کې د افغانستان دا شاهي کورنۍ او د دوی بد نصيبه باچا يو وارې بيا پنجاب ته ورسېدل. شاه زمان اوس د نړۍ نه زړه تور و او انګرېزانو نه يې غوښتنه وکړه چې ده ته د سرهند په زيارت کې د يو درويش په توګه د پاتې کېدو اجازه ورکړي خو د هغه دا غوښتنه د پټيالې راجا له خوا رد شوه. شاه زمان " په همدغه سيمه کې يوه مېاشت په ډېرې عاجزۍ او اطاعت سره تېره کړه. چې په پايله کې يې جناب ميان حفيظ الله صاحب مجددي قدس ته وصيت وکړ چې په هماغه ځای کې يې ښخ کړي."
په ۱۸۴۴ م کې شاه زمان د ۷۴ کلونو په عمر کې مړ شو او د ده د وصيت سره سم، د مجدد الف ثاني د زيارت سره نژدې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاه زمان لس زامن و، د ټولو نه مشر شهزاده حیدر د خپل پلار د واک پر وخت د کندهار والي او د شاه شجاع په حکومت کې کابل او د کندهار والي پاتې شوی و، دی به تل د خپل تره سره او هغه ته پټمن و، د ده یو زوی و.

د شاه د دریو زامنو، شهزاده قیصر، شهزاده ناصر او شهزاده عثمان مورغلزۍ وه. شهزاده قیصر د خپلو ورونو په پرتله زیرک او د توري خاوند و. دی د شاه محمود په واکمنۍ کې د خپل تربور شهزاده کامران له خوا ووژل شو، ده درې زامن لرل چې سلطان احمد، سلطان محمد او محمد علي نومېدل، درې واړه د خپل نیکه شاه زمان سره اوسېدل، شهزاده ناصر به د خپل تره شاه شجاع سره اوسېدو او د کندهار په جنګ کې ورسره مل و. د شاه شجاع د مړینې نه وروستو هغه د حکومت لپاره ډېره هڅه وکړه خو کامیابه نشو.

د شاه زمان یو بل زوی شهزاده منصور نومېدو چې د پلار په حکومت کې د کابل والي او د خپل تره شاه شجاع سره یې ورانه وه. د ده یو زوی شهزاده یعقوب د لودیانې نه مرور ولاړو او په ډېره اسمعیل خان کې د نواب پیر محمد سره مېشت شو. د ده مېرمنه د جلال خان سدوزي لور وه.

د شاه زمان په نورو زامنو کې شهزاده یونس او شهزاده محمد اکبر و. د دوی مور د نور محمد خان بابر (د تېمور شاه امین الملک) لور وه.

د شاه زمان د ټولو زامنو اولادونه و او زیات یې په لودیانې کې ورسره مېشت و. د ده بې شمېره لمسیان هم و چې د پاکستان د جوړېدو نه وروستو لاهور کې مېشت شول.

د شاه زمان په قبر یوه پخه کوټه جوړه شوې ده چې د مرمرو دروازه لري، د ده د مقبرې سره نژدې د یو دېوال په احاطه کې د دراني ټبر د نورو غړو قبرونه هم شته. د شاه شجاع د مېرمنې وفابېګم او د نورو شهزادګانو اولادونه هم دلته خښ دي. هغه خلک چې مجدد الف ثاني مقبرې ته ورځي، خبر نه وي چې د پونیو سره جوخت ښې لاس ته د افغانستان یو باچا خښ دی. د ۲۰۰۳ م د ډسمبر په وروستۍ نېټه په سخت باران کې زه د استاد عبدالخالق رشید سره امبالې ته په لار سرهند کې ایساره شوم.

د مجدد الف ثاني د زیارت نه وروستو مو د شاه زمان قبر ولیدو چې یوې وړې کوټې کې دننه جوړ و. د مزار د مرمرو دروازه او جالۍ یې ژیړ شوي و. د ده په قبر مو دعا وکړه او چې بهر راووتلو نو په لاره مې سوچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو، هغه چې د هند خاورې ته يې ځو وارې تکل وکړو، اخر هم دلته خاورې شو.



ليکواله په سر هند کې د شاه زمان مقبرې سره

## سرچينې

١. درته الزمان- تاريخ شاه زمان. مورخ عزيزالدين وکيلي پوپلزی. بيدگار چهلمين سال استرداد استقلال تاليف ١٣٣۵ طبع ١٣٣٧ ه ق. مطبعه دولتي دارالسلطنت کابل.
٢. صحيفه ټيپو سلطان. محمود بنگلوري. سنگ ميل خپروني لاهور ٢٠٠٧ م.
٣. افغانستان د داريوش نه تر امان الله خان - ډګر جنرال سر جارج ميکمن- جي. بيل اينډ سنز لندن، ١٩٢٩ م - ٧٩مخ .
۴. ټيپو سلطان، د ژوند تاريخ. محمد الياس ندوی. ٢٩٣- ٢٩۴- مخونه. د برتانيا د کتابتون ، هند افس ګټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. د اور وزرې- اې-پي-جې-عبدالکلام د ارون تیواړي پرملتیا. ۱۹۹۹- یونیورسټي پریس(هند) خپرونکی، اورینټ لانګمن پرایویټ لمیټیډ. ۲۴ مخ.
۶. تحریک ازادي کا امام ټیپو سلطان. محمود علي. ۲۰۰۵ م شوبي افسیټ پریس دریاګنج. نوي ډیلی. ۵ مخ.
۷. د افغانستان ببلیوګرافي، پوهاند عبد الحی حبیبي ( لومړی ټوک) د بیهقي کتاب خپرولو موسسه - کابل، د افغانستان جمهوریت، ۱۳۵۳ ش. ۱۶۹ مخ.
۸. د خپلواکۍ د لمر ځرک. د هوتکو د افغان دولت عروج. ۱۱۱۹ - ۱۱۵۱ ه ق. الحاج امان الله خان هوتک. ۱۳۶۸ ه ش.
۹. افغانستان او برتانوی هند. ( د ۱۷۹۳ نه ۱۹۰۷ ) د خارجي اړیکو یوه څیړنه. اصغر،ایچ،بلګرامي. سټرلنګ خپرندوی نوي ډیلي، ۱۹۷۲ م. ۱۴، ۱۵ مخونه
۱۰. د افغانستان سلطنت. یوه تاریخي خاکه. جارج پاسمین ټیټ. ۱۹۱۰ م ټایمز اف هند . سندهي خپرونې، فرید چیمبرز، کراچۍ ۱۹۷۳ م . ۹۴ نه ۱۰۰ مخونه.
۱۱. د ټیپو سلطان د لیکونو انګرېزي ژباړه. برټش کتابتون آرشیف. لندن
۱۲. د یو باچا ستنېدل. د افغانستان لپاره جنګ. ویلیم ډارلیمپل. بلومزبري لندن ۲۰۱۳ م
۱۳. د پښتنو تاریخ. قاضي عطاء الله خان. یونیورسټي بک اېجنسي، خیبر بازار پېښور. ۲۰۰۴ م.
۱۴. تاریخ افغانستان. بحواله تاریخ سدوزی. پروفیسر ډاکټرعاشق محمد خان دراني. وایبس چانسلر بهاو الدین ذکریا یونیورسټي، ملتان. سنګ میل پبلي کېشنز. لاهور. دا کتاب د فارسي د " تذکره الملوک" نه په اردو ژباړل شوی دی چې ۷ محرم الحرام ۱۲۵۱ هجري. مې ۱۸۳۵ ع کې په ملتان کې د شهزاده علي محمد خان خدکه سدوزي له خوا کښل شوی و.
۱۵. هرات، پښتانه او ستره لوبه. عبد الباري جهاني. ۱۳۷۸ ه ( ۱۹۹۹) کال. ساپي د پښتو د څېړنو او پراختیا مرکز. پېښور.
۱۶. احمد شاه دراني. ګنډا سنګ .۱۹۵۹. دویم چاپ ۱۹۸۱. طارق خپرونې اردوو بازار لاهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷.  د پاني پت وروستۍ جګړه. د کاشي راج يادښتونه. ۱۷۶۳ م،
انګرېزي ژباړه. کرنل براون. ۱۷۹۱ م. اکسفورډ يونيورسټي پرېس، بمبۍ.
۱۹۲۶ م. چاپ.
۱۸.  د هند پوځي تاريخ. سر جادو ناتهه سرکار. ايم. سي. سرکاراينډ
سنز، پرايويټ ليمټډ. کلکته،۱۲. ۱۹۶۰م.
۱۹.  حيات حافظ رحمت خان. سيد الطاف علي.نظامي پريس بک
ايجنسي. بدايون.
۲۰.  افغان مېړني او تاريخي پېښې.  احمد علي کهزاد. ژباړن: محمد
اصف صميم. دانش خپرندويه ټولنه.  ۲۰۰۱ م. ۱۰، ۱۹، ۳۴، مخونه.
۲۱.  د افغانانو تاريخ.  جنرال جې. پي. فېرير. ۱۸۴۵
انګرېزي ژباړه. کپتان ويليم جېسي.  ۱۸۵۸ م جان مرې لندن. نهم څپرکی.

مننه
د استاد عبد الخالق رشيد نه چې د لندن په ارشيف کې د ټيپو سلطان او د
شاه زمان د ليکونو لټولو مشوره يې راکړه.  د جعفر هاند نه چې د فارسي
متنونه يې راته په پښتو کې وژباړل او د پروف چارې يې تر سره کړې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**